شهامت

شپږم کال څلورمه گڼه، پرلیسي۲٦ گڼه،محرم الحرام ۱۴۳۴هق، نومبر۲۰۱۲م

دحماس دمحبوبیت رمز!!

دچا اعدام ؟؟ جنګي مجرمان که دازادی اتلان ؟!

اسلام امریکایي !!

دپیټراییس دژوند لیک سرپانه ! !

دامریکا ګورباچوف ! !

پرغزې داسرائیلو وحشي یرغل اوداسلامي حیرانوونکي چوپتیا

په امریکا !دکور دننه اوبیرون دزوال سېلۍ راولاړې !!

به دار آویختن مجاهد از اهداف مجاهد نه میکاهد

د حقیقت ورځ

چې پلو له مخه لیرې د هر چاشي
دا رنګینې جامې ځیرې د ریاشي

حقایق ټول رابهر شي له حجابه
پټ کارونه راڅر ګند زما او ستاشي

که رازونه که رمزونه که اسرار دي
لکه ستوري د اسمان هسې رسواشي

مقصدونه ، غرضونه ، عملونه
بې پردې او بې سیر ته برملا شي

د تلبیس ښایسته رنګونه ټول شي محوه
پخپل څېر ښکاره روا او ناروا شي

د هر چا زړه کې چې هر څه وي لیکلي
دي پخپله د هغه نقش ګویا شي

هغه دغه ښه او بد مخونه لوڅ کړي
توره شپه له منځه لاړه شي سبا شي

لیک د حق او حقیقت وي په هر لاس کې
د تیارو شپو واقعات واړه رڼا شي

ډېر ښایسته او سپین مخونه به تک تور وي
ډېر ښاغلي به په دغه ورځ سر تور وي

شهامت

علمي، كلتوري او اسلامي مجله

شپږم کال څلورمه گڼه، پرلپسې36 گڼه،محرم الحرام1434هق، نومبر2012 م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطیف عزم

حسن " علوي" بلال "وحید"

نعیم " صافی " عابد مجاهد

بیه :

یوه گڼه 20 افغانی او 30

کلداري په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

یادونه

شهامت له سرمقالې پر ته دنورو لیکنو
مسؤلیت په غاړه نه اخلی

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
1	سرلیکنه	1
2	به دار آویختن مجاهد ازاهداف مجاهد نه میکاهد	3
3	دحماس دمحبوبیت رمز	5
4	دچا اعدام ؟؟ جنګي مجرمان که دازادۍ اتلان	7
5	داوباما بری که دامریکا داخلاقی زوال نښه	12
6	دسنگانو له جهادی مسؤل قاری محمد طاهر سره مرکه...	15
7	دحدیث شریف دتدوین تاریخ	19
8	رسنیزه پروپاگنده ددښمن شومه هڅه	25
9	پر غزې دااسرائیلو وحشي یرغل اوداسلامي نړۍ	28
10	اسلامي هیوادو کې داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش.	33
11	اسلام امریکایی	39
12	گلورینې پانې	42
13	دطالب اتلانو اعدامونه که دسیاسی انتقام ثبوت	44
14	دامریکا گورباچوف	46
15	اسلام او سیاسي اندونه	48
16	الاکابر ، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ	53
17	روان جهاد دمنلي حقوقپوه له نظره	56
18	دفاریاب یوولس کلن جهادي جریان ته کتنه	58
19	قیام امام حسین برای تطبیق عدالت بود	63
20	دقمري کلیزې شرعی اهمیت	65
21	جنگهای صلیبی	67
22	دپیټریس دژوندلیک سرپانه	69
23	دصدقې فرصت	71
24	امریکا وشل کیږي	74
25	دسولې جعلي اونمایشي هڅې	78
26	خره پیا پیل مات کړ	80
27	دشهامت دارالافتاء	81

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

N سرمقاله

امریکا ضد ولولې!

داسلامي امت د قهرجن عکس العمل روحیه انځوروي!

دستمبر په یوولسمه امریکا کې داسلام دځو قسم خوړلو دښمنانو (عیسایانو اویهودانو) له لوري دبشریت دسترلارښوداو محسن حضرت محمد مصطفی(ﷺ) دمبارک اولوړ شان په اړه دبي ادبۍ فلم دجوړلو اوخپرولو وروسته دنړۍ په بېلا بېلو هیوادو کې دمسلمانانو له لوري په سترولاریونونو، تظاهراتو ،غونډو اوآن په وسلوالو بریدونو ددغه کرکجن جسارت دمحکومولو لړ کې قهرجن ایماني احساسات پاریدل درسول الله (ﷺ) سره دژور محبت اودنه تم کېدونکې فطري عشق ښکارندویه دي.

په ځانګړي توګه دمیړاني اوقرباني هیواد(افغانستان)کې د"شوراب پرپوځي هده"داسلامي امارت استشهادي مجاهدینو تندریز برید خو په ډاګه کړه چې مسلمانانو په تېره افغانانوته دخپل خواږه پیغمبر(ﷺ) په باب دسپکاوي اوبي ادبۍ یو کوچنی غونډي حرکت هم د زغم وړندی ،او دوئ به یې په اړه هرومرو غبرګ اخلي! اوداځکه درسول الله (ﷺ) دمبارک شخصیت اوشان دفاع دهرمسلمان دایمان جز اوبرخه ده، اوتاریخ په دي شاهد دی چې مسلمانان په دي اړه نهایتي حساس اوبیداردي.

دنړۍ تاریخ پاڼې د پخواني صلیبي یرغل په وړاندې دمسلمانانو داتل اوقهرمان قاید "سلطان صلاح الدین ایوبي" (رحمه الله)غونډې ځېړو دښه سلوک اوعاطفي ددي کارنامي ښېلګه هم نلري "چې کله د صلیبي سرلښکر او دبر تیاني له پاچا(شیر دل رچرډ) خبر شو چې هغه دده خلاف جنګ کې په یوه یې تربیته اس سورلي کوي!اسلاسي یې ور ته یوښه روزل شوی اس واستاوه! "

هم داسي دتاریخ په حافظه کې داهم شته "چې کله یوه صلیبي جنګ سالار(ریجي نالډ) درسول الله (ﷺ) په شان کې جسارت وکړ، په خبریدوېې ایوبي سلطان سوګندوخوړچې : خامخابه دی پخپل لاس د ملعون (ریجي نالډ) سر قلموي ! کله چې په جنګ کې ریجې نالډ ور ته ژوندی په لاس ورغی، لومړی یې د اسلامي لاښوونو سره سم ور ته داسلام قبلولو بلنه ور کړه !داچې ملعون یې بلنه ونه منله بیا یې پخپل لاس تري سر قلم کړ!

دیته ور ته داسلامي تاریخ په ټولو پېړیو کې که هغه داموییانو وه ، که دعباسیانو اوعثمانیانو په ټولو کې اسلامي واکمنو درسول الله() په شان کې په دا ډول حرکتونو چوپتیا نده غوره کړي حتی هغه مهال چې ترک عثماني خلافت دزوال اوپای شیبې وي درسول الله(په شان کې دبې ادبه حرکت په غبرګون کې سلطان عبدالحمید توره له تیکې وایسته اودهغه پر ضدیې جنګ اعلان کړ!!

یواځې نن اسلام دښمنو عناصرو دي مردود عمل ته لاسونه ندي غځولي ،بلکې دتېروصلیبي جنګونو له وخته یې په دغسي کرکجنو کړووړو سره دوامدار دمسلمانانو زړونه زخمي کړي دي ، دمسلمانانو دیني ولولي اوجذبات یې مجروح کړي دي ، خو دیولسم ستمبر وروسته یې دي شیطاني دسیسي ته له ځنډپر ته دیوه متواتر او سنجول شوي پلان بڼه ور کړي ده !

دمعاصري ټیکنالوژۍ دلاري دبیان ازادۍ په نوم دمسلمانانو په زخمونو مالګي شیندي ، غواړي ځوپه دغسي ابلیسانه ګامونو اخیستو داسلامي امت دیني ولولو اواحساساتو ته ټکان ور کړي

لنده داچې په اسلامي نړۍ کې ددغه شرمیدلي فلم جوړولوپه خلاف دراپاریدلیو قهرجنو اوانقلابي احساساتو غورځنګ جوړونکي ځپې دامریکا اوغرب داجتماعي ، سیاسي ، اقتصادي اوپوځي پلانونو پر ضد دمسلمانانو دننه دیوه پراخ عکس العمل روحیه عکاسي کوي ،خو ښکاري چې ددي ټولو مسؤوله اوعامله امریکاده ، ولي په نړۍ کې چې دځومره بشري ناخوالو ،بوږنوونکو ناورینونو،وحشیانه جنګونو لوخړي پورته کېږي دهغوټولواورونه دامریکادلیونیو واکمنو اوجنوني پادریانو لخواه بل شوي دي ،په راتلونکې کې که نړۍ دهر لوی بشري ناورین اوخطر سره مخ کېدای شي دهغه تر شا به دامریکا متعصب واکمن اوجنوني پادریان لاس لري، او په دي به نه یواځې نړیوال په یوه ستر ازمون واووړي بلکې دامریکاخپله دکبرمانۍ به هم د دي اور په لمبو کې شنه لوخړه شي !!

هلته چې اصول او معيارونه

ډېر ځل قرباني شي

خپلواک ....

په کوم هيواد يا ټولنه کې چې د اصولو، قوانينو اومعيارونو ځای مصلحتونه ، لنډمهاله، بيړني او مؤقتي پرېکړې ونيسي ، نو هلته هرڅه فرضي اوغير حقيقي بڼه خپله کړي، دغه حالت اکثره په يرغمل شويو هيوادونو کې ډېر غلګر وله ځوا رامنځته کېږي ، ترڅو خپلو ناوړه اهدافو ته دمصنوعي مشروعيت ورکولو لپاره ديوهيواد بنسټيز ارزښتونه په بدله بڼه وکاروي .

زموږ په هيواد کې چې له يوې ځوا هره ورځ يو درجن جنرالان ، ډګروالان، ظابطان دفارمي چرګوړو په څېر پرته له کوم اصولي پروس ډېر اومعيارنه ميدان ته راوزي، له بلې ځوا په سلګونو مصلحتي وزيران، معينان، واليان، ولسوالان، او انتسابي وکيلان هم له چاپېټ نه دي ، چې دانتخاب باعث اوسرچينه يې هم دکورنيو ادارو پرځای بهرنۍ اداري دي، حتی داسې جنرالان اوولسوالان هم شته چې ليک لوست هم نشي کولی اودامضاء پرځای ګوته لګوي !!!

ديوچا دسواد کچه چې ګوته لګول وي اودعمر کچه يې لکړه لګول وي ، نودداسې کس دپوځي جنرالی مثال ښايي دنړۍ پرمخ بل ځای ونه موندل شي .

رحيم وردګ چې د " تبليغاتو " په اصطلاح تقاضاته هم پخپله نشوای تلی، بل ځوک ورسره مرسته کو ي، ځو ددفاع وزارت پرڅوکۍ يې بيا هم ځان وړ باله ، ښايي هغه پوهيده چې دلته دفاع پخپله حقيقي بڼه نه ده، ځکه چې بمبارونه، چاپې، وژل او ځګول ټول خارجي ميلمانه ! کوي، نودلته ددفاع وزير په توګه يواځې يوتش سمبول ته اړتياوه، او ددې لپاره همداسې ضعيف اوبې ځوا که شخص مناسب و، چې له خپلې څوکۍ نه هم نشوای خوځېدلی، بلکې استعفاته هم نورو هڅاوه، کنه دی ورباندې بيا هم ناست و .

بل لورې ته علمی اداري اوښوونيز بهير له تاريخي ګواښ او مجهول راتلونکي سره مخ دی ؛ علمی رتبې او اسناد په اعزازي اوجعلي بڼو له ډېرو بې سوادانو علمي کادرونه جوړ کړي، چې په حقيقت کې دهغو ځوانو استعدادونو دکلونو زده کړو اوعلمي څېړنو سپکاوی دی، چې همدې مراتبو ته په حقيقي بڼه درسېدو لپاره يې کوي .

سياسي مبص ر، دسيمې کارپوه، او دچارو کارپوه ! داخو هغه مراتب دي چې دلته هيڅ ډول معيار نلري، بلکې

زمانی که امریکا دانست که نه میتواند با اسلام دست وپنجه نرم کند ، اکنون به آزار وتوهین مسلمانان دست انداخته وبه وسیله ء عمال استخدام شده خود افعال را انجام می دهد که معنویات مسلمانان را میتواند مجروح سازد ، دست به ساختن کارتون به نام کارتون پیامبر گرامی اسلام صلی الله علیه وسلم ، فلم توهین آمیز به پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم ، آتش زدن به قرآن کریم ، استخدام مؤسسات تبشری وعیسوی در جوامع اسلام ی به گونه ء گسترده وغیره حرکات تکان دهنده مثال های خوبی اند ، هدف کنونی از این اقدامات آزمون مسلمانه ا است که تا چه حد آنها هنوز هم پلبند به ایدیالوژی اسلامی خود هستند ، کشورها وملت های که در این مورد کم می اندیشند ، کم تأثیرشان میدهند ، یا اصلا باکی نه میکنند ، امریکا متیقین میشود که این ملت ها استحمار شده اند ، دیگر تهدید عملی برای منافع امریکا در جهان اسلام به نام اسلام و جهاد نیستند ، برعکس کشورها وملت های که هنوز هم حب مقدسات دینی را دنبال میکنند ، عکس العمل جدی وتند را در پی بی حرمتی های امریکا علیه مقدسات اسلامی ابراز میدارند ، امریکا نتیجه میگیرد که این ملت ها هنوز هم باید تحت کار و فشار نگهداری شوند ، درآن جوامع باید هنوز هم فساد اخلاقی زرع گردد ، مؤسسات تبشری ویا گروهای مدنی !!! که زاده پلان مهم اسرائیل علیه اندیشه اسلامی درجهان است ، در تخریب معنویا ت این ملل باید هنوز هم فعالیت کنن د ، بوجه هنگفت را باید به مصرف رسانند تا سیستم تعلیمی این کشورها ی مذهب گرا ، باید به نام تجدد و مدرنه ساختن تحریف شود ، درسها ومعلومات دینی باید در همه مکاتب وکانون ها ی تعلیمی کاسته شود ، صبغه اصلی آن باید تغیرداده شود ، به مسائل فرعی وسطحی باید اکتفاصورت گیرد ، مسائل ایدیولوژیک ا سلامی باید حذف شود ، تاباشد به ا ین گونه به دها سال بعد این ملت ها روحیه کنونی را در برابو مقدسات خویش نه داشته باشند ، ا ین پلان مستقیما ازطرف اسرائیل طرحه ریزي میشود و به بازوی امریکا ، یا کشور متحد امریکا به اجرا گذاشته میشود.

مکلفیت های ما مسلمانان در ضمن انزجار جدی وعکس العمل لازم نسبت به قضیه ء باید این هم باشد که فاکتورها ، علل و اسباب این حرکات را تحقیق وتدقیق نموده پلان های مناسب را درمقابله به این نوع حرکات روی دست گیریم ، در این زمینه سیستم تعلیمی کشورها وملت های اسلامی باید توسط اشخاص معروف ودانشمندان باعمل اسلامی تحت برسی قرار گیرد ، ارگانهای تعلیمي اصول ومبادی اسلامی را هم در تیوري وهم در عمل اهمیت دهند ، جوانان مسلمان باید در ضمن درک وحساسیت فعلی اسلامی خود هنوز هم متوجه به دست آوردن معلومات کافی در مورد اسلام شوند ، آنها علم ودانش اسلامی را باید نسبت به سائر معلوماتها ترجیح دهند و ازکانال های واقعا روشن اسلامی معلومات دینی خود را کافی سازند ، تابتوانیم با دسیسهای دشمن واقعا استاده گی کنیم وحین اجرای برنامه های کفری امریکا ، افراد نو جوان مسلمان باید بخاطر مقابله به آن آراسته باشیم ، تا نشو د خدا نخواسته به نام مدرن شدن کشور ارزش های والای اسلامی را از دست دهیم و دردام های خبیث غرب گیر مانیم.

سیمیزي رسنۍ یې هره ورځ نوي نوي راټوکولی شي .

هسې هم دراډیو   ی اوتلویزوني شبکو دهجومي دبرېښت دسواد دټیټې کچې اوباندني یرغل له امله په رښتیني بڼه ددې ډول خبرو موندنه اویا   زغمل گران شوي ، اورسنۍ په دې اړه له قحط الرجال سره مخ دي ، ځکه خو همدا کوښښ کوي چې دکوڅې اوبازار له خلکو هم همدا کار واخلي اوپخپله خوښه دخپل ضرورت سره سم په بېړنۍ توگه ځان ته کارپوهان ایجاد کړي، ترڅویې دخپلو اهدافو په تائیدیې وغږوي .

څو ورځې وړاندې همداسې یوخبرنیز گرد   ی مېز ته غوږ وم ، چې گډونوال یې ناپېژاند او فرضي کارپوهان وو ، طاقت صیب، جرئت صیب، سرعت صیب .. همداسې هم   ردیفه نومان وو !!!

دخبرو ټول جریان ، اټکلونه، گومانونه او متلونه وو، هیڅ ژوره نقطه، کره شواهد او معقول وړاندیز چې له یو کارپوه سره ښايي په گوته نشول   ، ددوی ترمنځ دبحث په اوږدو کې راته جوته شوه   ، چې دگردې مېز له دریو واړو نه یې دوه دپخواني کمونستي رژیم پوځي افسران پاتې شوي ، یوه یې په خبرو کې راټوپ کړل : " ده میلون ډالر به مابتې، ما کلګي آی اس آی را میخرم " ماله ځانه سره ووېل ته پخپله په زرډالر خرڅ شوی یې ! نوبل به بیا څنګه په لس میلونه رانیسې ؟

له تاسره دخپلې وطن دوستۍ څه ثبوت دی ؟ پرون چې په روبل خرڅ شوې وې، نن په ډالرو، سبا په کلدارو هم خرڅېدای شې !!!

ای کاش ! تادملی احساس له مخې دملی دفاع په نیت داسې هوډ لرلی ، ته خوداهرڅه دباندنیو یرغلگرو دچوپړ په   نیت وایې ، او څوک چې ته په پیسواخیستل غواړې، هغه ستاله مالي محسن سره پاتېر شیبې لری اوته

یواځې دڅو پیسو په بدل کې یوټیټ رتبه اجیرېې، نودنړۍ په کوم و اصولو به اجیر ته څوک دومره اجازه ورکړي ؟؟؟

پرون داهیواد روسانو دجګړې به ډګر بدل کړي و، چې همدغه کمونستي جنرلان ویې په چوپړ کې لاسونه ترڅنګلو دخپل ولس په وینو ولړل او نن امریکا اودناټو بلاک افغانستان دجګړې   په ډګر بدل کړ   ی، اودخپل ناوړه هدف اواستعمار دبقالپاره یې همداسې مصنوعي خبرې په هرډګر کې راوړاندې کړې ، ترڅو خپلو ارادو اوپلانونو ته افغاني بڼه ورکړي اودافغانانو ټولنیز او بنسټیز ارزښتونه دځان په گټه دخپلو استعماري اهدافو لپاره تحریف کړي ترڅو دخپلې منحوسې خبرې لپاره ورنه دسنګار کار واخلي .

ځکه خو نن دلته هرډول منل شوي معیارونه ، اصول اوقوانین بې ارزښته دي .

هو ! مدني آقا !

موږ دعشق او وفا حق نه دی اداکړی

شهيد زوی ....

دخوښيو په څېر په ژوند کې څنې غمونه هم داسې وي چې دسړي دزړه دنياګۍ بېخي بدله کړي ، دا حساساتو دسيلاب لوېې څپې يې واخلي او پرې دفکرونو او سوچونو يوداسی هجوم وي چې داظهار لپاره يې الفاظ نه مومي اوچې کله الفاظ وموندل شي بيا معاني بغاوت وکړي .

دزړه دا غمونه په پرهرونوبدل شي او پرهرونه چې جوړ شي نو ګوګل سوري شي .

د کوچنيتوب دبې شعورۍ دحالت نه دراوتلو او په شعوري ژوند کې ايله دقدم اېښودلو نه پس دهجرت په ديار اودمسافرۍ ژوند کې د پلار دشفقت دسيوري نه بې برخې کېدل زما لپاره ډېرلوی غم خبره وه خوچې دهجرت په کورکې له هماغه کوچنيتوب نه دشهادت دلوړ مقام نه خبروو او د پلار مرګ مو دروسانو سره په مخامخ جنګ کې دشهادت مرګ و نوددې د پلار دفراق سره ددې سترفضيلت ملتيا مو را باندې دا غم تر ډېره حده سپک کړی و.

په تازه شپوږ ځوکې به موچې مور په ژړا ولېدلو نو راته به يې دترحم او شفقت نه په ډکو الفاظو وويل ،، تاسو مود پلار پسې ولې ژاړئ حال داچې پلار موجهاد ته دروانېدو په ورځ دسهار په لمانځه کې دصف مخې ته ودريدلی و او حاضرو مسلمانانو ته يې ويلې و چې راته ښېنه وکړئ ! او دعاراته وکړئ چې الله تعالی مې شهادت په نصيب کړي ،،

دمورداخبره به زموږ لپاره ددومره سترې تسلی باعث شوه چې بېخي به مو ددې ستر نعمت نه دبې برخی کېدلوغم هېر کړو او دا خبره به ددومره ستر اطمينان او تسليت باعث شوه چې د پلار دجدايي دطبعي غم ترڅنګ به موږ تر يو حده خوښي هم محسوسوله .

نږی ته دستر ګوغړولو نه پس چې څه په ښوېدو پوی شوی وم نو همدا ديتيم کېدلوغم مې تر ټولو ستر غم و ، ژوندچې يکې خوښئ اوغمونه ملګري وي ديتيم کېدلو نه پس مو يکې نور غمونه او دردونه هم وليدل چې ديونه هېرېدونکي بل غم لنډه يادونه به هم تاسې محترمولوستوالو ته وکړم.

وشوه داسې چې کابو ٨ کلونه وړاندې رانه د هېواد د ختيځې برخې ددښمن د نفوذ په يو کلي کې ٢ ميلمانه مجاهدين ورک شول دا زما لپاره ډېره د ستر غم پېښه وه ځکه چې هغوئ دواړه دمحلي ژبوسره نابلده وو ، خوندې ځای ته دتللو لار نه وه ور معلومه ، دواړه ډېر دکارتنان وو اوچې ما راوستې وو نو غم يې هم تر ټولو زيات زما په سر و ، ددوئ پسې دلټون په

۳ شپو او ورځو کې به شايدما ۳ ساعته خوب هم نه وي کړی خو چې دورکېدو په ۳ يمه ورځ د دواړو د پيداکېدو او يو خوندي ځای ته يې درسېدوزېری راباندې وشو نو دومره خوشاله شوم چې شايد په خپل عمر کې به په بل يو شي هم دومره نه يم خوشاله شوی .

نوتر کومه چې ماته يادشي څه په پورته يادوشوو دوه پيښوکې دزيات غم ښکار وم خو ړومبي سره يو اطيمنان و او دوهم ژر لرې شوی و .

هو ! د کابل او کندهار سقوط او پاکې خاورې ته مو دډېرو شومو پلانونو سره دنا پاکو صليبيانو راښکته کېدل او له لورې يې زموږ دگران هېواد اشغال داسې پېښه وه چې دبا احساسه ټولو مسلمانانو په څېرڅه هم خوراډېر غمجن وم ، داسمه ده چې داغم عام او وايې چې البلية اذا عمت سهلت (مصيبت چې عام شي نو آسان شي) خو پرموږ داغم څکه نه و آسان چې داډېر ستراو جورو ، د اسلامي حاکميت دعظيم نعمت نه بې برخې کېدل ، دوحشي او خونخوار دښمن په لاس دلسګونو زرو ځوانانو شهادت او اسارت ، دهېواد داوږد اشغال وېره ، ددښمن داوږد مهالو ، شومو او خطرناکو پلانونود پلي کېدو خوف ، دخپل دين او کلتور نه دخپل ملت دلرې کېدو فکر ، داشغالګر صليبي دښمن سره دهېواد دوژدان پلورنکو او خاينوعناصرو يوځای کېدل او داسلامي نړۍ پرهېوادونو دمسلطو حاکمانوجفااو زموږ په مقابل کې زموږ ددښمن سره ودرېدل او ورته نور اسباب هغه څه ول چې زموږ درد او غم پرې ډېر ستراو جور شوی و ، هر لوری ما يوسي وه او دغم دسپکوالي لپاره هيڅ نه تر سترګوکېدل .

له بده مرغه چې دهغه غم نښې لا پاتې وې ، ټپونه نه وو رغېدلي او دردونه لانه وو ټکورشوي چې په صليبي نړۍ کې داسلام سره دنړيوالو دنفرت پيداکولو ، دمسلمانانو دبدنامولو ، په نړۍ او خصوصا لويديځ کې داسلام دتېزخپراوي دمخنيوي ، په نړۍ کې داسلامي شعايرو دبې ارزښته کولو ، دخپلومقدساتوسره دمسلمانانو دعقيدت راکمولو ، مسلمانانو ته دلوی درد رسولو ، په رواني لحاظ يې دمکمل مفلوجولو او ورباندې دخپلو زړونو ديخولو لپاره صليبي نړۍ ديو سنجول شوي پلان له مخې دستر الهي کتاب قرآن عظيم الشان او دستر پيغمبر حضرت محمدصلی الله عليه وسلم او نورواسلامي مقدساتو ته دسپکاوي يوه نه تم کېدونکې لړۍ پيل کړه .

شروع يې له ګونتنامو ، ابوغريب او بګرام زندانونونه وشوه ، دلته بيا بيا دمسلمانو زندانيانو ترمخه دقرآنکريم سپکاوی وشو ، بيا يې قصداً خبرونه خپاره شول او دخلکو په سترګوکې دخاروا چولو لپاره دامريکا له لورې ايله په همدومره ويلو بسياوشوه چې داد فوځيانو شخصي عمل دی چې امريکادولت يې نه تائيدوي .

دنړۍ دمسلمانانو له لورې چې کوم داسې عکس العمل رامخې ته نه شو چې لويديځ ودردوي نو يو قدم نور وړاندې ولاړل دډنمارک نه درسول الله صلی الله عليه وسلم دشان دسپکاوي په اراده ړومبی دډنمارک او بيادلسګونو نورولويديځ هېوادونو نه دکارتونونو دردونکي اشاعت رامخې ته شو ، دهالنډ دبدبختو يهودانو په واسطه داسلام دستر پيغمبر په اړه داهانت (نعوذبالله من ذلک) نه ډک فلم جوړ او خپورشو ، خو چې په ټولېزه توګه اسلامي نړۍ هغسې عکس العمل ښکاره نکړ څرنګه چې پکاروو نو د ملعون امريکا يې پادري ټيري جونز په شکل کې غربي نړۍ او په سرکې يې امريکا تېرکال رامخې ته شوه ، ټوله اسلامي نړۍ يې چيلنج کړه دقرآنکريم سوځولو دمقابلي اعلان يې وکړ ټوله اسلامي نړۍ يې چيلنج او ويې ويل چې دخپل مقدس کتاب ساتنه کولی شي راميدان ته دې شي او بيا يې ديوې ډلې پادريانو او لسګونو جورنالستانو په شتون کې دقرآنکريم سوځولو ناپاکه او دوحشت نه ډک عمل ترسره کړه .

مسلمانو ولسونو ددې ناپاکه عمل پرضد خپله کرکه ښه ډېره ښکاره کړه ، دعامومسلمانانوله لورې ښه سترستر لاريونونه وشول چې پکې ګڼ شمېر مسلمانان شهيدان او ټپيان شول .

دخپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم په مينه ددوئ دا قرباني او داحساساتو ښکاره کول دستاينې او قدر وړدي خو چې داسلامي هېوادونو لاسپوځو دولتونه په دې اړه دخوراډېرې لوېې بې حسۍ ښکار وو او دجرم نه ډک سکوت يې غوره کړی وو نو په امريکا او نورلويديځ نه مناسب فشارونه وارد شول او نه مسلمانان دداسې پېښوديارا پيښېدو نه مطمئن شول .

امريکا او ټول لويديځ چې ځان دبشر دحقوقودساتني سالارګڼي دعواکوي چې له مذهبي ، نژادي او ژبني تو پير پرته دلته دهر انسان حقوق خوندي دي او هيڅوک دا اجازه نه لري چې بل ته په يو ډول دډولونواذيت اوتکليف ورسوي.

هو! دلته دانسانانو حقوق خوندي دي اوتکليف رسول ورته جرم دی خودهغه انسانانوچې لويديځ يې انسانان ګڼي، په نړۍ کې دځان محروم اومظلوم ثابتولو، ځانته دنورو ملتونو دحمايت او خواخوږۍ راجلبولو،دفلسطين دخاورې غصبولو او پکې دغاصب يهودي دولت درامنځته کولو په موخه چې سراسر په دروغو ولاړه دهولوکاسټ (دجرمني نازيانو په لاس د ۶ ميليونونه دزياتو يهودوانو وژل کېدو) خبره چې يهودومشهوره کړې نو ورته انکار يا پدې اړه سوال را پوته کول خوډېره لرې خبره ده، د ۶ ميليونو دشمېر په هکله دمبالغې شک ښکاره کول هم جرم ګڼل کېږي، نو هولو کاسټ په ټول لويديځ کې دشجرهٔ ممنوعه حيثيت لري، په هکله يې خوله پرانستل دومره لوی جر م ګڼل کېږي چې پرې د ۶مياشتو نه تر ۳ کلونو پورې دقيدسزا ورکول کېدای شي، دهولو کاسټ نه انکا ر يا يې په اړه سوال را پورته کول څکه لوی جرم ګڼل کېږي چې يهودانوته پرې رواني تکليف رسيږي او ورباندې خفه کېږي.

کيټ مډلټن چې يو عادي برتانوۍ پېغله وه پرشهزاده ويليم دواده کېدو نه پس هغه شهزادګۍ او دشاهي کورنۍ سره دتړاو له امله دبرتانې يوه محترمه مېرمن وګرځېده، ځوورځې وړاندې چې دفرانسې په يو هوټل کې هغه په نيمه بربنډ حالت کې لېدل شوې او يو فرانسوي عکاس يې عکسونه ويستلي او بيا په يوې فرانسوي اوونيزه کې خپاره شوي وو نو دشهزادګۍ په دې لړ يې توقيرۍ دبرتانې مطبوعاتو دنيا په سر راواخسته يواځې عکاس او داوونيزې مسؤلين پدې اړه پړه ونه بلل شول بلکې برتانوي رسنيوددې عمل پړه په فرانسوي ولس او دولت دواړو ورواچوله

((دميل آن لاين)) نومې مشهور برتانوي اخبار په يوې لېکنې کې خوتردې پورې راغلي وچې ،،دقانون په زور ددې عکسونو دخپراوي دمخنيوي خبرې بايد موږ پرېږدو دفرانسې پرضد بايد جنګ اعلان کړو ،،

دبرتانې دولت دفرانسې نه وغوښتل چې ددې عکسونو په اشاعت دې بنديز ولګول شي څکه چې پدې سره کيټ مډلټن ته تکليف رسيږي اوشايد رواني حالت يې خراب شي.

دبرتانې ددولت د غوښتنې سره سم دفرانسې محاکمو نه يواځې ددې عکسونو په اشاعت بنديز ولګاوه بلکې د هغه اوونيزې خرڅلاويې هم منع کړ چې په کومه کې داعکسونه خپاره شوي وو.

دبرتانې دشاهي کورنۍ دمېرمنو او سړو د بداخلاقيوو داستانونه مشهوردې چې ددې داستانونواوددوئ بربنډ کلتورته په پام سره ديو عکس خپرېدل چندان دتشويش وړ خبره نده خوچې دنوموړې شهزادګۍ طبيعت پرې خرابېدلو نو دبيان دازادۍ فرانسوي نقيبانو دا مسئله ښه جدي ونيوله او جدي اقدام يې وکړ څکه چې دبرتانې په څېر يو مهم او خواکمن هېواد غوښتنه جدي وه خو داسلامي نړۍ په ۵۷ هېوادونو کې چې يواځې دمسلمانو ولسونو لاريونونه دي دمرده باداوزنده باد نارې دي او ددولتونو له لورې يې نه دامريکا سره ديپلوماتيکې اړيکې پرې کېږي، نه سوداګريزتړونونه لغوه کېږي، نه سوداګريز روابط متوقف کېږي اونه ترې دمسلمانانو دمقدساتو دساتنې جدي غوښتنه کېږي نو امريکا او نورلويديځ دفشار احساس نه کوي او په امريکا کې زموږ د خورانو دستر کتاب قرآن عظيم الشان دسوځولو اعلانونه کېږي دنړۍ مسلمانانو ته چيلنجونه ورکول کېږي او بيا د امريکا بدبخته پادري ټيري جونز ديوډلې پادريانو سره يوځای د لسګونو جورنالستانو په شتون کې قرآن عظيم الشان سوځوي او چې دمسلمانانو له لورې مناسب عکس العمل نه رامخې ته کېږي نو کابو کال پس دکوښښونو دسردار، په مخلوق کې ترټولو دستر ذات، دعالمينو درحمت او دمسلمانانو دمحبت او عقيدت دهغه محور اومرکز سپکاوی کېږي چې مسلمانان يې محبت دايمان جزبولي او په دې اړه يې حساسيت نړۍ ته ډېر ښه معلو ميږي.

نو ديوې برتانوۍ شهزادګۍ دلږ طبيعت دخرابېدلو غم شته خو دلته دنړۍ د ۱۵ سوه ميليونو مسلمانانو دسخت غم غصې، خفګان پروانه ساتل کېږي، يقينا چه دمسلمانانو دمحبت او عقيدت پدې مرکز حمله مسلمانانو ته په ډېرسپک نظر کتل دي او څومره چې مسلمانان کمزوري دي د دهغې نه زيات کمزوري ګڼل شويدي.

که دلويديځ دادومره ستره بشردښمني اوبيا هم دبشردوستۍ دمنافقت نه ډکې نارې ډېرې حيرانونکې دي نو په ټوليزه توګه داسلامي نړۍ دومره دضعف حالت چې دخپل عظيم اسماني کتاب اوستر پيغمبر دناموس ساتنه نه شي کولای او نه ديو بدبخته دااقدام مخنيوی کولای شي ډېردردونکی دی، يو زموږ هغه حالت وچې زموږ دمشرانو دنوم په اورېدلو

به دکفر مانی لړیزدلې خونن زموږ داحالت دی چې پر اسلامی نړۍ مسلطو حاکمانو ته څوک دسېلاب دزګ نه هم په کم نظر ګوري اومتأسفانه چې همدا حاکمان دکفارو په مقابل کې دمسلمانانودحقیقي څواک درامخې ته کېدو په وړاندې ستر دېوالونه ګرځېدلي دي .

نوهر مسلمان چې په زړه کې یې ډېر کمزوری ایمان هم وي دې حالت ډېر دردولی . اودهر با احساسه مسلمان درداوغم خودومره جوړ دی چې یې رواني حالت وربدل کړی دی اوچې عادي حالت ته دخپل رواني کیفیت دراوستلو هرڅومره هڅې کوي نو یکې ناکامېږي .

څه ځانته تسلیت ورکول پیل کړم اوځان سره ووایم چې غم لویول خوځه کمال نه دی ، غټ غم شاته کول ،دغم اسباب له منځه وړل ، کار کول اومخ په وړاندې تلل کمال دی خوسمدستي مې خپل وژدان ملامت کړي اوراته وایې چې داغم خوداهل ، مال یاځان دفوت کېدوعادي غم نه دی بلکې مدني آقاته دسپکاوي اودرسالت دناموس دساتنې غم دی چې

شتون یې دایمان نښه اودالله نعمت دی اوکه خدای مکړه نه وي نو بیا ایمان له کومه ؟

دسپکاوي داوسنۍ پېښې له امله دامریکا اونور لویدیځ په مقابل کې دمسلمانو ولسونو له لورې دکرکې اظهار ،لاریونونه اوپکې دمسلمانانو قربانۍ هم زما رامخې ته شي ، راته داطمینان راکولو هڅه کوي چې ګوندې مسلمانانودېرڅه وکړل ، ماته ډېر للوللووا یې خو چې دامام مالک داقول مې رامخې ته شي چې ،، مابقاءالامة بعدشتم نبیها،، (امت دخپل پیغمبر دسپکاوي نه پس دبقاء څه جواز اوحق لري)نودا هڅه هم بریالۍ نه شي اوله ځانه سره ووایم چې هو! مدني آقا ! موږ دعشق او وفا حق نه دی اداکړی، ستا دسپکاوي نه پس هم باقي یو او دځوور ځو لاریونونو نه پس هاغه دې خپل عادي ژوند ته بېرته راګرځېدلي یو ، دابیا هغه وخت وي چې څه وایم داوښکو پرځای مې له سترګو وینې توی کړې وای .

په همدې حالت کې یم چې دا پوښتنه رامخې ته شي : موږ ولې ددومره ستر ذلت سره مخامخ شوي یو او څرنګه به ترې ووځو؟

بس ددې سوال را پیداکېدو سره سم درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک خیال زما زړه ته راشي ورپسې سمدستي داسې محسوسه کړم

لکه چې څوک راته په غوږ کې دراز خبره کوي چې متوجې شم او غوږ کېږدم نوددرداومتانت نه ډک یوزړه رابښکونکی آواز وچې درسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث : اذاترکتم الجهاد سلط الله علیکم الذلة ،، یې راته بیابیا ویلو.

څه که ددې الفاظوپه اوریدلوپه فکر کې پرېوځم نوتر یوحده مطمئن هم شم او وایم چې که دذلت په سبب پوه شوم نوورسره یې ددې ذلت علاج هم رامعلوم شو چې له ښکه مرغه اوس پرې شروع هم شویده .

ددنیوي ژوند خوندونه دزندګۍ مقصد ګرځول ، ددښمن په مقابل کې نه تیاری او دجهاد په څېر دهغه فریضي لرې والی چې ددښمن ملاماتوي او قصرونه یې لړزوي دذلت سبب دی چې خوشبختانه اوس دامت اتلو شاه زلمو ددې هرڅه درک کړی څکه خو یې دسېلاب په څیر دټولوتوپیرونو پرته دې مقدسې فریضي ته مخه کړیده ، په کمو وسایلو یې دښمن دذلت نه ډکې ماتې سره مخامخ کړی او په نړۍ کې یې مسلمانانو ته یو لوی عزت وربښلی دی .

دښمن باید پوه شي چې که مسلمان هرڅومره لوی ګناهګار وي خو داعقیده یې نه بدلېږي چې دخپل ځان ، موراو پلار ، اهل ،عیال اوټولې نړۍ نه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه زیاته نه وي او په عزت یې سرقربانولو ته نوي تیار نو ایمان یې نه شي کاملېدای .

امریکا او ټول لویدیځ دې دا واوري چې هو! دجهاد په پرېښودلو موږ ځانونه مړه ګڼو ، موږ خپل رب ته ډېر شرمنده او خجله یو خو موږ پوهېږو چې دخجالت دا احساس موږ ته نوی ژوند رابښې ، هغسې ژوند چې به مودنیکونو او تېرو اسلافو تاریخ راژوندی او شملې یې هسکې کړي .

امریکا اوټول لویدیځ باید دا ومني چې په دې ډول پیښو دوئ زموږ په سینو کې دغم او درد اوررونه بلوي خو زموږ په سینوکې دابل او رونه اوس په ډېرې تیزۍ دانتقام په اوررونو بدلېږي ډیرژر به ان شآء الله داستاسو تر لمنو دروررسېږي چې همداستاسو لپاره دلوی فکرځای دی خو پدې شـرط که شـعور ولرئ !

Bastion

perle horbe

عبدالرؤف "حکمت"

د شوراب پرل هاربر

پرل هاربر په تاریخي لحاظ په امریکا ترټولو ستر او زیان اړونکی برید بلل کیږي، دابرید چې دجاپان لخوا په ارام سمندر کې دامریکا په یوه ستره سمندري اډه ناڅاپه ترسره شوی وو، امریکایي پوځ ته یې خورا دروند ځاني او مالي زیان اړولی وو.

له هغه راپدیخوا چې کله هم په امریکایانو دروند او ناڅاپي وار شوی، نو مطبوعات ورته دپرل هاربر اصطلاح کاروي، څو کاله وړاندې چې په خوست کې یوه مجاهد CIA ګڼ کار کوونکي په فدایي برید کې ووژل نو ځینو رسنیو دا پیښه دخوست پرل هاربر وبلله.

په داسې حال کې چې په خوست کې په امریکایي اډه سالیرنو باندې دمجاهدینو دستر او ځپونکي برید یو ازې څو میاشتې تیرېږي، داسلامي امارت مجاهدین توانیدلي چې دوخت فرعوني ځواکونه برتانیا امریکا په هلمند کې له یوه بل پرل هاربر سره مخامخ کړي.

دمجاهدینو دابرید چې امریکا او برتانیا په تیره یوولس کلنه جګړه کې ترټولو منظم، تاکتیکي، مؤثر او زیان اړوونکی بللی دی، دهلمند ولایت په شوراب کې دامریکایي او برتانوي ځواکونو په ترټولو ستره اډه ترسره شو، چې په ترڅ کې دپرل هاربر دحملې غوندې دامریکا او برتانیا ګڼې جنګي الوتکې، چورلکې، دسوخت ذخیرې او نور پوځي امکانات له منځه لاړل، او په دروند ځاني زیان سربیره ورته په میلیونو مالي زیان هم واوښت، داچې دشوراب پرل هاربر څنګه صورت ومونډ دپیښې سیاق او سباق په لاندې ډول بیانیږي.

دشوراب پوځي قرارګاه

دهلمند دمرکز لشکرګاه په شمال لویدیځ کې دواشیر ولسوالۍ په مربوطاتو کې پرته دشوراب قرارګاه چې بهرنیان یې Camp Bastion بولي په افغانستان کې دبهرنیو یرغلګرو له لویو او خورا مهمو اډو څخه شمیرل کیږي.

سره له دې چې دشوراب په اډه کې امریکایان هم اوسي خو دا اډه په افغانستان کې دبرتانویانو اساسي او مرکزي اډه ده، چې په ۲۰۰۶ میلادي کال کې تاسیس شوېده، برتانویان وایي دا اډه له دوهم نړیوال جنګ وروسته له برتانیې بهر ددوی ترټولو ستره جوړه شوې پوځي اډه ده، چې د ۲۸۰۰۰ سرتیرو او کار کوونکو داوسیدنې امکانات لري، او همداوس تقریبا ۱۶ زره بهرني او داخلي عسکر په کې اوسي او روزانه ترې ۶۰۰ دالوتکو او چورلکو پروازونه کیږي.

دشوراب پوځي اډه چې دچينوک او اپاچي چورلکو،



بوينګ الوتکو، جټ جنګي اونورو بم غورځوونکو مختلفو طيارو دالوت کرښې او پار کڅايونه، دغه راز پوځي هسپتال، زندان، او داوسيدنې پراخ کمپونه لري، دلومړي او دوهم کمپ په نامه په دوو برخو ويشل شوې ده، چې په دوهم نمبر کمپ کې يې زياتره امريکايان، ډنمار کيان دغه راز داستونيا او افغانستان دحکومت دار دو سر تيري اوسيږي.

دبر تانيې پخواني ولسمشر ټوني بلېر د ۲۰۰۶ کال په نومبر کې ددې اډې دليدنې په مهال دا اډه (يوه فوق العاده دښته) بللې وه، ټوني بلير چې ديوه بر تانوي له دريځه هغه مهال لا دافغانستان له اقليم سره نابلده وو په خورا غرور ويلي وو چې (ديويشتمې پيړۍ سر نوشت به له دې دښتې څخه ټاکل کيږي) خو دنوموړي له هغې لاپې شپږ کاله وروسته دبر تانيې ددفاع وزير فليپ هامونډ له همدې کمپ څخه دليدنې په مهال اعلان وکړ، چې بر تانوي عسکر به ډير ژر په يومخيز ډول له افغانستان څخه پښې سپکې کړي او ۲۰۱۴ کال ته به انتظار ونه کړي، دهامونډ له دې اعلان په شمار څو ورځې وروسته دبر تانويانو او امريکايانو دا مهمه اډه ده دمجاهدينو تريو داسې تاکتيکي او اغیزمن برید لاندې راغله چې بنایي دښمن يې پخوا کله هم تصور نه وو کړی.

دشوراب په پوځي اډه فدايي عمليات

څو ورځې وړاندې دبر تانيې دشاهي کورنۍ دريم شخص شهزاده هاري افغانستان ته راغی، تر څو په هلمند کې خپل پوځي ماموريت تر سره کړي، دطالبانو وياند ذبيح الله مجاهد له ډيلي ټيلګراف ورځپاڼې سره په مرکه کې نوموړی يو مهم پوځي هدف وباله او ويې ويل چې په ټولو امکاناتو به هڅه وکړي نوموړی له منځه يوسي.

دغه راز په دې وروستيو کې په امريکا کې پادري تيري جونز يو بوږنوونکی فلم خپور کړ، چې داسلام دپيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم بې حرمتي په کې شوې وه، طالبانو ديوې اعلاميې په خپرولو سره دامريکايي تبعه تيري جونز دا عمل په سختو ټکو وغانده، او ګواښ يې وکړ چې ددې عمل انتقام به له امريکايي پوځ څخه واخلي.

دهمدې دواړو تعهداتو دتر سره کولو لپاره دطالبانو لپاره تر ټولو وړ هدف دشوراب پوځي قرار ګاه وه، ځکه په دې اډه کې که له يوې خوا دنورو بر تانوي عسکرو تر څنګ شهزاده هري شتون درلود، له بلې خوا په زر ګونو امريکايي عسکر هم په کې ميشت وو، او طالبانو کولای شوای په يوه غشي دوه مرغۍ ښکار کړي.

دهمدې لپاره مجاهدينو وپتيله تر څو په هلمند کې دير غلګرو په دې سمبوليکه اډه مؤثر عمليات تر سره کړي.

دعملياتو لپاره پنځلس تنو فدايي مجاهدينو امادګي وښوده محمد امين، زاهد، فتح خان دکندهار، محمدهاشم

عابد دغزني دگیلان ، نذیر احمد د کندهار دپنجوایي ، نور احمد دکندهار دبنار ، بشیر احمد د کندهار ، محمد د کندهار ، بلال دکندهار دارغنداب ، ابوذر دلوگر ، حمزه دلوگر ، عبدالقیوم دغزني دگیلان ، عبدالله دکندهار دژړۍ ، حمدالله دزابل ، عزت الله دزابل ، دې اتلو او دمحبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مینه مستو شازلمیو تیاري وښوده ، تر څو په شوراب کې دپندو کنارو په ستراتیژیکه اډه هجوم وروړي او یوځل بیا دخپل ایمان او همت ننداره ورته وښيي .

دفدایانو له جملې ۴ تنه په راکټ لانچر و مسلح وو چې له هریوه سره ۱۱ دراکټ لانچر مرمۍ او توپانچې وې ، ۴ تنه نور په ثقیل ماشیندار یاپیکا مسلح وو چې له هریوه سره دپیکا ۱۱ سوه مرمۍ او توپانچې وې ، پاتې نور په کلاشینکوفونو مسلح وو چې له هریوه سره ۲۰۰ مرمۍ او شپږ شپږ لاسي بمونه وو ، په دې سربیره له فدایانو سره یوه اندازه چاودیدونکي توکي ، او دراته ماینونه هم وو چې په مټ یې په قرار گاه کې دننه ستري چاودنې رامنځته شوې .

فدایان په دریو گروپونو ویشل شوي وو ، دقرارگاه په ښي اړخ برید ته د حضرت بلال ابن رباح گروپ گمارل شوی وو ، په منځنۍ برخه دبرید لپاره دحضرت عمر فاروق گروپ او په کینه خوا دبرید لپاره دحضرت خالدبن ولید گروپ گمارل شوی وو ، ددې برید تنظیمونکي مجاهدین داوس لپاره دا راز نه افشاء کوي چې فدایان څرنگه وتوانیدل ، په داسې دښتي سیمه کې ددښمن له ټولو څارگرو وسائلو او گزمو سره سره ځان دیرغلگرو تر ټولو مهمې قرارگاه ته ورسوي ، له ټولو خندقونو ، او جوالونو تیر شي اغزن سیمونه او جالونه وشلوي او مخامخ په پوځي اهدافو بریدونه پیل کړي .

د ۲۰۱۲/۹/۱۵ مه د شنبې په شپه پوره لس بجې وې چې فدایان پرته له کوم خند څخه خپلو اهدافو ته ورسیدل او په برتانوي او امریکایي عسکرو یې بریدونه پیل کړل ، فدایانو دبرید له پیل وروسته په ټولو برخو کې په پوره قوت جگړه پیل کړه ، دعمر فاروق استشهادي گروپ دامریکایي پوځیانو داوسیدو په خیمو برید وکړ ، خیمې یې وسوزولې او دقرارگاه زړه ته یې ځان ورساوو ، دغه راز په نورو برخو کې هم فدایي اتلانو په پرلپسې ډول په امریکایي کمپونو ، تاسیساتو ، پوځیانو ، ناستو الوتکو ، چورلکو او پوځي ډیپوگانو باندې بریدونه وکړل ، مجاهدینو ددښمن دتیلو دری ذخیرې والوزولې چې ترسبا غرمې پورې یې لمبې پورته کیدلې ، دادې په مابین کې مجاهدینو ددښمن دخیمو ترسوزولو وروسته د AV_8B هریر جټ الوتکو پارک ځای ته ځانونه ورسول او په ولاړو الوتکو یې دراکټ لانچر و بریدونه او چاودنې پیل کړې ، دلومړنیو معلوماتو له مخې ویل کیږي چې په اډه کې ناټو یوولس الوتکې په بشپړ ډول سوزول شوي او گڼې نورې زیانمنې شوي دي دغه راز مجاهدینو ددښمن گڼې تاسیسات په بمونو والوزول او ناستې الوتکې او چورلکې یې په درنو وسلو په نښه کړې ، دبرید یو تنظیمونکي مجاهد وايي ، د شپې ناوخته یې لیدل چې دهدې دننه تقریباله یو کیلومتر مربع ساحې څخه ، داور لمبې ، لوگي او دچاودنو غږونه پورته کیدل ، برید ماښام لس بجې پیل او سهار ترشپږو بجو یې اته ساعته دوام وکړ ، دمجاهدینو داطلاعاتو له مخې دبرید په وړاندې دبهرنیو سرتیرو عکس العمل خورا پیخ او گډوډ وو ، دوی له یوه داسې برید سره مخامخ وو چې هیڅ اماده گي یې ورته نه درلوده ، له بلې خوا دشپې تیارې له دوی څخه دبرید ددفاع او ځان ساتنې فرصت اخیستی وو ، دسهار ترشپږو بجو پورې دتودې جگړې په ترځ کې دښمن ته له سختو تلفاتو اړولو وروسته ټول مجاهدین په شهادت ورسیدل ، او دښمن دخپلو تلفاتو په نقل او پټولو پیل وکړ ، دطالبانو ویاند قاري محمد یوسف احمدي الاماره ویب پاڼې ته وویل ، چې دوروستیو دقیقو معلوماتو له مخې په دې ستر برید کې لږ تر لږه ۴۷ تنه بهرني عسکر وژل شوي دي چې دوه تنه یې لوړپوړي پوځي افسران دي ۳۴ بهرني سرتیري ټپیان شوي دي او ۱۱ بیلابلې جټ الوتکې یې کاملا سوزول شوي دي ، دغه راز ددښمن دتیلو ذخیرې او نورو پوځي تجهیزاتو ته هم سخت زیان اوښتی ،

دقاري محمد يوسف احمدي په قول په عمليات کې ۱۵ واړه فدايان هم په شهادت رسيدلي (انا لله وانااليه راجعون)

سره له دې چې دبريد تلفات خورا ستر او له پټيدو وتلي وو خوبيا هم دښمن په مطبوعاتي برخه کې دتل غوندې هڅه وکړه، بريد سطحي وښيي ، دښمن يوازې دځو تنو سر تيرووژل کيدل تاييد کړل او ويې ويل چې دنورو ځاني او مالي تلفاتو په اړه په پلټنه بوخت دي ، خو وروسته کرار کرار دپيښې جزيات رابرسيره شول.

دبريد په اړه څرګندونې

دبريد په اړه داسلامي امارت وياند قاري محمد يوسف احمدي رسنيو ته وويل چې حمله يې دامريکا لخوا دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دتوهين دغچ اخيستلو لپاره کړې ده ، او داچې دغه معلوم هدف يې په نښه کړی ، ځکه چې دا ددښمن يوه ستراتيژيکه اډه وه او بر تانوی شهزاد پرنس هري هم په همدې اډه کې شتون درلود .

دبريد له پای ته رسيدو څو ساعته وروسته دبريد اخيستل شوي ويډيو په الاماره ويب پانه خپره شوه چې په نړيواله کچه يې ډيره توجه جلب کړه . نړيوالو رسنيو دابريد په تيرو يوولسو کلونو کې په ير غلګرو ترټولو ستر بريد وباله ، چې دښمن ته يې سخت زيان اړولی .

دناټو وياند ديوې اعلاميې په خپرولو سره ومنله چې په بريد کې يې ۸ AV_8B هريېر جټ الوتکې له منځه تللي او سوزول شوي دي ، دغه راز دتيلو دری ستري ذخيرې ، ۶
دالوتکو اوسپنيز پارک ځايونه او ګڼ نور وسائل يې هم په بشپړ ډول سوزول شوي دي .

دامريکا چاپ نيويارک ټايمز ورځپاڼې دسوزيدلو الوتکو قيمت ۲۰۰ ميليون ډالره وښوده ، خو يوه بې پرې احصائيه وايي چې په دې بريد کې امريکا او بر تانيا ته دری مليارد ډالره مالي زيان رسيدلی ، دغه راز يې لسګونه عسکر مړه او ټپيان شوي دي .

دبريد په اړه ناټو په خپلو اعترافاتو کې ومنله ، چې بريد دهر کله په پر تله منظم ، تاکيتکي او ترسره کوونکي يې ښه تربيه شوي وو ، چې په پوره مهارت يې دشوراب دادې ټول امنيتي او څارونکي حصارونه مات کړل او مخامخ يې په بهرنيو ځواکونو او الوتکو بريدونه پيل کړل.

دامريکا يوبلې مشهورې ورځپاڼې (وال ستريټ ژورنال) دبريد په اړه وليکل ، چې طالبانو ددې بريد په ترسره کولو



سره په حقيقت کې له امريکا څخه غچ واخيست ، دوی دې ته اشاره کړې چې طالبانو څو ورځې وړاندې ويلي وو چې دامريکا لخوا دتوهين آميز فلم دخپرولو غچ به اخلي ، چې دادی هماغه عهد يې پر ځای کړی ، دغه راز ددې ورځپاڼې په باور طالبانو دبر تانوي شهزاده دراتګ په اړه خپله کړې خبره هم پر ځای کړه چې ويل يې نوموړی به هدف وګرځوو .

دابريد له دې امله هم دپړل هاربر له حملې سره تشبيه کيږي چې امريکايانو په کې يوځل بيا په ګڼ شمير جنګي الوتکې ، چورلکې ، دسوخت ذخيرې او نور جنګي تجهيزات له لاسه ور کړل ، دناټو يوه وياند ددې بريد په اړه وويل زموږ لپاره داعادي ده چې کومه الوتکه مو دجګړې په ميدان کې له منځه لاړه شي ، خو ددې تصور مو هيڅکله نه وو کړی چې الوتکو ته به مو په اډه کې دننه دومره پراخ زيان اوړي او له منځه به ځي

دملګرو ملتونو اوسنی جوړښت

دانصاف او مساوات نفي ده...!

" رحیمي "

سږ کال دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ ۶۷مه غونډه وه ،چې پکې دنړۍ د ډېرو لوهیوادو ولسمشرانو اوصدر اعظمانو وېناوې وکړې ،اونړۍ ته دوړپېښو ستونزو دحلولو په اړه یې بېلابېل وړاندیزونه ور کړل، که دعمل له پلوه وګورونو دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ سږنۍ غونډه هم دپخوانیو په څېر د "نشستندو ګفتندو برخواستند "پر ته یې کومه نوې بڼه نه درلوده، په ځانګړې تو ګه اسلامي نړۍ ته دوړپېښو ستونزو اومشکلاتو د حلولوپه لړ کې یې کردار هېڅکله شفاف او قناعت بښونکې ندی ،دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ تازه غونډې اسلامي نړۍ ته دانصاف ، اومساوې یانه پیغام رسولوپه ځای د شکونو اوشبهونه ډک ناهیله کوونکی پیغام ور کړ! چې له امله یې دنړۍ یونیم ملیارد خلک(مسلمانان) د دې ترخه احساس ښکار دي چې داوسنۍ نړیوالي ټولنې داوسنې جوړښت په شتون کې هېڅکله دوئ ته دانصاف اوخیر توقع نده پکار!!ولې دې ټولنې له خپله پیله تراوسه داسلامي نړۍ سره په هیڅ یوه قضیه کې دانصاف اوپه بشري معیارونوبرابر تعامل ندی کړی.

اوسنۍ تازه غونډه په یوه داسې وخت کې جوړه شوې وه چې دامریکا اواسرایل دځوبد کردارو اوشر پرواتباع له لوری دبشریت دسترلاربنود حضرت محمد مصطفی (ﷺ) په مبارک شان کې د ناوړه اوغلیظ فلم جوړولو په سر د نړۍ یونیم ملیارد انسانانو زړونه زخمي اوترې وینې څڅیدې . له امله یې دنړۍ د پنځو لویو وچوپه ګڼوښارونو کې ملیونونه مسلمانان احتجاجا ددې لپاره لارو او کوڅو ته راووتل ،څواړوندهیوادونه ددغه ناروا فلم جوړونکې په اشد مجازات باندې محکوم کړي.

خوبیا هم په دومره لوي اوناز کي مسئلې دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ دغونډې چوپتیا دا شک په باوربدلوي چې دنړیوال امنیت علمبرداران په خاصه تو ګه امریکا اوملګري یې ددا سې سترو اومهمو قضیاوو ترشا لاس لري! اوله اسلامي نړۍ سره مخلص ندي. غواړي په داسې شیطاني جنایتونو نړۍ کې د کلتورونو ترمنځ د تصادم فضا رامنځته کړي ، دامریکا دولسمشر داویل :(فلم جوړول دغندنې وړعمل دی ! خو پرې بندیز نشي لګولی) دعذر ګناه بدتر از ګناه نه څو ګامه وړاندې دي...

که یو کارپه ریښتیاهم غلط وي ...دغندلو وړوي ...
دامریکا دولسمشر په وینا: پخپله دامریکا سپکاوی دی... بیاولي پرې بندیز نه لګول کیږي ... ؟ دداسي شیطاني عمل ارتکاب کوونکو ته سزا اوسر زنښت ور کول دچامسؤلیت دی... ؟ دامریکا دولسمشر ددي وینا(زمونږ په هیواد کې زمونږ دخپلوعقایدو توهین او سپکاوی کیږي !خوڅوک منع کولی نشو !ولي زمونږ قانون دا اجازه نه راکوي) مطلب دادی: چې بس دامریکاقانون دټولی نړۍ لپاره دهندوانو مقدس غویه دی . چې په اړه یې څوک یو حرف نشي ویلی اوامریکا ته له هغه نه دګر دي نړۍ امنیت اوثبات څارول اسان دي ؟ که امریکا دخپل قانون څخه سرغړونه نشي کولی . دنړۍ له یونیم ملیارد مسلمانانونه څنګ داتوقع لري چې هغوئ دي دخپل ایمان اوعقیدي ددفاع لپاره مزاحمت نه کوي ؟ ایامسلمانان دي دخپلوعقایدو مرجع اودالله (ﷻ) دوروستي استازی حضرت محمد مصطفی(ﷺ) په مبارک ذات کیدونکې بریدونه وزغمي؟ مونږپوهیږو چې داهرڅه دامریکا دشیطانت اودوه مخیتوب زیږنده دي . چې په نړیواله سطحه دومره مهمه قضیه دملګرو ملتونوپه عمومي غونډه کې له پامه وغورځول شوه !خو دایواځینی او لومړی نړیواله قضیه نده چې له امله یې امریکا د مسلمانانو دیني احساسات اوجذبات زندی کړل؟ ټولي ته نړۍ ته ښکاره اومعلومه ده چې اسرایل دامریکا په ملاتړ اودامریکا په وسلوباندي دتیرو ۶۵ کلو راهیسي فلسطین کې دمسلمانانو په ټولوژنه لګیادي اوپه امنیت شوری کې امریکا داسرایل په ضد ۶۵ پریکړه لیکونه ویټو کړي؟

نو دیته شدیده اړتیا ده چې دملګرو ملتونو نړیوالي ټولني اودامنیت شوری په ترکیب اوجوړښت دي له سره بیا غوروشي، یو لور ته امریکا او څوا کمن هیوادونه نړۍ ته دجمهوریت سبق ور کوي ، اوخپله دجمهوریت نه سرغړونه کوي، حتی دملګرو ملتونونړیواله ټولنه دجمهوریت منلو ته غاړه نه ږدي ، دنړۍ کمزورو اوبیرته پاتي هیوادو ته دنړیوال سیاست په اړه په پریکړو کې حق اووندہ نه ور کوي ، دویټوله

بس دامریکاقانون دټولی نړۍ لپاره دهندوانو مقدس غویه دی . چې په اړه یې څوک یو حرف نشي ویلی اوامریکا ته له هغه نه دګردي نړۍ امنیت اوثبات څارول اسان دي ؟ که امریکا دخپل قانون څخه سرغړونه نشي کولی . دنړۍ له یونیم ملیارد مسلمانانونه څنګ داتوقع لري چې هغوئ دي دخپل ایمان اوعقیدي ددفاع لپاره مزاحمت نه کوي ؟

څواک نه برخمن ۵هیوادونه دهري پریکړي حق لري . دهغوئ په لاس دنړۍ نیږدي ۲۰۰ هیوادونه یرغمال کړای شوي .ایا دامساوات اوانصاف دی ؟ که ریښتیاهم جمهوریت انصاف اومساوات ته ژمن وي ؟نو ولي دملګرو ملتونود نړیوالي ټولني تشکیل دانصاف اومساوات بڼه نلري ؟ولي یوډیر کم اقلیت (۵هیوادونه) دنړۍ په اکثریت باندي خپله رایه تحمیل اومني ؟ یکار دی دملګرو ملتونو دنړیوالي ټولني په اوسني جوړښت کې له سره تغیر راوستل شي ... دامنیت شوری تشکیل له سره بیاوشي.... څکه چې اوسنی جوړښت یې په ښکاره دانصاف اومساوات نفی کوي ... په دي ټولنه دنړۍ دخلکو دباور راتلوولپاره ضروري ده چې دنړیوالي ټولني مرکزیت له امریکا څخه د منځنۍ نړۍ کوم هیوادته متنقل کړای شي ...

بل دملګرو ملتونواوسنی منشورهم دغربي تهذیب اودپانګوال نظام د فکر اوایدیا عکاسي کوي .اړتیا ده چې دملګرو ملتونومنشور دټولي نړۍ اقواموا وملتونو دحقوقو مدافع منشوروي .نه دڅو تنو ګوته په شمار پانګوالواوشتمنود پانګوساتونکی منشور.....!

شمشاد پامیر ــــــــــــــــ

د استاذ سیاف غځوني !!

خپل ځانته مې ځکه د(شمشادپامیر) غبرګ نومونه وکارول چې له ورایه پکې د(براعةالاستهلال) په بڼه داستا ذ سیاف جغرافیه وځلیږي او دلیکنې له منځپانګې سره هم ږده ولګوي ،تر څنګ یې په اصطلاح ددې مضمون دکریکټر اودامریکایي تیرې د اداکار لومړی داتلولی او بیا دبزدلۍ غارونه هم رانه شي !

ښاغلی (سیاف)چې فریب ،چلبازۍ اوچالاکي یې په جهادي مشرانوکې خورا مشهوره وه اوپه خپله اورده مبارکه ږیره ،دږیزکې په مسله اوشیخوخت یې ډیر ناخبره عربان او افغانان غولولي وه (شمشاد) یې دلومړني جهاد دتلوالې هستوګنځی چې ویاړنه یې ده او دپامیرغارونه ،دهندوکش شیلې اودواخان تړې یې بیا دبزدلۍاو سپین لښکر(طالبانو)نه دتیښتې هغه پناه ځایونه و، چې دطالبانوله ویرې یې پکې زنې لړزیدلې اودګیدړوغوندې په داسې لویوغارونوکې داسلامي نظام له سپاهیانونه پټ شوي وو.

پوهاند سیاف لومړی دجهاداو روسي یرغل له برکته یواتل پیژندل کېده خو وروسته یې چې کله دجهادله اقداروسره خیانت وکړ او داسلامي شریعت د پلي کوونکیوپه مقابل کې دوطن فروشانواو تجزیه طلبو متعصبینوپه څنګ کې ودرید نویې څیره لاپسې رسوا اوهویت یې بربنډشو.

ددې پرځای چې دخپل تنظیم دیوه مجاهدسپاهي (استاذمحمدیاسر)په څیردشریعت او خپلواکۍ دپتنګانو(طالبانو)له کاروان سره یوځای شي له بده مرغه (دکولاب)او(خراسان جدید)له داعیانو سره یې دجهادپه کار ناموتورې خاورې ورواړولې او دجومات اومدرسې پرسپین زړې طالب یې دماشیندارو ججورې تشې کړې ، دجامعه ازهر دافارغ او په اصطلاح دمسجددحقوقوداغوښتونکی چې دخوارلس کلن جهادمسخ اونسخ کې یې دګلمجمانو،دوستمیانو ،شغلیانواو نورو وطن فروشانودمظالمواو جنایتونو نه ننګه وکړه او دخپلو نوروهم سنګرو(مولوي محمدیونس خالص ،مولوي محمدنبي محمدنبي)صیب غوندې یې نه دداخلي فتنوپروخت ګوشه نشیني وکړه او نه یې دامریکایي یرغل پروړاندې توره له تیکې وایستله بلکې برعکس یې پرې ځان (DDR)کړ ،داسلامي امت نظامي زیرمه یې په لوی لاس غلیمانوته وسپارله او نه یوازې داچې دکفري یرغلګروتر چتر لاندې یې دذلت اوحقارت ژوندغوره کړ بلکې له بده مرغه نن دادی دکلیسادهغو پادریانوپه لاس دنانځکې غوندې لوبیږي چې کله موقرآن سوځوي او کله مو د(تېري جونز) په شکل داسلام دستر پیغبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دبې حرمتۍ فلمونه جوړوي !

شک نشته چې که چیرته ده جناب دجهاددتدوام لاره نیولی وای او دصلیبي یرغلګروپر خلاف یې په خپله تراشل شوي ژبه دیغاوت غږ کړی وی ،نو په باورسره ویلای شوچې نن به یې په اسلامي امت کې شمله جګه اوخلکوبه یې عظمت ته سلامونه کول !

دلته مونږ داستاذ دسابقې دیې نقابه کولو سره دومره سروکار نلروچې نور هم دیهودوا ونصاراروو دخندا شي او نه داوایو چې محترم استاذ دداخلي فتنوپروخت دکابل د(۵۰۰۰۰)شاوخوابې ګناه اوسیدونکیوپه قاتلینوکې مباشرة برخه لري ،نه هم داوایوچې دهجرت او جهادپروخت یې دنوروهغو پرخپرخیته دیتیمانواو کونډواو شهیدانوله حرامو پیسواوبیت المال له اجناسو نه تر ستوني پورې ډکه ده اونه به هم داوایوچې د   13۷۱ش کال نه تر   ۱۳۸۱ش کال پورې یې دمجاهدوطالبانوپه پاکووینودشورای نظاردټلوالې غوندې لاسونه تر څنګلوپورې سره دي اوپه خپله مکاره سپینه جامه یې دشهیدو طالبانودسرووینو داغونه ایښې دي ......بس هغه چې مونږلیکلوته اړیستي یو هغه ددې ښاغلي هغه یې مسؤلیته څرګندوني دي چې دي وروستیوکې یې دکابل په یوه غونډه کې دمذهبي نقطه نظره وکړې ،کفري حلقې یې پرې ډیرې خوشحاله خو جهادي لوری یې پرې ډیر خفه او غصه کړ ،نوموړې دیرغلګرو پر وړاندې دمجاهدینو یوازې همدا کامیابه وسله (فدایي بریدونه)چې لا له وړاندې نه پرې دمصر نامتوعالم اودجزیره عرب مشهوردکتوریوسف قرضاوي فلسطنیانوته دجواز فتوا ورکړې وه او بیا دسیمې علماوواو مفتیانودامریکایي او اروپایي یرغل پر خلاف افغانستان کې دتعمیل وړ وګرځوله ،بلکې هر ه مشروع حربه چې غاصب استعمارته پرې صدمه رسیږې ددین له هینداري نه پرې یوه عالم هم دنقض ګوتې نه دي ایښې ،ښاغلی سیاف چې خان داحادیثودفن استاذ هم بولي له بده مرغه ددې مبارک فن دغوښتنو په وړاندې نن ولاړ دی او دچوکۍ او مادیاتو لپاره دهغه چا پر خلاف مذهبي پاروني کوي چې هغوئ داستاذ سیاف غوندې خلکو دعزت او وقار داعادې لپاره خپل وسله وال جد وجهد پیل کړی دی .

نن پداسې حال کې چې غربي یرغلګر داسلام دستر پیغبر ص او قرآن کریم په بې حرمتۍ بوخت دي او مجاهدین ترې په استشهادي حملو ددې مقدساتو دتوهین بدل اخلي ،سیاف صیب په همدې کامیامه وسله دنه جواز داغ لګوي اوآن دنړۍ علماؤته داستدلال او اثبات چیلینج ورکوي چې ترڅو پدې سره ښایې د(تیرې جونز)په کتار کې ودریږې أو که وشي نو دابه دامریکایانو دباور کس شي .

په یوه ویډویې غونډه کې ښودل کیږل چې سیاف صیب وایې ولې دجهادي مقاومت دمشرانو مفتیانو او رهبري کدر دغږوزامن فدایي بریدونه نکوي چې دده په اصطلاح دا ....ورته چمتو کوي خو داجناب دومره فکر نکوي چې همدا اوس دسیاف دبادرانوپه پنجرو او قفسونوکې څوک پراته دي مشران دي که کشران ؟اود جګرې په لومړۍ لیکه کې دچادشهادت خبرونه ددوئ درسنیو په ژبه خپریږې ؟.

داستاذ سیاف اسلام ضد او جهادي اهدافو نقض کوونکې غځونې چې دناستو پلورل شویو ځیرو لخوا په چکچکوبدرګه کیدې دسپینې ږیرې او زیرې پګړۍ درلودونکې سیاف ترې خوند اخیست او داسلام ضد دا دچکچکو کلتور نورهم تشویقیده ......

پدادول څرګندونو نوموړې حربیانوته ښه پیاوړې خدمت تر سره کړاو دتیرې یوې لسیزې چوپتیا نه پس لویدیځو پادریانوترې دځان په نفع ښه کار واخست .

خو هغه چې مسلمه امت او افغان ولس ته دده ددې ناروا غځونونه په لاس ورغلل هغه دده د هویت پیژندنه او دده دایمان او جهادي ادعاوودروغجنې کیسې دي او بس ...... !

ولس یووار بیا پوه شوچې استاذ سیاف څومره دمادیاتواو پیسو عاشق دی او څومره ژرداسلام له جغه وتلای شي !او آیا راتلونکې کې به پدې وارزې چې بیا پسې خلک لاړ شي که نه ؟

مونږچې دکفارو دخوشحالولو او مجاهدینوپر ضد دسیاف داسې اوتې بوتې بې اغیزې او له ولسي افکارو سره په ټکر کې بولو دیوه مسلمان افغان په صفت له سیافه غواړو چې نور له خدایه ح نه وویریږې او دمجاهدینو او افغان ولس په ټپونو دې مالګې نه ښندې !!



حج

عبادت بین الاقوامی واسوهٔ مساوات است

— منقاد —

حج یک نمونۀ عظیم المرتبت وبی مثال عبادت بین الاقوامی، مساوات بین الاقوامی، اخوت وتعاون بین الاقوامی است، درین مرکز، عمل، فکر، لباس، وضع وهیئت، قبله، محبت همه یکی اند. پس آن اقوام که امروز لفظ مساوات وبرادری را باربار تکرار مینمایند باید این نمونۀ مساوات قرآن حکیم را درنظر گرفته عبرت گیرند، وگرنه دعوی نمائشی مساوات وبرادری را بزبان نیاورند.

الله تعالی مساوات ویکرخی را جهت آنکه صورت عبادت عملی دهد، حج را عبادت مقرر فرموده برین قبله اقوام مشرق ومغرب یکسان گردآیند تا این نمونه مساوات عملی پیداگریده ازین اجتماع مساویانه را درنظر گرفته تمامۀ زندگی خودرا مطابق این مساوات وبرابری سپری نمایند. بنابراین شریعت اسلام این قبله را اولاً قبله تمام انسانان قرارداد چنانچه ازآثار وروایات حدیث ثابت است که هیچ نبی ازدنیا چنین نگذشته است که این قبله را طواف نکرده باشد.
نیز آشکاراست که چون تمام انبیاء با این بیت خداوندی عشق ومحبت کرده آمده اند واین را قبله خود تسلیم کرده اند. پس بطور قدرتی قبله اقوام تسلیم دارنده ایشان نیز همین بیت الله ثابت میگردد.

دپورته ذکرشووناخوالوپه وړاندي دکندهارولايت دژړي ولسوالۍ دسنګحصاردکلي څخه دملامحمدعمرمجاهدپه مشرۍ دطالبانود اسلامي تحريک په نوم ولسي پاڅون پيل شو،په ډيره لنډه موده کي يې دالهي نصرت اوولسي ملاتړپه مټ دشريعت اوامنيت لمن دهيوادترلويديځ اوختيځ پوري ورسوله ،د۱۳۷۵ل،دميزان پر۶مه نيټه يې کابل فتح کړ،دجهادبدنامونکي ،شرجوړونکي ،هيواد پلورونکي اوورژونکي ايتلافونه ،ډلګۍ اوعناصريې ترکولاب ،تهران او.....وځغلول .اسلامي تحريک چي نورنودافغانستان اسلامي امارت شوپه اول قدم کي امنيت تأمين کړ،شرعي قوانين يې نافذکړل ،تعليمي مراکزيې پرانيستل ،دولتي تاسيسات يې ترميم ،حکومتي اداري يې بيافعالي ،اويوشمېريې بيخي دسره ورغولې .دصنعتي پارکونوفعاليت يې پيل کړ،دابواوبريښنابندونه يې ترميم کړل ،ځيني سړکونه يې خام اويوشمېريې په پاخه اواساسي ډول ورغول دمثال په توګه دکابل - کندهارسړک چي دکابل څخه ترغزني پوري قيرشويادولای شو .دولس په

ورځنيوچاروکي نسبي پرمختګ راغی ،پرلویواو ورولاړودشپې اوورځي دمسافروتګ راتګ پیل شو،ولس شمال اوجنوب ،ختیځ اولویدیځ ته بېله کوم تبعیض اوتعصب څخه دتجارت اوسیاحت په موخه سفرونه کول ،دخلکوترمنځ دوروزګلوی اومحبت فضاحاکمه شوه،یوتربله به یې په غم اوښادی کې پرته دکوم امنیتي خطرڅخه ګډون کاوه ،ماشومانو اوځوانانو به پوهنتون ،مکتب اومدرسې ته په ډاډه زړه تګ راتګ کاوه. منلې ده چې دانبیاء علیهم السلام څخه پرته نورټول انسانان مثبت اومنفي خویونه لري داسلامي امارت مجاهدین هم دهمدې نوع اوقاعدې څخه مستثنی نه دي ،نوبېله شکه خطاوې یې هم کړي دي ،خوداهم واقعیت دی چې منفي کړنې یې ترمثبتوهغوپه کراتوکمې وې اودي.

دبشردحقونومدافعینو !!(امریکااوملګروېې)پرافغان ولس داسلامي امارت دملاترپه ګناه یوازخیزبندیزونه ولګول ،خوراکي شیان ،دوا- درمل ،فلزجات اونورازین توکي یې افغانستان ته نه پرېښودل ،دامارت چارواکوته یې اجازه نه ورکول چې دنړیوالوسره راشه درشه وکړي اویادصاد راتواوارداتوکوم ترون ورسره وکړي .دامارت پرمخالفینویې نه یوازې کوم بندیزنه ؤوضع کړی ،بلکي په نړیواله کچه یې سیاسي اواخلاقي ملاترکاوه اودپیسواووسلوپرېمانه مرستي یې ورسره کولې .خلاصه داچې افغانستان (دامارت تر واک لاندې پراخه ساحه)یې په اقتصادي رکوداوسیاسي انزواکي راګیرکړی ؤ،اولایې هم خپلوته ملاترلې وه .اسلامي امارت دنړیوالودیوازخیزوظالمانه کړنواونېرنګونوسره سره په متینوګامونویې خاره خودپراخوقربانیوپه ورکولودامن اوشریعت ،سوکالۍ اوخپلواکۍ کاروان دهدف په لورزهبري کاوه اوپه میرڅمنویې پرله پسې ګوزارونه کول ،چې له امله یې دشراوفسادلمن دهیوادد ۹۵٪سلني څخه پورته شوه.

تاریخ ثابته کړې چې ښکېلاکګروهروخت خپلواکۍ غوښتونکي خوځښتونه اوملتونه په یوه اوبله بهانه تکولي اومنزوي کړي دي ،دهمدې ډول قرباني شوودجملې څخه یوهم افغان ملت دی چې دیوه ښامارله خیټي اونفوذه یې پوره لاځان نه وي خلاص کړي چې دبل هغه په خوله کې ولویږي .دیوې پیړۍ څخه په کمه موده کې موږددرونږیخورو ښامارانو (برتانیې ،شوروي اتحاداوناټو)په خوله کې لویدلي یو ،دوولومړیوهغوڅخه مونه تنهاځان خلاص کړی ،بلکي نوروته موهم ترې نجات ورکړی دی اوددریم هغه (امریکااوملګرو)سره یې دتیرویولسو کلونوراهیسي داسلامي امارت په قیادت پنجه نرمه وو،دخدای په فضل اودشازلموپه وینه اوتوره دنوروسیمودلاندې کولوتومنه خونه لري ،بلکي ورځ په ورځ یوپه بل پسې لوېې لوېې سمځي اوپټنځایونه (بیسونه)تخلیه کوي ،نورنوخدای خبرچې دوړوپزه به جوره کړي ،زموږله ویاړلي ټاټوبي به په ماتوککروپښې سپکي کړي اوکه به دیوویشتمي پیړۍ په پوریوکي د غازیانو په لاس دنړیوالوننداري ته دژوندوروستۍ سلګۍ ووهي.

دهیوادپه ګوټ ګوټ کې داسلامي امارت پراخ اوهراړخیزکامیاب فعالیت اوپه وراندي یې ددښمن تیټ سرونه زیری ورکوي چې دمیزان دشپږمې په څېرپه دیرغل ،وحشت ،ظلم اوفسادلمن تولیږي اوپرځای به یې شرعي ،خپلواک ،مترقي اوولس خوښی نظام راځي.انشاءالله

د محمد مرسي

له ننګونو او بریالیو ډک یون...

"بشیر"

د اټکل سره سم د مصر نوي منتخب ولسمشر "محمد مرسي" په لنډ وخت کې ځان د اسلامي نړۍ د مشهورو مشرانو په کتار کې ځای کړ، بې له شکه چې مصر په اسلامي نړۍ او په خاصه توګه عربي نړۍ کې د خپل سیاسي، اقتصادي، عسکري، او جغرافیوي اهمیت له پلوه یو داسې ځای لري چې د تاریخ په هره دوره کې یې ځان ته د نورو پام اړولی.

د حسني مبارک ظالمانه واکمني نړیدلې، کرار کرار د غرب پلویو پرځي د کټاتوران نور رول او کردار کمزوري شوي او د ترکي په څېر مصر هم د امریکا او اسرائیل له مونګولو څخه په وتو دی، چې دا د امریکا او اسرائیل دواړو لپاره یوه اندېښنونکي منفي پېغام دی.

په مصر کې رامنځته شویو بدلونونو ته په پام داسې برېښي چې دېره نوي منځني ختیځ هېلې توکېدلې، په روستیو کې چې کوم بدلونونه په منځني ختیځ کې رامنځته شول هغه تر ډېره د غربي کړیو په خاصه توګه د امریکا او اسرائیل د پوهاوي لپاره بس دي، او جوته ده چې امریکا او غرب تل د دغه سیمې له سیاسي قیادتونو څخه د خپلو ګټو لپاره کار اخیستی او د خپلو مخود ترلاسه کولو وروسته تري په شاه شوي، دا کومه پټه او نیناځبره نده، د منځني ختیځ له زیاترو واکمنو څخه امریکا خپل کار ترهغې اخیسته چې څو هغوی

د امریکا د ګټو لپاره اهمیت لاره، خو کله چې امریکا پوه شوي چې هغوئ نور بې کاره پرزو وړته دي، بیا یې تري خپل مخ په بله اړولی.

د یوولسم سپتمبر وروسته امریکا او غرب چې په څومره ظالمانه توګه نړۍ کې مسلمانان د خپلو وحشتونو ښکار کړل، د هغو په نتیجه کې مسلمانانو کې څه نیمه غونډې بیداري او د ویښتابه روحیه پیدا شوي، په یو شمېر عربي هېوادو کې د پخوانیو رژیمونو د کړو وړو پر ضد پاڅونونه وشول، د کومو په ترڅ کې چې هلته د غربي هېوادو د مکرو څېرو څخه پردې پورته شوي، او د غربیانو اغېز او رول ته درند زیان واوښت چې له دې امله هغوئ اوس سخت اندېښمن دي.

په مصر کې دحسني مبارک رژیم له نسکوریدو وروسته غرب پلوو داسي شکوک او شبهات شیندل، چې ایا داخوان المسلمین پشان ګوند به دمصر د پوځي شورى په شتون کې کار وکړای شي ؟ ایا یو کامیاب او پیاوړی حکومت به جوړ کړای شي؟خو واک ته په رسیدو سره محمد مرسي وښوده چې هغه په نهایتي تدبر، سوچ، او فراست سره چاري چلوي، هغه په ډیر کم وخت کې وکړای شول چې دمصر په سیاسي، اقتصادي، او دولتي چارو کې دمصر د پوځ رول او لاسوهني ته دپای ټکی کېږدي، په دې هغه نه یوازې مصریان بلکې امریکا او غربیان هم حیران کړي.

څنګ چې په مصر کې دولسمشرۍ په ټاکنو کې داخوان المسلمین بری دامریکا او اسرائیل لپاره یوه تاریخي جټکه وه، هم داسي دپوځي شورى دمشر او ددفاع وزیر محمد حسن الطنطاوي ګوښه کول او له دندي څخه مستعفي کول ته شړل دویمه جټکه وه.

ولي چې طنطاوي او دهغه پوځي ټیم دامریکا او غرب ملاتړي وه، دهغوی بي واکه کول د امریکا او اسرایل لپاره مرګونی پیغام دی ! دهغه وروسته دپوځ هغه ټول لوړ رتبه جنرالان چې ورته دحسني مبارک رژیم ترفیع ګاني ورکړي وي، ټول له دندو څخه ګوښه کول دمرسي بله لویه لاسته راوړنه ده.

ډکتور نکویه اند: دتهران په سرمشریزه کې دمحمد مرسي په ګډون امریکا او اسرائیل ټکان وخوړ، ولي اسرائیل او امریکا دواړو دغي غونډې ته وړاندې په محمد مرسي فیشار اچاوه، چې هغه باید دتهران په غونډه کې ګډون ونکړي خو مرسي له کومي پروا پرته دتهران په غونډه کې ګډون وکړ، دشنانډو په قول: دا دهغه دسیاسي هوښیارتیا ښکارندویه ګام دی، که څه هم مرسي په تهران کې دایراني دریغ په ګلکه مخالفت وکړ او دشام دبشار الاسد رژیم یې وغانده، چې له امله یې دبشار لاسد

دحکومت استازي دیته اړشول چې دغونډې له تالار څخه احتجاجا ووځي، په دي سره که هغه په عربي هیوادو کې خپل شته مقبولیت نور هم سیوا کړ، خو بل پلو یې له ایران سره دڅلویښت کلو راهیسي دامریکو دتعطل پالیسۍ ته هم دپای ټکی کېښود.

مرسي څو ورځي وړاندې په قاهره کې دعربي هیوادونو دبهرنیو چارو وزیرانو ته پخپله وینا کې موږ څرګند کړ چې ډیر ژر به بیا قاهره دعربي دیپلوماسۍ په مرکزیت بدله کړي ترڅنګ یې په عربي هیوادو غږ وکړ چې سملاسي دي په سوریه کې دروانې وینې تویدنې دمخنیوي لپاره پوره قدم شي، هم یې په څرګندو ټکیو کې وویل: چې مصر په کلکه دبشار الاسد داستعفی غوښتنه کوي او ژر به دسوریې په شخړه باندې دغور لپاره دسعودي عربستان، ترکیې، ایران او مصر ګډه غونډه راوغواړي، ښکاره ده دسیمي ددغو څلورو هیوادو له منځه مصر، سعودي، او ترکیه دبشار لاسد داستعفی غوښتنه کوي خو ایران بیا له هغه څخه ګلک ملاتړ کوي او دهغه ترشا ولاړ دی، له دي وجې ناشونې ده چې ایران ددغو څلورو هیوادونو له دریځه ملاتړ وکړي، خو بیا هم ددغو څلورو هیوادونو یوځای غونډیدل ددي خبرې څرګندونه ده چې دمصر نوی ولسمشر تکل لري چې مصر بیا دسیمې سیاست په مرکزواروي، دمصر نوی حکومت چې په څو میاشتو کې دخپل رول رینبې ګلکوي ترڅنګ یې په بهرنۍ کې هم خپل سیاسي مقبولیت یو په دوه کوي، داسي برېښي چې مصر به ډیر ژر له څانه دامریکا د ګوډاګیتوب تور داغ لري کړي، او په سیمه کې به دعربي سیاست مرکز کېدو په لور ګام پوره کړي !!

دسیاسي پوهانو له نظره دمصر دنوي ولسمشر لخوا لومړی سعودي عربستان، بیا فلسطین، وروسته چین او اوس تازه ایران ته په سفر تلل ژوره معنویت او مفهوم لري، په دې لړ کې جالبه داده چې اسرائیلي صدراعظم نتن یاهو په څوځله له ښاغلي

مرسي سره د امریکې نیولو هڅه کړې، خو هر ځل د هغه له خوا د ورته ځواب په انکار سره ویل شوی، اسرائیل پلوي مبصرین د دغه غاصب دولت چارواکو ته سلاوره کړې چې د مرسي پشان د متحرک ولسمشر سره د معاملاتو طی کولو لپاره اشد ضرورت

دی، باید په غفلت کې پرینږدي!

د بهرنیو تنګونو سرېیره محمد مرسي له کورنیو تنګونو سره هم مخ دی، خو ښکاري داسې چې هغه په کورني محاذ هم د بري په لور ګامونه اخلي، او د پخواني رژیم پاتې شوني یو پر بل پسې له ډګره څخه ګوښه کوي، کله چې د دفاع پخواني وزیر محمد حسن الطنطاوي یې له ډګره څخه ګوښه کړ، تو له نړۍ حیرانه وه، د دې ګام پورته کول دومره ناڅاپي وه چې د امریکا په څېر د مصر پوځي حلیف هیواد هم دا فرصت پیدا نکړ چې څه ویلو ته خوله چوله کړي، د هغه له ګوښه کولو وروسته په پوځ کې په لوړو ډګرو د یو شمېر پوځي چارواکو د ګوښه کولو په لړ کې د پوځ نوي مشر او د دفاع وزیر عبدالفتاح السیسي د څمکني پوځ نه ۷۰ تنه لرې کړل هم یې د پوځي شورۍ شپږ نور غړي لرې کړل، د خبرو سرچینو له قوله عبدالفتاح السیسي تر اوسه پخپله خای د پوځي استخباراتو په ډګره هم څوک نه دی ګومارلی، څوک چې د دفاع وزیر په حیث

دنیا کل کېدو څخه وړاندې په دغه څوکۍ ناست و، کله چې محمد مرسي د مصر ولسمشر شو، ډېرو دا فکر کاوه چې هغه به خامخا د پوځي شورۍ په شتون کې د ولسمشرۍ د څېنو واکونو څخه لاس په سر شي، او ګام په ګام به د پوځ نه رهنمایي اخیستونه اړ وي، څکه چې د حسني مبارک په وخت کې پوځ په ملکي چارو کې زیات دخیل و، خو واک ته په رسیدو سره مرسي دا تاثر وړ کړ چې هغه یو ځواکمن ولسمشر دی او کرار کرار یې د پوځ رول کمزوری کړ، په پوځ کې د ستر ویدلونو په راوستو هغه نه یواځې خپل تول واکونه د پوځ نه تر لاسه کړل بلکې ثابته یې کړه چې په هیواد کې اوس هغه (ولسمشر) د پوځ نه زیات ځواکمن دی، اسرائیلي رسنیو د مصر د پوځي قیادت ګوښه کول د امریکا لپاره ستر ګوزار ګڼلی، او زیاتوي چې نوی ولسمشر د مصر پوځ په اسلامي ایډیا روزي، د اسرائیل لپاره بله د اندیښنې وړ داده چې د مصر د نوي ولسمشر په راتلو د مصر او حماس ترمنځ اړیکې دوستانه شوې دي، نوي ولسمشر د رفاه بندر د حسني مبارک وخت پرخلاف د فلسطینیانو لپاره خلاص پرېښود، حماس هم نوی مصري دولت نه یواځې تسلیم کړی دی، بلکې هغه ته یې بنه راغلاست ویلي، د مصر نوی حکومت د فلسطینیانو سره د خواخوږۍ ښودو په نیت هغه فلسطیني بندیان (چې د حسني مبارک رژیم نیولي وو) تول خوشې کړل د مصر د بهرنیو چارو دوزیر په توګه د نبیل العربي ګومارل د اسرائیل لپاره د رېږه شدیده جټکه ده، ولې چې نوموړی اسرائیل د خان لپاره شدید دښمن بولي، لذا داچې د مصر نوی ولسمشر د خورا لویو تنګونو سره مخ دی، او داسې بریښي ګه هغه هم داسې څوکاله په واک کې پاتې شي، نو به باوري سره چې د مسلمانانو د ښو مشرانو په صف کې به شمار شي...

بـــهـيـر

دحقاني شبکې وجود...؟

افغانان په دي نوم کومه ډله او غورځنګ نه پېژني ،خو تعجب دی چې وړانده امریکايي چارواکي او غربي رسنۍ دخپل باطني خبث څخه نه اوړي او بیا بیا داسلامي امارت ځیني مخلص مجاهدین کله په یوه او کله په بل نوم تورنوي ،له داسي کولو نه د دوئ موخه داده څو بیرون ته دا وښایې چې افغانستان کې دروان جهاد اومقاومت رهبري یوه نده ، هدف اومرام یې یو ندی ، ترمنځ یې داسلامي او افغاني وحدت رشته نړیدلې ، هریو یې ځان ته جلا ډنګوي، خو پر دي دمجاهدینو هغه درانه باور او اعتماد ته زیان ورسوي ،کوم چې هغوئ دنړۍ دمسلمانانو په زړونو کې لري ،ولې دشوروي ښکېلاک پرضد دتېر جهاد پر مهال دمجاهدینو دبېلا بېلو ډلو او تنظیمونو له شتونه افغانان او دنړۍ مسلمانان ښې خاطري نلري ځکه دهمدي مختلفو ډله بازیو او تنظیمونو دخپل منځي تربګنیو او رقابتونو په وجه افغانان په سمه او پوره توګه دتېر جهاد له خوږو څخه برخمن نشول ،اوس چې له نیکه مرغه مجاهدین ددښمن په وړاندې یوصف اویوسنګردي ،نو ددښمن په زړه کې شته کنده ترهغه نه هوا ریږي ،خو یې دمجاهدینو ترمنځ دنفاق او شقاق تخمونه شیندلی نه وي ،خوداچې داسلامي امارت فعال او مدبرانه قیادت دیته ښه دقیق متوجه دی او په کلکه ددښمن ټول شوم پلانونه څاري، له وجي يې دښمن ندی توانیدلی چې خپل دغه ابلیسانه عمل سرته ورسوي بلکې دمجاهدینو په لیکو کې دپخوا په نسبت لازیات وحدت او دیوالي روحیه ترسترګو کیږي او دافغانانو په ګډ کاله د راغلي دښمن په مقابل کې ټول یوصف اویوسنګردي او دیوه بیرغ لاندي دیوه امیر اطاعت کوي.

هو ! د حکمتیار په مشری د اسلامي حزب دیوي برخي پرته دصلیبي یرغل په مقابل کې نورټول ولاړ او سربښندونکې افغاني مجاهدین دمحترم امیرالمؤمنین (ملامحمد عمر مجاهد حفظه الله) سره بیعت دي ،او په ډیرویاړ دهغه له حکمونو او فرمانونو څخه پیروي کوي.

دمجاهدینو په لیکو کې دغه سرتاسري یو والی اوپراخ اتحاد دافغانانو ددین او عقیدي دښمن ته دزغملو ندی، هغه کوښښ کوي چې په یوه نه یوه وجه مجاهدین بیرون ته په څوډلو ویشلي تبلیغ کړي.

خو مونږ دي مکار دښمن ته وایو: تاسي تیروتنه کړي ناسم انتخاب مو کړی ، داسلامي امارت په لیکو کې اختلاف اودرز راوستل ستاسو له وس وتلی کاردی، تاسي په دروغ دیو داسي چا په نوم دي کرغیړن کارته ملا تړلې ، چې دهغه ژوند او ټوله ماضي په اتحاد او یو والي کې تیره ده ، هغه دافغانانو ترمنځ داتحاد او اتفاق د کلک داعی په حیث شهرت لري او ترپل هر مجاهد زیات اسلامي امارت او امیر المؤمنین ته وفادار دی.

هو ! مولوي جلال الدین حقاني زمونږ دتیر دوران سازانقلاب او جهاد یوه پېژندل شوي څیره ده ، هغه یو داسي دروند جهادي شخصیت دی، چې ټول ژوند یې دحق اوداعلاء کلمة الله په مبارزه کې تیر شوی ، د هیواد دازادۍ په لاره کې ورکړي ستري قرباني او ځلانده کارنامي یې دافغان ویاړلي تاریخ لوی باب جوړوي.

نومړی داسلامي امارت درهبري شوری غړی او داوسني جهاد له بنسټ اېښودونکو څخه دی ، هغه کوم جلا ګونداو ډله نلري دنومړي له نوم سره د "حقاني" لاحقه په دي

الا ای کفر عالم باخبر شو!!

ابو مقدام مهاجر

عزیزانم پدید آمد سعـــادت
که پیوستم به میدان شهادت
ازاین دنیا وشهوتهای زارش
گذشتم تندرست وبا سلامت
دگر طاقت ندارم من که بینم
زنند خنجر به دینم با جسارت
وذبح کودکـــان بی پنـــاه را
وهتک شیرزنهای شرافت
عجیب است گر نشینم من بخانه
شود امت مواجه با خسارت
وازدینم روان شود خـــونهـــا
چه گویم من به فردای قیامت
الا ای کفر عالم با خبر شـو
که میدان پرشد ازشیران امت
کنند بازی به زخمها وبه مرگها
نمی ترسند زاشرار ضلالت
شناور در دم وخونهای دشمن
بریزند خونشان را بی نهایت
بهشت وحور وگلهای معطر
مهیا شد به پاس این رشادت
دلیرعصـــر غربت ومذلـت
بزن بر ریشه ی کفر وبغاوت
تو آور ارمغان فتح ونصـــرت
که بنمایند جوانان اقتدایت
جوانان تابه کی در خواب غفلت
ودلبستن به راه های شقاوت
رفیقانت برفتند وگذشتـــند
شجاعانه صبور وبا شهامت

نعت شریف

حاجي محمد اواب

داخـــلاقـــو پســرلي د ي لكـه گـ ل خو يونه راوړل
تا وبــ ن د دي ن ري تــه خ ه ســـنبل خـــو يونه راوړل

تــر ي زرئ ي وراڭـ ي اوري،ستا هر كار در ن ا ځلی
تا پهتور وتاريكو ك ي خـل اوبـل خو يـونه راوړل

تا پهز رهكي د ظلمونو، سپ ينكي توغ د عدل جه ك كړ
دا دي خ ومره ښ ه سپ يځ لي او اتل خـــو يونــه راوړل

تا لمبي د نفاق م ري كـړي، داخوت په باران بـانـد ي
تا عجی باو پهز رهپوري،ز رهتـــل خو يونه راوړل

تهدامـــن پيـــغمبر يي ،اي د درست جهان رحـــمته!
تا دعـــلم، حـــلم، عفو، خ ه مـــش ځل خو يونه راوړل

ته د ســتـــرو كـــمالاتو ،خـــزانه يي پـــاك رسوله!
ما عاجز اۆاب دي دلته، دي راقـــل خو يـونه راوړل

کلک عزم

عرفان الله عرفاني

اوس مې هم يو لاس كې توره بل كې ډال ده
دامې فن دامې هنر، دامې كمال ده

له فطرته مې نفرت له غلامی ده
ما په سرو ونيو ګټلی استقلال ده

په ما پاتې جواب څكه د چانشته
ماحل كړی دهر چا د مينې سوال ده

لامې غښی دغليم په تټر خښ دی
مامات كړی دهرعصر هر دجال ده

دپر سرمسته مو له زوره غورځولي
ورشه وېې كره پوښتنه څه يې حال ده

له جهاد اوله جنګونو ستړي نه يو
له پخوانه مو كلك عزم لوړ مورال ده

پرافقو راخورې سپينې سپيدې دي
دتورتم زره كې بل كړی مو مشال ده

عرفاني چاچې زمونږه سيالي كړې
اوس په حال دتنزل او دزوال ده

خوږولې نړۍ

نبیله غزل

د بې غمۍ په خوب ویده، د مرګ په خوب ویده ده
چېغې مې نه اوري زمانه، د مرګ په خوب ویده ده

پرهر دې غلې کړه، راوینښ نه شي، چې شر به جوړ شي
زړګیه ټوله ښاریه، د مرګ په خوب ویده ده

په پرنګۍ سینه تمغه مې د بابا د نامې
د پښتنو څلمو جذبه، د مرګ په خوب ویده ده

غازي لالیه سترې مه شې، ستا ماشومه لورکۍ
په ګلابونو کې پرته، د مرګ په خوب ویده ده

دنیا، له دې نه پس دنیا نه ده چې چو په خوله ده
بس لکه ګونګه هدیره، د مرګ په خوب ویده ده

د تخیل راګونه وچېره، که رنګ وا روي
غزل! د فکر انګېزه، د مرګ په خوب ویده ده

خوب او تعبیر

نذیر احمد نذیر

خوب وینمه دښته وي په سرو تیږو روانه وم
ورکې مې څپلکې شي، سترې وم ستومانه وم
ومې خوړ تیتند ک، تیږو کې بېمخې ګذاره شوم
مات مې شو د مخې غاښ په دې کې رابیداره شوم
ما وو اوریدلي چې د مخې غاښ سړی دی
شکر دی چې کور دی او ډیر شکر چې ژوندی دی
خدای خو مې دې وساتي له ورځې د سرتورې
ژوند د ستومانیو نوم دی، ژوند دی ستغې سپورې
نن مې ولې هیڅ شي ته لاس نه ورځي حیرانه یم
خدای خبر د څه سایه پرته ده چې ناتوانه یم
ټول د کور کارونه راته سر په سر پراته دي
ته وا، چې له خاورو راوتلي مې واړه دي
نن مې ورځ په څنګه شواخون باندې شوه تیره
ته واه شپه د ژمې میږتون باندې شوه تیره
شکر دی چې تیره شوله، شکر دي شوه تیره
خدای خبر چې ولې مې لا هم ده زړه کې وېره
تیت شو هیبتناک د الوتکو غړ له پاسه
بیا به وایه څوک د زړه ټوټې ورکړي له لاسه
بیا د کوم مظلوم په کور درنه چاپه پریوځي
مرګ لکه تیاره دلته کې هره شپه پریوځي
اخ دا خو زموږ د کور سپیره دروازه نشته
چیغې دي، له کور مو د وتو اجازه نشته
مه ورځه د زړه سره دوی ټول لکه ړانده دي
نه چې مې سرتوره کړي، په رحم، عذر نه دي
اخ دا خوبې وویشتې، نو زه دې چاته پرېښوم؟
تا خو لاس بسته د بې کسۍ بلا ته پرېښوم
دوی خو د مرګ لپاره دې کور ته راغلي
ما درته ونه ویل دوی ړانده دي، دوی دې ولي

الا ای کفر عالم با خبر شو!!

ابو مقدام مهاجر

عزیزانم پدید آمد سعــــادت
که پیوستم به میدان شهادت
ازاین دنیا وشهوتهای زارش
گذشتم تندرست وبا سلامت
دگر طاقت ندارم من که بینم
زنند خنجر به دینم با جسارت
وذبح کودکــــان بی پنــــاه را
وهتک شیرزنهای شرافت
عجیب است گر نشینم من بخانه
شود امت مواجه با خسارت
وازدینم روان شود خــــونهــــا
چه گویم من به فردای قیامت
الا ای کفرعالم با خبر شـو
که میدان پرشد ازشیران امت
کنند بازی به زخمها وبه مرگها
نمی ترسند زاشرار ضلالت
شناور در دم وخونهای دشمن
بریزند خونشان را بی نهایت
بهشت وحور وگلهای معطر
مهیا شد به پاس این رشادت
دلیرعصــــر غربت ومذلــت
بزن بر ریشه ی کفر وبغاوت
تو آور ارمغان فتح ونصــرت
که بنمایند جوانان اقتدایت
جوانان تابه کی در خواب غفلت
ودلبستن به راه های شقاوت
رفیقانت برفتند وگذشتنــــد
شجاعانه صبور وبا شهامت

نعت شریف

حاجي محمد اواب

داخــــلاقــو پســرلي د ي لکــه ګـل خو يونه راوړل
تا وبــ ن د دي ن ري تــه خ ه ســـنبل خـــو يونه راوړل

تــر ي زړن ي ورانګــ ي اوري، ستا هر کار د ر ن ا څـل ی
تا په تور وتاري کو ک ي څـــل او بـــل خو يــونه راوړل

تا په ز ړه کې د ظلمونو، سپ ينکي توږ د عدل جـ ګ کړ
دا دي خ ومره ښ ه سپ ېڅ لي او اتل خــــو يـونــه راوړل

تا لمبې د نفاق م ړې کړې، داخوت په باران بـانـد ي
تا عج ی ب او په ز ړه پوري، ز ړه تـــل خـو يـونه راوړل

ته دامــن پيــغمبر يې، اې د درست جهان رحـــمته!
تا د عـــلم، حـــلم، عفو، خ ه مـــش ځل خو يـونه راوړل

ته د ستـــرو کـــمالاتو، خـــزانه يې پـــاک رسـوله!
ما عاجز اواب دې دلته، ډې راقـل خو يـونه راوړل

کلک عزم

عرفان الله عرفاني

اوس مې هم يو لاس کې توره بل کې ډال ده
دامې فن دامې هنر، دامې کمال ده

له فطرته مې نفرت له غلامی ده
ما په سرو ونيو ګټلی استقلال ده

په ما پاتې جواب څکه د چا نشته
ماحل کړی د هر چا دمينې سوال ده

لامې غشی د غليم په ټټر خښ دی
ما مات کړی د هر عصر هر دجال ده

د ېر سر مسته مو له زوره غورځولي
ورشه ويې کړه پوښتنه څه يې حال ده

له جهاد او له جنګونو ستړي نه يو
له پخوانه مو کلک عزم لوړ مورال ده

پر افقو راخورې سپينې سپيدې دي
د تورتم زړه کې بل کړی مو مشال ده

عرفاني چاچې زمونږه سيالي کړې
اوس په حال د تنزل او د زوال ده

امریکايي سفیران ولې وژل کیږي ؟!

عبید تنویر

په تاریخي لحاظ که دامریکا سیاست ته وکتل شي ، له شک پرته دې نتیجه ته رسیدای شو چې امریکایي واکمنو په بهرني دنیا کې خپل سفیران دسیاسي اودیپلوماتیکو دندواوهڅو په ځای استخباراتي اوپټو هلوځلو ته ډیر ګمارلي او په همدې برخه کې یې ترې ډیر کاراخیستی اوبایې اخلي . همداوجه ده چې له بل هر هیوادڅخه زیات امریکایي سفیران په نړۍ کې دولسونو دقهر هدف ګرځي ، وژل کیږي او دخپلو ناولو کړنو په سزا رسیږي چې یوڅو بیلګې یې په لاندې ټکو کې موندلای شي

په کال ۱۹۶۸ م کې دګواتمالا په هیواد کې چپیانو د امریکاپه سفارت برید وکړ ، دسفیر په ګډون یې یوشمیر امریکایي اتباع له منځه یوړل اویوشمیر یې هم ژوندي یرغمل ونیول .

دغه راز په سوډان کې په کال ۱۹۷۳م کې امریکایي سفیر ړومبی وتښتول شو اوبیا ووژل شو . په همدې ډول په ۱۹۷۴ م کې په نیکوزیاکې دامریکایي سیاستونو په مخالفت کې دعامو خلکو له لوري امریکایي سفیر په ښارورځ په مرمیو غلبیل غلبیل شو

په بیروت کې امریکايي سفیر په کال ۱۹۷۶ کې ووژل شو . په کال ۱۹۷۹م کې په افغانستان کې امریکایي سفیر ړومبی ژوندی وتښتول شو اوله څو ورځو تیریدو ورسته یې جسد په کوم غره کې وموندل شو . داډول په پاکستان کې امریکایي سفیر په کال ۱۹۸۸ کې دالوتکې دغورځیدوپه پیښه کې له منځه یوړل شوو . دغه راز ددار السلام په پایتخت نایروبي کې دامریکاپه سفارت دچاودنو په ترڅ کې دسفیرپه ګډون یوشمیر امریکایي دیپلوماتان ! دمرګ خوراک شول.

بایدهیره نشي چې په امریکایي سفار تونو او کونسلګریو کې هغه بریدونه چې مرګ ژوبله یې نه وي رامنځته کړې خو امریکایي ودانۍ او مراکزیې سوځولې وي مثالونه یې په نړۍ کې په لسګونو او سلهاوو دي

اوس به راشو دهغه امریکایي سفیر انجام اودعمل سزا ته چې دسپتامبر په ۱۵ نیټه دلیبیاغازیانو ورسره محاسبه وکړه او بلاخره یې په مرګ محکوم کړ

په لیبیاکې امریکایي سفیر څوک وو؟

دسولې څواک ، داهغه رسمي دولتي بنسټ اوسازمان دی چې دامریکادداوطلبو ځوانانو څخه جوړ اوتشکیل شوی ، چې بنسټ یې دامریکادوخت ولسمشر (جان اف کندی) په ۱۹۶۱م کال کې ایښی وو اود کارمهم عنوان یې له دریمې کچې یاورسته پاتې هیوادونوسره دامریکادمرستو تنظیم اوانسجام وو

دسولې څواک ، رسمي اواعلان شوی رسالت په دریو کټه ګوریو کې خلاصه کیدای شي

ړومبی ، له هغوهیوادونو اووګړوسره دامریکادمرستو عیارول چې امریکایي ګټې هلته خوندي اومتحققي وي ، دریم له امریکایې ولس سره داړواومحتاجو هیوادونو اوخلکو داړیکو اوتفاهم قایمول اودریمه موخه خپله دامریکایي ولس په منځ کې دهغومرستواواړیکوپه اړه چې دسولې څواک په مټ له اړوهیوادونو اوملتونوسره قایمې اوتر سره شوي اګاهي ور کول

له همدې امله ویلای شوچې دسولې څواک په حقیقت

کې دامریکادرواني عملیاتو هغه لښکر اوځواک دی چې دبشري
مرستو ترنامه لاندې په محتاجوهیوادونو کې دامریکایي ګټو
اومنافعو تحقق اوخوندیتوب غواړي اوعمومي اذهان اوافکار
دامریکاپه نفع اړول غواړي

په لیبیاکې دامریکاوژل شوی سفیر . جان کریستوفر
استیونس چې پنځه پنځوس کاله یې عمر لاره اوداسلام
ضداقداماتو په غچ کې ددغه هیواد غازیانو ښکار وګرځاوه ،
دامریکادسولې په ځواک کې مهم اوبرجسته غړی وو

سفیر استیونس ، وروسته له هغه چې دکالیفورنیاله
پوهنتون څخه یې دفراغت سند ترلاسه کړ سم دلاسه دسولې
ځواک ته جذب اوشامل کړای شو. دکار ړومبی سفریې المغرب
هیواد ته وو ترڅو هلته خلکوته انګلیسي ژبه ورزده اوخپله هم
عربي ژبه ترلاسه کړي .

داخبره هم کره ده چې دسولې ځواک اعضا دبنې
کارکردګي له وجې دامریکاځارګرې شبکې (سی ای اې) ته هم
ښه مقبولیت لري . وېل کیږي چې شبکې دسولې ځواک ډیری
غړي په نړۍ کې دفرهنګي اوعلمي مرستو ترنامه لاندې دپټو
اواستخباراتي معلوماتودلاسته راوړلولپاره استولي

سفیر په 1991 کال کې عملا دامریکادبهرنیوچاروپه

وزارت کې داخل او په اسرائیلو ، دمشق ، قاهره اوریاض کې یې
په سفارتونو کې دتجارتي اتشي دمسئول په حیث دندې سرته
ورسولې

هرکله چې په لیبیاکې دامریکا، برتانیې او فرانسې په
مستقیمه ونده بحران پیل شو ، جان کریستوفر استیونس
دامریکادبهرنیو چارودوزیرې (هیلاری کلنټن) ړومبی
اومعتمداستاځی وو چې په کشتۍ کې دلیبیابنار (بنغازی) ته
ولاړ ترڅو دمعمر القذافي له مخالفینوسره اړیکې ټینګې کړي ،
کله چې دقذافي رژیم ړنګ شو. نوموړی دلیبیا لپاره
دامریکادسفیرپه حیث په دنده وګمارل شو

جان کریستوفر استیونس ، که څه هم ځان دیوه
امریکایي دیپلومات په څیره کې معرفي کاوه ، خوپه حقیقت
کې هغه داسلام اومسلمانانوپه ضد داسرائیلي اویهودي دسیسو
دیوه پلي کونکي ماشین په توګه په اسلامي هیوادونو کې ګړندی
فعالیت درلود اودامریکادیوه پوځي جنرال په صفت یې په
خوراسختوشرایطو کې دندې سرته رسولې چې دقذافي رژیم په
خلاف یې په جنګي حالت کې دلیبیا بنغازي ښار ته په کښتۍ
کې سفرهغه څرګنده بیلګه ده چې په دغسې یوه ناسم حالت
کې ښایي یوه دیپلومات ته ګرانه وي چې سفر وکړي ، خو دغه
دیپلومات ړوله امریکایي جنرال په همداسې یوه جګړییز
اوکړکیچن حالت کې لیبیا ته داخل شو څو هلته اړودوړ ته
عملي زمینه سازي وکړي اوپه ترڅ کې یې دنوموړي ماره
اوخودکفاعربي هیواد اقتصادي ډانچه ویلې
اوپوځي زوریې اوبه کړي

چې بالاخره دغه بدمرغه شیطاني څیره
اسلامي جذباتو راګیر اوپه امریکاکې داسلام
دسترپیغمبرصلی الله علیه وسلم دتوهین په نیت
اودخپور شوي فلم په انتقام کې هدف وګرځول
شو اودنړۍ دنیږدې دوملیار دومسلمانانو زړونه
پرې څه ناڅه یخ اوامریکایي ګستاخانو
اوګمراهانو ته یې مناسب برخلیک ورپه ګوته کړ.

سږ کال د بامیان ولایت درې ولسوالۍ

تر جهادي پوښښ لاندې راغلې

ابو عابد ....

بامیان ولایت دافغانستان دمرکزي ولایاتو له جملې څخه دی ، چې دافغانستان یو شمیر مرکزي ولایاتو لکه پروان ، بغلان ، سمنګان ، سرپل ، غور ، دایکندي ، غزني او میدان وردګ ولایاتو احاطه کړی دی ، دبامیانو ځمکنی مساحت ۱۷۴۱۴ کیلو متره مربع دی ، او نفوس یې تر دوه نیم لکه زیات اټکل کیږي.

بامیان ولایت د شیبر ، کهمرد ، سیغان ، پنجاب ، ورس ، یکاولنګ او بامیان په نومونو اوه ولسوالۍ لري ، او مرکز یې دبامیان ښار دی ، ددې ولایت زیاتره سیمې غرنۍ دي ، او خلک یې دافغانستان تر ټولو غریب او دژوند له اړتیاوو بې برخې خلک بلل کیږي.

دبامیان ولایت او سیدونکي زیاتره په قوم هزاره او شیعه مسلکه دي ، ددې ولایت یوازې په کهمرد او شیبر ولسوالیو کې یو څه شمیر تاجک او پښتانه سنیان میشت دي ، چې د ټول ولایت دنفوس په سلو کې پنځلس جوړوي.

سره له دې چې بامیان ولایت د شوروي یرغل په مهال دجهاد یو محکم سنګر وو ، خو دامریکایانو دیرغل په مهال په دې سیمه کې دجهادي عملیاتو بهیر خورا کم رنګه وو ، دبامیانو په ولایت کې دنیوزیلنډ هیواد عسکر میشت دي ، چې دبامیانو په مرکز سربیره په کهمرد ولسوالۍ کې هم مراکز لري .

بامیان چې دامریکایي یرغل په لومړنیو کلونو کې په کې دجهادي عملیاتو څرک نه وو ، په وروستیو دوه دریو کلونو کې دې ولایت ته هم جهادي عملیات پراخ شوي دي ، دبامیانو لپاره داسلامي امارت لخوا تعین شوي مسؤلین وایي ، چې همدا اوس ددې ولایت دریو ولسوالیو ، کهمرد ، سیغان او شیبر ته جهادي بهیر پراخ شوی دی ، په همدې سیمو کې اوس مجاهدین په پرلپسې ډول جهادي عملیات ترسره کوي او دښمن ته درانه تلفات اړوي .

دبامیانو جهادي مسؤلین وایي ، په وروستیو

دوو میاشتو کې دالفاروق عملیاتو په لړ کې په بامیانو کې ۱۴ مهم او بریالي عملیات ترسره شوي دي ، چې کورنیو او بهرنیو دښمنانو ته په کې درانه تلفات اوښتي.

د روان ۲۰۱۲ میلادي کال د اگست دمیاشتې په پیل کې دبامیان ولایت دشیبر ولسوالۍ دتنگي شکاري درې په باغکه سیمه کې کورنیو او بهرنیو دښمنانو غوښتل چې دمجاهدینو په یو ځایي مسؤل چاپه واچوي او ویې نیسي ، خو کله چې دوی سیمې ته راغلل ، دمجاهدینو لخوا ورسره سخته مقاومت وشو ، چې په ترځ کې یې لسگونه کورني او بهرني نیوزیلنډي عسکر ووژل شول ، ددې برید په مهال دنیوزیلنډ حکومت خپله ومنله چې ۴ عسکر یې وژل شوي او ۲ نور یې ټپیان دي.

بیا د اگست په ۱۹نیټه مجاهدینو دکهمرد ولسوالۍ به دواب میخ زرین کې دبهرنیو یرغلگرو په قرارگاه باندې عملیات ترسره کړل ، چې په نتیجه کې یې ددښمن یو ټانک وویشتل شو او له منځه لاړ الاتو نیوزیلنډي عسکروته مرگ ژوبله واوښته ، دهمدې پیښې نه یوه ورځ وروسته مجاهدینو دکهمرد په کلیج کلي کې یو نیوزیلنډی ټانک په ماین منفجر کړ ، چې اوه تنه سپاره یرغلگر یې ووژل شول.

دکهمرد په ولسوالۍ کې دې وروستیو پرلپسې پیښو په یرغلگرو دومره بد اغیز وکړ ، چې دنیوزیلنډ حکومت اعلام وکړ ، چې درا روان ۲۰۱۳ کال ترنیمایي پورې به ټول سرتیري له افغانستان څخه وباسي ، ځکه په دې پیښو کې دوی ته خورا درنه مرگ ژوبله واوښته

دبامیان ولایت دجهادي مسؤلینو په وینا ددې ولایت په درېو ولسوالیو کهمرد ، سیغان او شیبر کې اوس مجاهدین قوي حضور لري ، په اولس کې یې محکم ځای پیدا کړی ، او زیاتره خلک هم ورسره همکار دي ، مجاهدین اوس په لوی شمیر کې عملیاتو ته ځي ، او ددښمن په قرارگاوو مؤثر عملیات او کمینونه ترسره کوي ، دغه راز مجاهدین د سرک غاړې له اماده شویو ماینونو څخه هم په عملیاتو کې کار اخلي.

دبامیانو مجاهدین وایي ددوی تلفات تقریبا دنشت برابر دي او سږکال په داسې حال کې چې دښمن ته یې درنه مرگ ژوبله اړولې دوی یوازې یو ټپي لري.

له بلې خوا دبامیان ولایت مجاهدینو دې ولایت ته ورتلونکي لارې هم ترخپل مراقبت لاندې ساتلې او اوس دښمن نه شي کولای دپخوا غوندې ترې استفاده وکړي ، بامیان ولایت ته ورتلونکي دوه مهمې لارې یوه له کابل څخه تللې دغوربند له درې څخه تیریږي ، او دشیبر په کوتل اوري ، چې دا لار هم په غوربند کې دمجاهدینو ترمراقبت لاندې ده او هم په شیبر کې دبامیانو مجاهدین همیشه پرې کمینونه نیسي.

بله لار دبغلان دتالا وبرفک له ولسوالۍ څخه راځي ، د دوآب میخ زرین څخه تیریږي او بامیان دافغانستان له شمال سره وصلوي ، هلته هم کله یوې خوا په تالا وبرفک کې مجاهدین قوي حضور لري ، بله خوا دکهمرد په دوآب میخ زرین کې هم اوس دمجاهدینو شتون قوي شوی دی ، او دښمن نه شي کولی په دې لارې ترې خپل اکمالاتي موټر تیر کړي.

دبامیانو مجاهدین وایي دهیواد دامرکزي ولایت چې پخوا به غربي یرغلگرو دځان لپاره دافغانستان په سطحه یوازینۍ دارام او سیاحت سیمه بلله ، اوس ورتلونکې لارې دمجاهدینو ترکنترول لاندې راغلي ، له همدې امله که له یوې خوا که دې سیمې ته ددښمن پوځي اکمالات په ټپه دریدلي بله خوا اوس دښمن نه شي کولای په دې سیمه کې دپخوا غوندې ازادانه خپل شیطاني تبلیغاتي او دعوتي پروگرامونه پرمخ بوځي

په تېر پسې........

اسلام او سیاسي اندونه

لیکوال: د اسلامي نړۍ منلی عالم مفتي محمدتقي عثماني

ژباړن: مولوي نور الله عزام

۲ـ دځواک نظریه

دریاست منځ ته راتلو په اړه دوهمه نظریه دځواک ده، دانظریه ځینو فیلسفانو وړاندې کړې ده، هغوی وایي چې په لومړي سر کې په نړۍ کې ریاست وجود نه درلود؛ نو خلکو په خپل منځ کې جګړې وکړې او تر ډېره وخته دا لړۍ روانه وه چې په پایله کې ځواکمن خلک واکمن شول، او د ځواک په مټ دولت منځ ته راغی. ددې نظریې د تعبیر په اړه انګریزان داسې متل کوي: "wars be got state" (جګړ و دولت جوړولو ته لارهواره کړه).

ددې نظریې لنډه پېژندنه داسې ده چې په پیل کې دخلکو تر منځ د دولت په جوړولو کې کوم امنیتي تړون نه و، بلکې هغه مهال هیڅ دولت وجود نه درلود؛ نو دخلکو تر منځ دخپلو ګټو په خاطر جګړې وشوې، په پایله کې چې چا جګړه وګټله هغه واکمن او چې ماتې یې وخوړه هغه محکوم شو.

کوم خلک چې د دې نظریې پلوي کوي هغوی د زور له لارې واکمنۍ ته ځان رسول ظلم نه بولي. ویل کیږي چې ارسطو هم دهمدې فکر پلوي کوله، هغه ویلي: "څوک چې د زور له لارې واکمني ترلاسه کړي په حقیقت کې هغه دخپلې وړتیاله لارې ځان دې ځای ته ور رساوو او د ده ځواک دده د وړتیا څرګندونه کوي؛ نو که دی دخپلې وړتیاله امله واکمن شي دا دعقل او انصاف سره ټکر نه لري.

۳ـ د پلار واکي یا مور واکي نظریه

درېیمه نظریه داده چې د دولت بنسټ له کورنۍ څخه پېلیږي، دهرې کورنۍ یو مشر وي او هغه د خپلې کورنۍ مشري کوي، بیا څو کورنۍ سره یو شي او یو قوم ترې جوړ شي او خپل یو مشر وټاکي بیا څو قومونه سره راټول شي او د دولت بنسټ کېږدي او په خپل منځ کې یو تن مشر کړي. خو که په ځېره وکتل شي؛ نو ددې نظریې او ټولنیز تړون تر منځ ډېر توپیر نه لیدل کیږي، داځکه چې یوه کورنۍ ده، که قوم دی او که زیات شمېر قومونه دي، دوی که مشر ټاکي؛ نو د کوم تړون له لارې به یې ټاکي، که څه هم دا تړون په ژبه وي او یا په عملي نمونه کې پلي شي.

۴ـ د الهي اصل نظریه

دې نظریې ته په انګریزي ژبه کې " Theory of divine origin" وایي، یو ر تني نظرونه یا مفکورې یوازې پر قیاسیاتو او اټکلونو ولاړې دي، دهیچا سره ددې ثبوت نشته چې یو وخت ربنتیاهم دخلکو تر منځ کوم تړون و یاخلکو د ځواک په مټ واکمني ترلاسه کړې ده، ددې نظریاتو بنسټ په حقیقت کې پر هغې مفکورې ولاړ دی چې وایي انسان په خپله نړۍ ته راغلی دی، چاد کومې ځانګړې موخې د پاره نه دی پیداکړی او نه یې هم څوک لاربښود شته، کوم خلک چې پر الله تعالی ایمان نه لري او د اسماني لاربښوونو څخه بې برخې دي؛ نو هغوی داسې

ټول اټکلونو او تخمینونو ته اړ کیږي، د دوی په اړه الله تعالی فرمايي: ومالهم بذالک من علم ان هم الا يظنون. الجاثیه ۲۴.

ژباړه: او دوی لره په دې خبره هیڅ علم نشته، دوی نور څه نه یوازې ګومان کوي.

په بل ځای کې فرمایي: ان یتبعون الا الظن وان هم الا یخرصون . الانعام ۱۱۶. ژباړه: دوی بل څه نه صرف ګومان پسې ځي او له دروغ تړلو پرته نور څه نه کوي.

خو هغه خلک چې پر الله تعالی ایمان لري، او دا مني چې ټول کائنات الله تعالی پیداکړي دي او دیوې ځانګړې موخې له پاره یې پر زمکه میشت کړي؛ نو هغوی دا ټول اټکلونو او قیاسونو ته هیڅ اړ تیا نلري.

دبېلګې په ډول مسلمانان او اهل کتاب په دې عقیده دي چې الله تعالی لومړی ادم علیه السلام پیداکړ او نړۍ ته یې راولیږه او هماغه خدای ، دی پر زمکه واکمن وګرځاوه او نور خلک یې ټول دده ماتحت کړل؛ نو څکه پر انسان داسې وخت نه دی راغلی چې کومه واکمني یا د ژوند چارو د پر مخبېولو د پاره یې کوم قانون نه وي لرلی، له لومړي سره لومړی مشر یارئیس ادم علیه السلام وچې پر خپل اولاد واکمن و.

او دفیلسفانو داخبرې چې یو مهال انسان په فطري حالت " State of nature" کې ژوند کاو، بیا د ټولنیز تړون له لاري دولت منځ ته راغی، یا د ځواک له لارې دولت منځ ته راغلی دی، دا ټولې بې بنسټه دي، داسې ډول افکارو او اټکلونو ته هیڅ اړ تیا نشته، بلکې سهي عقیده داده چې الله تعالی لومړی انسان پیداکړی او بیا یې هغه واکمن یا رئیس وګرځاوه چې همدې نظریې ته دسیاست علم په ژبه د الهي اصل (Divine Origin) نظریه وایي.

دا یوازې د مسلمانانو نظریه نه ده بلکې هغه فیلسوفان هم په همدې عقیده دي چې پر الله تعالی ایمان لري، دوی ټول پر دې یوه خوله دي چې انسان الله تعالی پیداکړی دی او ریاست هم پ هغه پیداکړی دی، خو دمسلمانانو پر ته د ځینو نورومذهبونو لارویان بیا ددې نظریې په تعبیر او څېړنه کې بنویدلي دي او په دې اړه یې د ډېر افراط څخه کار اخیستی.

د مثال په توګه دځیني مذهبونو لارویان وایي چې هر څوک واکمني ته رسیږي دا واک هغه ته الله تعالی ور کوي؛ نو هیڅوک حق نه لري چې دی له واکه ګوښه کړي او نه دې هم د ده د ګوښه کولو کوښښ کوي، څکه چې دی د الله تعالی له خوا ټاکل شوی دی. ځیني خلک خو لا آن دا هم وایي چې که پر یو قوم کوم ظالم او جابر پاچا مسلط شي او پر دوی تېری کوي، دا هم د دوی دعملونو په نتیجه کې پر دوی یو عذاب دی، اوس چې دا دالله تعالی له لوري یو عذاب دی او د الله تعالی له خوښي سره سم پر دوی نازل شوی دی؛ نو دوی نشي کولای په زوره یا سوله ایزه توګه دده دلري کولو کوښښ وکړي. او که داسې وکړي؛ نو مانا به یې داوي چې دوی دالله تعالی دخوښي پر ضد اقدام کوي؛ نو څکه چې څوک پر چا واکمن شي، دهغه اطاعت کول، دهغه خبره منل او دهغه هر ډول امر ته خپل سر ټيټول ضروري دي او هم دا دالله تعالی له خوښي سره سم کار دی.

کوم خلک چې دا عقیده لري په حقیقت کې دوی دالله تعالی دتکویني مشیت او تشریعي رضاتر منځ توپیر نه دی کړی ، دقران او حدیث له مخې داخبره سهي ده چې کله ناکله انسانانو ته دخپلو بدو عملونو له امله الله تعالی د جزا ور کولو په موخه پر هغوی یو ظالم پاچا مسلط کړي. د بني اسرائیل سورت په لومړنیو ایاتونو کې الله تعالی فرمایي چې دبني اسرائیلو دسر غړوني له امله موږ دوه ځله پر دوی ظالم پاچامسلط کړ، دغه راز پیغمبر صلی الله علیه وسلم، وایي: "ستاسو واکمنان ستاسو دعملونو پایله وي"، خو دا د الله تعالی تکویني پرېکړه وي، ددې څخه دا نه مالومیږي چې دظالم پاچا د ګوښه کولو ګوښښ دې نه کیږي بلکې دشریعت له مخې د الله تعالی خوښي په دې کې ده چې خلک له خپلو بدو عملونو توبه وباسي او دظالمانو واکمنانو د ګوښه کولو هڅه وکړي او خپل حکومتي نظام سم کړي.

په عامو حالاتو کې شريعت د داسې واکمنانو د ګوښه کولو له پاره د وسلوال بغاوت اجازه نه ورکوي ځکه چې د داسې بغاوت تاوان تر ګټې زيات وي او شريعت د مسلمانانو پر وينه تويولو ډېر ټينګار کوي چې ددې په اړه به د کتاب په دويمه برخه کې ان شاء الله بشپړ بحث وړاندې شي؛ خو په سوله ايز ډول د داسې واکمنانو ګوښه کول پر هر مسلمان واجب دي.

د دې مثال کټ مټ د هغه چاپه څېر دی چې هغه ته ناروغي ور پېښه شي، هم دا ناروغي ده ته د الله تعالی له ارادې سره سمه پېښېږي او کله ناکله خو هم دا ناروغي د ده د بدو عملونو له امله هم ورپېښېږي، خو ددې مانا دانه ده چې د ناروغۍ درملنه کول د الله تعالی د خوښې خلاف کار دی، بلکې د الله تعالی امر داسې دی چې انسان دې له خپلو ګناهونو توبه وباسي او له روالارې دې د خپلې ناروغۍ درملنه وکړي.

دا د هغو نظرونو لنډ غورځاړ و چې په عام ډول په سياسي علومو کې بيانيږي او هم دا نظريات د بېلابېلو نظامونو د منځ ته راتلو بنسټ شمېرل کيږي.

د نړۍ بېلابېل سياسي نظامونه:

زموږ بله موضوع پر دې خبرو راڅرخي چې د سياست له پورتنيو فلسفوي نظرونو قطع نظر، په نړۍ کې کوم ډول نظامونه په عملي ډګر کې منځ ته راغلي ؟ او حکومت بايد شخصي وي او که ټولنيز ؟ ددې له پاره کوم ډول ځانګړنې اړينې دي ؟ هم دا ځانګړنې څنګه منځ ته راتلای شي ؟ په دې اړه څه ډول تګلاره بايد وکارول شي ؟ د دغو بنسټيزو پوښتنو په اړه چې په کوم نظام کې ځېرني کيږي هغه ته سياسي نظام " Political System " وايي. ترننه چې په نړۍ کې کوم نظامونه پلي شوي دي هغه پر دريو لويو برخو وېشل کيږي:

۱ – شاهي
۲ = اشراف واکي
۳ – دموکراسي (ولسواکي)

دا دري لوی نظامونه بيا په بېلابېلو څانګو وېشل شوي دي، چې دلته يې څه ناڅه پېژندنه اړينه ده.

۱. شاهي نظام:

د تاريخ له پاڼو څرګندېږي چې د نړۍ په سياسي نظامونو کې ټول واکي (شاهي نظام) د نورو په پرتله زيات نافذ شوی دی چې له پيل نه تر اوسه پورې د نړۍ پر مخ په يوه يا بله بڼه راروان دی، او د تاريخ په ډېرو پېښو کې ځانګړی ځای لري.

په ظاهري بڼه "ټولواکي" يو ويو کی دی چې د دولت مشر ټولواک (پاچا) ته کارول کيږي، نوموړی شخصي واکمن وي او په خپل سر د حکومت چارې پرمخ بيايي؛ خو د دې نظام بڼې په بېلابېلو زمانو او هيوادونو کې يو تر بله توپير لري، مانا دا چې دا نظام پر ټوله نړۍ يو ډول نه دی راغلی، په هر پېر کې په مختلفو بڼو رامنځ ته شوی دی چې دلته يې موږ په لنډه توګه رااخلو:

(۱) مطلق العنانه ټولواکي:

ددې واکمنې بنسټيزې ځانګړنې دا دي چې په داسې نظام کې پاچا د قانون يا دستور په منلو مکلف نه وي، بلکې پخپله د نوموړي ژبه قانون وي، دی چې څه وايي هغه به د قانون يوه برخه ګرځي او د چارو په پلي کولو کې به هم له چاسره په مشوره کولو پابند نه وي، او که دی په خپله خوښه له چاسره مشوره کوي هغه به د ده يوه لورينه وي او که مشوره نه کوي: نو څوک پوښتنه نشي ترې کولای، هغه به پخپله د چارو واګې پر مخ بيايي، قانون به پخپله جوړوي او د جګړو پريکړې به هم دی کوي، د قضا پريکړه به هم بالاخره تر ده پورې رسيږي او د ده پريکړه به وروستی. او منونکې پريکړه وي، که هغه په قضايي چارو کې وي او که په پوځي چارو کې، لکه نن چې د پوځ په قانون کې کوم قوانين پلي کيږي چې د پلاني جرم به څنګه او څومره جزاوي ؟ د دواړو تر منځ يوازې دومره توپير دی چې مطلق العنان پاچا په هيڅ قانون منلو مکلف نه وي، که له چا يې بد راشي او پريکړه وکړي چې پلانی دې د خره څرمن وخوري يا دې په دېوال کې وودل شي

؛نو ددې شخص په اړه همداقانون ګرځي . دېته مطلق العنانه پاچاهي وايي او همداسې نظام دفرعون او نمرود په څېر انسانان وزېږول چې آن دخدايي دعوې يې هم وکړې .

(۲) پاچايي شورا :

د شاهي نظام دوهم ډول "پاچايي شورا" ده چې په انګريزي ژبه کې ورته " Counciling monarchy "وايي ، ددې لنډه پېژندنه داسې ده چې په دې نظام کې به پاچاقانون په خپله جوړوي او دچارو پرېکړې به هم دی کوي؛ خو له دې سره سره به له ځان سره يوه شورا هم ساتي او دقوانينو او احکامو په پلي کولو او اجرائيه چارو پر مخ بېولو کې به ورسره مشورې کوي ، بيا همداشورا هم بېلابېل ډولونه لري ، ځيني يې د کونسل "council" ځينی د سنا مجلس او ځينی يې بيا په نورو نومونو ياديږي ، دغه راز مشورې هم يوله بل سره توپير لري . په ځينو ځايونو کې داسې شوي وي چې پاچاله شوراسره مشوره شريکه کړې ؛ خو دهغوی په مشورو منلو مکلف نه وي ، که د مشورې پر خلاف عمل وکړي بيا يې هم څوک له خپلې پرېکړې نشي په شا کولای. او کله داسې هم شوي دي چې پاچا اړ وي د شورا پرېکړه ومني ، شوراچې کومه پرېکړه وکړي ياکوم قانون تصويب کړي پاچابه دهغو په منلو مکلف وي .

په پخواني تاريخ کې ديونان رياستونه تر ټولو مهذب او منظم رياستونه شمېرل کيږي ، هغه مهال هلته دښاري رياستونو "city states" نظام و ، په هر ښار کې به يوه ځانګړې واکمني وه او دابه يو مستقل هيواد و ، او په هره کلا کې هستوګن خلک به ديوه رياست افراد يادېدل ، د يونان هر ښار به ځانګړی واکمن او ځانګړی نظام درلود. دښاري رياستونو همدانظام تر ډېرې مودې روان و ، ټول يونان په يو شمېر واکمنيو وېشل شوی و ، دهمدې رياستونو پاچايان په لومړي سر کې مطلق العنانه پاچايان ول؛ خو وروسته دوی دپاچاهي شورا نظام غوره کړ او ځينو يې دځان له پاره ځانګړې شوراګانې جوړې کړې چې په بېلابېلو معاملاتو کې به يې پاچاته مشورې ور کولې ، په زياتره رياستونو کې به پاچايان د مشورو منلو پابند وو ؛ خو په ځينو رياستونو کې به پاچايان په دې مکلف نه ول چې دشورا مشورې ومني او په ځينو نورو کې بيا پاچايانو ته خپل حدود ټاکل شوي و چې په ځينو معاملاتو کې به دشورا په پرېکړو مکلف و، او په ځينو نورو کې بيادوی خپلواکه ول. همداواکمنی په يونان کې دعېسی عليه السلام نه ۳۰۰/ ۴۰۰ کاله دمخه وې .

(۳) مذهبي ټولواکي :

دريم ډول مذهبي يا " Religious monarchy "
پاچايي ده، دا داسې واکمني وه چې د پاچا د واک اصلي سرچينه به مذهب و ، پاچابه له مذهبي مراسمو سره سم دمذهبي مشرانو له خوا ټاکل کېدی ، پاچاته به دوی لوړه ور کوله او ويل به يې چې پلانی زموږ له خوا پاچا وټاکل شو. پاچابه په خپله واکمني کې دمذهبي مشرانو تابع و او د دوی له پرېکړو سره سم به يې حکومتي چارې پر مخ بېولې، دامذهبي پاچاهي تر ډېرې مودې په عيسايانو کې دود وه، چې پيل يې اسمان ته دعېسی عليه السلام له ختلو شاوخوا ۳۰۰ کاله وروسته شوی دی .

پر عيسايانو درې سوه کاله داسې تېر شوي دي چې دوی به تل دخپلو مخالفينو له خوا دظلم او ربړونې ښکار ول ، دوی دنړۍ پر مخ داسې ځای نه درلود چې سره راټول شي، او دخپل دين تبليغ به يې په پټه تر زمکې لاندې په سمڅو کې تر سره کوو چې دالړۍ تر درې سوه کاله همداسې روانه وه، په همدې موده کې د دوی په دين کې تحريف شوی دی او تر اوسه په هغه ډول راروان دی .

په پيل کې د عيسی عليه السلام لارويان موحدين ول او عيسی عليه السلام به يې يوازې د الله تعالی استازی او رسول مانه ؛ خو چې کله يهود د دوی منځ ته ورننوتل؛ نو د دوی په دين کې يې لاس وهنه وکړه.

پولوس " Saint Paul " چې لومړی يهودي و او دعيسايانو تر ټولو مخکښ دښمن و ، عيسايان تر ټولو زيات د ده له لاسه کړېدلي دي. په پای کې ده عيسائيت ومانه او بيايې د

عیسایانو په مذهب کې تحریف وکړ ، د تثلیث عقیده ، د کفارې عقیده او دېته ورته نور خرافات په عیسایانو کې همده دود کړل، چې بالاخره د عیسایي مذهب ربښتوني لارویان ګم نامه یا ختم شول او یا پر لږ پاتې شول او دانوی دین چې "پولوس" له ځان نه جوړ کړی و دعیسائیت په نوم مشهور شو .

اسمان ته د عیسی علیه السلام له ختلو درې پېړۍ وروسته د روم پاچا قسطنطین (چې لوی قسطنطین هم ورته وایي) دعیسائیت دین ومانه ، تر دې مخکې به د روم پاچایانو دبوتانو عبادت کاوه؛ خو په دریمه پېړۍ کې همدې پاچا د "پو لوس" عیسایي مذهب ومانه . داهغه قسطنطین دی چې قسطنطنیه ښار د ده په نوم جوړ شوی دی چې اوس ورته استنبول وایي او بیا همدا ښار دعیسایانو پلازمینه ونومول شوه ، په همدې توګه د لومړي قسطنطین تر عیسائي کېدو وروسته په روم کې دعیسایانو واکمني پیل شوه ، هغه مهال د "پولیس" عیسائیت مذهبي مشر "اتاناسیوس" (Athanasius)و، نوموړي په لومړي ځل "قسطنطین" پاچا په مذهبي توګه لومړی مستند پاچا وګرځاوه او په روم کې مذهبي پاچایي له همده څخه پیل شوه.

د دې مذهبي پاچایي ځانګړتیا داوه چې په مذهبي چارو کې به د کلیسا د مشر "پاپ" پرېکړه وروستی پرېکړه وه ، د دولت مشر پاچا به یوازې سیاسي دندې پر مخ بېولې او د کلیسا مشر به داواک هم درلود چې مالومه کړي کومه معامله مذهبي او کومه غیر مذهبي ده ؛ نو ځکه به پاچا تر ډېره بریده د کلیسا مشر د پرېکړو په منلو مکلف و ، که د کلیسا مشر اتو به پاچاته د کومې خبرې امر کاوه؛ نو هغه به یې په منلو مجبورو ځکه چې په یوه واکمنۍ کې دوه پاچایان نشي پاتي کېدلی ، له همدې امله به د روم په تاریخ کې د پاپ او پاچا دواکمنې حدود یوه ستونزمنه مسئله وه چې په دوی کې به دهمدې مسئلې پر سر ډېرې جګړې کېدلې. په پای کې دامسئله نوره هم پسې توده شوه او یوه نه هوارېدونکې ستونزه وګرځېدله تر دې چې دسیکولر (پر مذهب نه ولاړ) حکومت ترولکې لاندې په "واتیکان" کې د پوپ بېل ریاست جوړ شو .

(۴) دستوري پاچایي (Constitutional monarchy)

دستوري پاچایي دېته وایي چې پاچا به هرومرو دستور یاقانون ته ژمن وي ، داسې نه چې څه د ده له خولې وځي هغه به قانون وي ، چې څه ډول غواړي هغسې پرېکړه به کوي او چې څنګه د ده خوښه وي هماغسې اقدام به کوي ، بلکې د ده هر ډول

> خو حقیقت دادی چې ملوکیت ، پاچاهي ، ټولواکي یا هر ډول نوم چې وي په دې کې اصل دادی چې ددې نظام واک څومره دی ؟ او د کومو اصولو لاندې دوی حکومت کوي ؟ که همدااصول سم وي؛ نو که پاچایي ورته وایي ، که ملوکیت ورته وایي او که خلافت ورته وایي هر ډول نوم چې پرې ږدې هیڅ پروانه لري بد نظام ورته ونه ویل شي

اقدام به له یو دستور سره سم اخیستل کېږي ، د همدې دستور په دائره کې به ژوند تېروي او دقانون څخه به هیڅ ډول سرغړونه نشي کولای .

دستوري پاچایي هم د نورو نظامونو په څېر په بېلابېلو زمانو کې منځ ته راغلي ده ، په خپله په یونان کې هم داسې

پاچايي شوې ده. د روم په تاريخ کې هم داسې شوي دي چې پاچابه يو دستور ته ژمن و. په ځانګړي ډول په منځنيو پيړيو کې زياتره واکمنې او پاچاياني دستوري وې. داسې دستورې پاچايي يو ډول هغه دستورې پاچايي هم ده چې په نني نړۍ کې د پارلمان يوه برخه شمېرل کيږي. لکه په برتانيه کې، هلته اوس مهال پاچا ملکه "اليزابېت اليګزاندرا مېري" (Elizabeth Alexandra Mary) ده او هلته دستورې پاچايي نظام دی، خو دا پاچايي يوازې سمبوليکه بڼه لري، پاچا هيڅ واک نه وي، اختيارات ټول له کابينې او يا له پارلمان سره دي، يوازې دنوم له پاره يې يو پاچا کښېنولی دی چې رول يې تر ډېره ځايه مراسمي او سمبوليک دی.

تاسو ولوستل چې پاچايي يو داسې کلي مشکک دی چې له مطلق العنان پاچايي څخه تر يوازې په نوم پاچايي پورې بېلا بېل ډولونه لري، مانا دا چې په نړۍ کې داسې پاچاهم تېر شوی چې يوازې وينا به يې قانون و او داسې پاچاهم شته چې هيڅ واک نه لري سره له دې چې دا هم د پاچايي يو ډول دی او هابل هم د پاچايي يو ډول دی، لنډه دا چې شاهي نظام همدا څلور يا پنځه ډولونه لري.

او له دې څخه دا خبر ګنديږي چې له کوم وخت نه په نړۍ کې دجمهوريت غوغا پيل شوې ده له هغه وخت نه دپاچا کلمه يا د پاچايي او ملوکيت نوم هم بدنام شوی دی، او ددې بدنامې پايله دا شوه چې اوس شاهي نظام محض يو شر ګڼل کيږي او خلک دا ګومان کوي چې شاهي او ملوکيت ټل بد نظام دی او بدې پايلې لري، ځيني داسې خلک هم ليدل کيږي چې وايي په اسلام کې ملوکيت نشته، شاهي نظام نشته او داسې نور.

په حقيقت کې دا خلک دهغو تبليغاتو تر اغيز لاندې راغلي دي چې دجمهوريت غوغا را پيدا کړې ده، کنه نو ملوکيت؛ خو يو عنوان دی او ددې عنوان معنون ښه هم کېدلی شي او بد هم کېدلی شي.

که تاسو قران شريف وګورئ؛ نو الله تعالی طالوت ((ملک)) يانې خپل قوم ته دپاچا په توګه راليږلی و او دا کار يې له خپلو نعمتونو څخه شمېرلی دی، هغه جل جلاله بني اسرايلو ته وايي: "موږ پر تاسو احسان وکړ چې طالوت مو دپاچا په توګه دروليږی".

او دغه راز الله تعالی بني اسرائيلو ته خپلې نيکۍ بيان کړې ده، هغوی ته وايي: (وجعلکم ملوکا) او الله تاسو پاچايان کړي وی، او داؤد عليه السلام او سليمان عليه السلام ته يې هم پاچايي ور کړې وه، اوس چې کله جمهوريت پاله خلک دې اياتونو ته راورسيږي؛ نو ډول ډول تاويلات او توجيهات پکې کوي، دوی وايي چې له دېنه مراد پلانی ملک دی او په اسلام کې دملوکيت نظام نشته او داسې نور ...

خو حقيقت دا دی چې ملوکيت، پاچاهي، ټول واکي يا هر ډول نوم چې وي په دې کې اصل دا دی چې ددې نظام واک څومره دی؟ او د کومو اصولو لاندې دوی حکومت کوي؟ که همدا اصول سم وي؛ نو که پاچايي ور ته وايي، که ملوکيت ور ته وايي او که خلافت ور ته وايي هر ډول نوم چې پرې ږدې هيڅ پروانه لري او دېته بدنظام نه ويل کيږي؛ نو دا خبره بايد له پامه ونه غورځول شي چې دا ډول تصورات چې ملوکيت يا پاچايي محض يو شر دی، دا دهغو روڼ اندو! تبلغات دي چې زموږ په زمانه کې راپور ته شوې دي، او د دوی پوره تفصيلات به په خپل ځای کې در ته وړاندې کړو. د پاچا په کلمه کې په خپل ذات کې هيڅ نيمګړ تيا نشته، سهي هم کېدلی شي او غلط هم کېدلی شي، دغه راز ښه هم وي او بد هم وي؛ خو اسلام په دې اړه هيڅ بنديز نه لګوي چې د مشر نوم ملک، که خليفه او يا پاچا او که ولسمشر وي، دنوم له امله په واکمني کې هيڅ ډول بدلون نه راځي، بنسټيزه خبر داده چې واکمني د کومو اصولو لاندې. د کومو قواعدو لاندې او دځه ډول نظام تر سيوري لاندې چارې پر مخ بيايي. ددې پوره تفصيل به ان شاء الله د کتاب په پای کې در ته وړاندې کړو.

د طالبانو اخطار او عمل....

فرهاد اتل ---------------

طالبانو دهلمند ولایت شمال ته دواشیر ولسوالۍ په لویه دښته کې دامریکایي اوبریتانوي یرغلګرو په لویه پوځي قرارګاه په یوه کامیاب اوحیرانوونکي برید کې دکڼ شمېر امریکایي اوبریتانوي عسکرو وژلو سربیره دځوملیارد ډالرو په بیه پوځي توکي اوجنګي الوتکې له منځه وړي .

دخبري سرچینو په راپور : له هغه وروسته چې بریتانوي شهزاده هاري هلمند ته راغی اوپه امریکا کې دځوتنوملعونوامریکایانو اویهودولخواه درسو الله (ﷺ) په مبارک شان کې دسپکاوي کرغیړن فلم خپور شوطالبانو ددي دواړو په غبرګون کې ګواښ او کوټ ځنبه وکړه چې : ژربه ددي کرکجن عمل غچ دلته افغانستان کې له میشت امریکایي عسکرو واخلي اوهم به دشهزاده هاري دوژلوهڅه وکړي.

دروان (۲۰۱۲)زکال دستمبر میاشتي په ۱۵ نیټه طالبانو دهلمند د واشیر ولسوالۍ په شوراب دښته کې دامریکا اوبریتانیې په لویه پوځي هډه کامیاب برید وکړ.

هغسي چې طالبانو ګواښ کړی و ، په عمل کې یې هم وښوده چې دوی هرڅبري چې وغواړي د ځانګړو اودقیقو عملیاتو دسرته رسولو ورتیا اوصلاحیت لري ، دخارجي یرغلګرو ځواکونو په ډیرنه ډیر مجهز پوځي مرکز هم برید ترسره کولی شي.

امریکایي اوبریتانوي چارواکي مني :طالبانو دتوقع پرته دروند ګذار ورکړ ، د پوځي هډي دننه په څوساعته کلک مقاومت دوی ټکان خوړلی ، د رسنیو له قوله : طالبانودا برید دومره دقیق پلان کړی و ، چې ډیری جنګي کارپوهان ورته حیران دي ، یوه بریتانوي چارواکي رسنیو ویلي : د پوځي هډي دننه ناڅاپه دځولوریو نه دزي پیل شوي لومړی دالوتني کرښه او دعسکرو داستوګني باړاکونه په نښه شول او شهزاده هاري هم ایله په ځوکزي کې له بریده وژغورل شو.

دطالبانو ویاند قاري محمد یوسف ادعا کړي چې دوی په دي برید کې ۴۷بریتانوي اوامریکایي عسکر مړه ، ۳۴تنه ټپیان اوپوولس جنګي الوتکي په بشپړه توګه ویجاړي کړي دی ، دغه راز دتیلوځودخیري یې هم په نښه کړي دي ، خودنانو ویاند ویلي :په برید کې ددوئ ۶ جنګي الوتکي ویجاړي شوي ، اوځوتنوعسکروته زیان دسیدلی ، چې د الوتکوبیه ځوسوه ملیونه ډالروته رسي ، دطالبانو دویاند په وینا : په دي عملیاتو کې ۱۵ استشهادي مجاهدینو برخه اخیستي وه ، چې هغوئ دځوساعته اوږده جنګ وروسته ټول په شهادت ورسیدل.

دا چې دشوراب پوځي هډه په یوه داسي دښته کې پرته ده ، چې شاوخواه ترې نیږدي دغرونو لړی نشته ، دپوځي چارو خبرونکي په دي حیران دي چې طالبانوځنګ دومره شمېر سرتیري د هډي دننه ورسول ؟ تراوسه طالبانو هم دي ټکتي ته

ځواب نه ی ویلی چې دوی د کوموتاکتیکونو پر مټ هڅې ته ننوتل لومړی یې دالوتنو په کرښه اوهلته په ولاړو الوتکو برید وکړل

؟ دبي بي سي راډیو په وینا: د حیرانتیا ورده چې طالب جنګیالي څنګه ترکنوبوځي حصارونوورتېر اوننوتل؟ ولي دا هم له کلیو اوشاره بیرون په یوه خلاصه دښته کې برته ده ،په طرف یې هرورتلونکی له لیرې ځارل کیږي ، دهڅې څخه تاودیوالونه هم ښه پاخه اواساسي جوړ دي تري داغزن سیم کمبربندونه تري تاودی، دهغوټولونړول ډیر وخت غواړي ، که طالب سرتیرو دیوال نړاوه ، هلته په دننه بوخت ځارکر عسکر ولې آګاه نشول؟ امریکایانو اوبریتانویانوویلي : دوی دغه برید ځیري چې طالبانود دومره کن شمیر سرتیرو دننوتو فرصت څنګه ترلاسه کړی؟

دبریتانی دشاهي کورنی غړی شهزاده هاري چې دخپل پوځي نوبت تیرولو په موخه یوه اوونی وړاندې په دې پوځي فرار ګاه کې میشت شوی و، طالبانو پرې دبرید هوډ څرګند کړی و، چې هغه هم ددي برید په شپه په دې پوځي فرار ګاه کې موجود و، ایله په ځوکړه کې له مرګه وژغول شو.

دایساف یوه قومندان (ایم ووجیک) رسنیوته ویلي : حمله کوونکي دپوځي هڅې دبیروني دیوال په یوه کمزوري برخه کې دسوري کولو وروسته چوپه خوله ننوتي ول ،چې وکړل، کرښي ته ځیرمه ودانی یې هم په نښه کړي ، دکردو جنګیالیو په تنو دناتو عسکرو یوبیفورم و، دطالبانو ویاند قاري محمد یوسف: رسنیوته ویلي :ددوی لخواه ددي برید موخه دامریکایي اوبریتانوي پوځیانوو ژنه وه، دپوځي هڅې دننه استشهادي مجاهدین له برغلګروسره له ماښام نه ترسهاره وجنګیدل اوټوله شپه جنګ روان و، دناټو ویاند په پیل کې دحملې نه انکار وکړ،خولږ وروسته هغه هم تاید کړه چې ریښتیا ځوتنو برید کوونکو برید کړی اوددوی ځوتنه عسکرمړه او ٦ الوتکې یې له منځه تللي اودوه نوري الوتکې یې زیانمنې شوې.

لنډه داچې دطالبانو دي برید وښوده چې افغانستان کې دامریکایانو اونورو برغلګرو ټولې هڅې په سیندلاهوشوي ، دیرغلګرو په مقابل کې مجاهدین ښه عالي روحیه لري ، اوپل څرګنده شوه چې افغانستان دامریکایې ښکېلاک له مونکلو څخه په وتودی ، افغانستان کې ورته دتاریخ ترټولو زیات ځاني اومالي زیانونه واوښتل دغه وجه ده چې امریکایان نور دجنګ څخه ستړي شوي دي تردي چې اوس تازه په امریکا کې چې دولسمشری دانتخاباتو لپاره کمپاین روان دی یوکاندید هم افغانستان نه یادوي ، ولي افغانستان یادول امریکایانوته خوند نه ورکوي هغوی دلته روان جنګ بولاحاصله جنګ بولي ، اویه سملاسي توګه یې دپای ته رسولوغوښتنه کوي له دي وجي دولسمشری کاندیدان پخپلو ویناوو کې دافغانستان په اړه دخپل نظر څرګندولو څخه ډډه کوي هرکاندید دامریکا داقتصادښه کولو وعدې کوي اوداقتصادسه کېدل له افغانستانه دعسکرو دبیرته ستنیدوسره تړلی دی ، ځوجې امریکایي عسکر له افغانستانه وی لاړ ترهغې ناشونی ده چې دامریکایي اقتصاددرکود اوزوال مخه ونیول شي !!

قاري حبیب..............

طالبانو کابل څنګه ونیو...؟



د ۱۳۷۵ هجري لمریز کال دمیزان دمیاشتې په شپږمه شپه (۱۹۹۶/۹/۲۷) دافغانستان پلازمینه کابل دطالبانو په لاس فتحه شو، دفوځي عملیاتو په زور د پلازمینې فتحه له نظامي او سیاسي لیدلوري مهمه پیښه بلل کیږي . له همدې امله دطالبانو لخوا دکابل فتحې ته هم په ملي او بین المللي کچه دیوه مهم تاریخي رویداد په سترګه کتل کیږي ، چې دافغانستان اوسیمې په سیاست یې ژور اغیز پریښود ، داچې دا پیښه (رښتیا) څرنګه واقع شوه ، په لاندینی لیکنه کې هڅه کوو په دې اړوند شته حقائق درسره شریک کړو .

دکابل دنیولو لپاره دطالبانو هڅې او دمسعود تعلل

په ۱۹۹۵/۲/۵ نیټه دطالبانو اسلامي تحریک دمیدان وردګو ولایت مرکز میدان ښار دحزب اسلامي له سرتیرو ونیو او په دې توګه دکابل په دروازه ودرېدل ، دطالبانو برق آسا فتوحاتو په نړیواله میډیا او افغاني دخپلو خواوو کې سخته غوغا ګډه کړې وه ، تردې چې ټولو افغاني جنګي خواوو فکر کاوو چې دېوځي مقاومت له لارې دطالبانو مخه نیول ناشونی کار دی ، ددې لپاره چې طالبان څه موده په کابل له برید څخه منصرف کړي ، دکابل اصلي واکدار احمدشاه مسعود میدان ښار ته سفر وکړ ، دطالبانو په وړاندې یې دتسلیمی دتمثیل په دود خپله توپانچه کیښودله او ویې ویل چې دجګړې دپای ته رسولو لپاره هرډول همکاری ته تیار دی ، ځیني کسان دمسعود دا حرکت دنوموړي له سولې سره دعلاقې یو ثبوت بولي ، خو واقعیت دادی چې مسعود په دې حرکت کې مخلص نه وو ، بلکې دایې د کابل ددفاع لپاره یوه غولوونکې هڅه وه ، دنوموړی یو نږدې ملګری جنرال داود چې له مسعود سره په دې سفر کې ملګری وو وایي چې دمسعود له دې سفر سره یې ملګري مخالف وو خو مسعود ددې ملاقات وجه دا وښودله (اگر تا مدتی، طالبان را عقب دروازه های کابل متوقف نکنیم، جنگ را می بازیم .روحیه مجاهدین ضعیف است و فکر می کنند که طالبان شکست ناپذیر اند . کسانی که به پیروزی حتمی معتقد نباشند،شکست می خورند . باید به هر طریق ممکن، طالبان چند ماه در خطوط جنگ کابل متوقف بمانند تا افراد ما به تدریج به این نتیجه برسند که آن ها هم مثل خود شان انسان اند و با یک گلوله از پا در می آیند)

طالبانو هغه مهال داحمدشاه مسعود دسولې سره په علاقه باور وکړ نوځکه یې دعملیاتو مخه له کابل څخه دلوګر په خوا واړوله ، خو وروسته ورته څرګنده شوه ، چې مسعود هیڅکله نه غواړي جګړه ماری ته دپای ټکی کیږدي ، له همدې امله په کابل

بریدونه پیل شول ، طالبانو نږدې یونیم کال دمیدان ښار ، چهار اسیاب ، او عینک لخوا په کابل بریدونو ته دوام ورکړ ، خو دکابل په نیولو ونه توانیدل .

د ۱۳۷۵ کال داسد دمیاشتې په لومړۍ نیمایي کې طالبانو دپکتیکا په اورگون کې دحزب دقوماندان خالدفاروقي په خلاف عملیات پیل کړل ، چې نوموړی یې له سیمې تیښتې ته اړ کړ ، له دې وروسته دطالبانو همدا لښکر دپکتیا مرکز گردیز ته راغی او له هغه ځایه یې دځاځیو په احمدخیلو ، اریوب او نورو سیمو عملیات پیل کړل ، دطالبانو لښکر چې شهید ملابورجان یې مشري کوله ، دهمدې کال دسنبلې په لومړیو ورځو کې احمدخېل ولسوالي ، دځاځیو دعلي خیلو چوني ، داتحاد دتوربابا غونډ او وریسې سپینه شگه ونیوله ، او دلوگر دلاړې په خوا یې لښکر کشي پیل کړه .

دافغانستان پخواني داخله وزیر او دطالبانو یو لوړ رتبه قوماندان دکندهار دسپین بولدک اوسیدونکی ملاعبدالرزاق اخند چې همدې عملیاتو برخوال وو ، ددې جریاناتو په اړه وایي :

کله چې موږ سپینه شگه ونیوله ، نو دمسعود لخوا ناڅاپه یوځل بیا احوال راغی ، چې زه غواړم مذاکرات وکړم او جگړې ته دپای ټکی کیږدم ، موږ دده دمذاکراتو خبره ومنله ، دمسعود استازي چې مولوي قربان یې مشري کوله میدان ښار ته راغی او ما دطالبانو په نمایندگي ورسره مذاکرات وکړل ، دمسعود پلاوي ویل چې مسعود ویل چې لومړی زما لخوا طالبانو ته دسپینې شگې دنیولو مبارکي ووایاست او بله داچې زه حاضریم چې نور جگړه ماری ته دپای ټکی کیږدم ستونزه دخبرې له لارې حل کړم خو تاسو یوازې خپل عملیات ودروئ ، زه حاضر یم چې دځان دسپینولو لپاره حتی رباني ، سیاف او حکمتیار کندهار ته درولم ، خو موږ چې دمسعود تیره دوکه ، دروغ او تاکتیکي چلند لیدلي وو ، دې نتیجې ته ورسیدو ، چې مسعود یوځل بیا غواړي په دې اوتو بوتو دطالبانو دپرمختگ مخه ډب کړي ، موږ ځو نور مسائل ورسره وڅیړل چې تاسو که ریښتیني یاست دستونزې دحل په موخه له موږ سره په دې برخو کې مقدماتي همکاري وکړئ تر ځو موږ پوه شو چې تاسو واقعا ځومره سولې ته لیواله یاست ، خو زموږ تصفیوي عملیات په جریان لري .

طالبان دافغانستان دختیځ په خوا

طالبانو ازره او حصارک ونیول او له هغه ځایه په جلال اباد ورغلل ، دجلال اباد دحاکمې شورا ډیر غړو (دحاجي قدیر له ډلې پرته) له وړاندې له طالبانو سره تماس نیولی وو او دطالبانو دورتگ هرکلي یې کړی وو دلمهال که له یوې خوا طالبان له دحصارک لخوا دجلال اباد په خوا روان وو له بلې خوا دتورخم دسرحدي ښار واک هم طالبانو دځایي قوماندانانو او مجاهدینو سره دمخکنۍ مفاهمې له لارې ترلاسه کړی وو ، دجلال اباد دشورا تقریبا اویا تنه غړي او منسوبین چې انجینیر محمود ، حاجي سازنور ، نادر عرب ، نعیم پاچا ، محمداکبر مجددي او نور په کې شامل وو له طالبانو سره دپیوستون په خاطر په دتورخم په خوا روان شول ، چې په لاره کې کمین ورته نیول شوی او تقریبا ټول یې په سخته بې رحمۍ په شهادت ورسول ، په همدې کې کله چې په ۱۹۹۶/۹/۱۱ نیټه د طالبانو زر کسیز لښکر جلال اباد ته ننوتلو نو دحضرت علي او مسعود قواوې تردوی دمخه ښار ته ننوتې وې ، طالبان د درونټې په سیمه کې دحضرت علي دکسانو له کمین سره مخامخ شول ، خو حضرت علي ډیر زر شکست وخوړ او مخ په لغمان وتښتید ، په ښار کې یوازې دکابل درژیم ځینو راغلیو وسلوالو خال خال مقاومت وکړ ، نور جلال اباد په پوره امن دطالبانو لاس ته ولوید ، دجلال اباد له نیولو وروسته په داسې حال کې چې په طالبانو پرلپسې دکابل درژیم لخوا بمبار روان وو ، حضرت علي یوځل بیا دلغمان لخوا په جلال اباد دبرید هڅه وکړه ، او ددوراهي په سیمه کې سرک ته راووت ، طالبان دملابورجان په مشرۍ دنوموړي په تعقیب ووتل ، چې نه یوازې یې په دې عملیاتو کې حضرت علي ته سخت شکست ورکړ بلکې دلغمان مرکز مهترلام او نورې ډیرې سیمې یې هم ونیولې او دحضرت علي کسان علیشنگ او دولت شاه ته وتښتیدل ، له دې وروسته طالبان دملابورجان اخند په مشرۍ د سپتمبر په ۲۱ نیټه دکونړ

ولایت مرکز اسعداباد ته داخل شول ، دکابل درژیم یو قوموندان شیرافضل له طالبانو سره په جګړه کې ووژل شو او نورو دتیښتې لاره ونیوله .

په دې مهال چې طالبان په کونړ کې او لغمان کې دچارو په تنظیم بوخت وو دکابل لخوا دمسعود او حکمتیار ګڼې قواوې وریښمین تنګي ته راغلې او په طالبانو دبرید لپاره یې ترتیبات پیل کړل ، دطالبانو وتلي قوماندانان چې دا خطر یې حس کړی وو
۲۲ له کونړ ځخه بیرته همدې سیمې ته راوګرځیدل ، د سبتمبر په نیټه دمسعود او حکمتیار قواوو د وریښمین تنګي له استقامته په طالبانو برید پیل کړ ، چې سخت بمبار د هم ورسره ملګری وو . دوی د دوراهي په سیمه کې له طالبانو سره ونښتل خوطالبانو دکابل درژیم دابرید په شا وتمباوو ، په دې مهال دطالبانو مشهور قوموندان ملابورجان په کونړ کې وو او په سیمه کې دطالبانو مشري ملاعبدالرزاق کوله نوموړی وايي د دوراهي په سیمه کې موږ یوازې ددفاع په نیت جګړه کوله ، خو دجګړې په وروستی شیبه کې مې په مخابرو کې ددوی وارخطايي او دعقب نشینی اوامر واوریدل ، له همدې امله مو په دوی تعرض ته زور ورکړ ترڅو دوی دوریښمین تنګي په خوا وتښتیدل ، سهار مو چې کتل دښمن له سیمې تښتیدلی وو نو په تعقیب یې روان شوو ترڅو وریښمین تنګي ته ورسیدو ، دلته زموږ دوه موټر ماینونو والوزول ترڅو وریښمین تنګي ته ورسیدو له دې وروسته موږ دوه ورځې همدلته انتظار شوو ترڅو ملا بورجان اخند له کونړ ځخه راوګرځید او بیا مو په دښمن عملیات پیل کړل .

طالبان څنګه په کابل ورو ختل

دطالبانو لخوا دکابل دنیولو عملیات دافغانستان دجګړو په تاریخ کې بې ساري عملیات بلل کیږي ، یو لویدیځ ژورنالیست ډیوېډ لاین دپوځي چارو دیوه کارپوه له قوله ددې جګړې په اړه وایي (دا دخوځنده جګړې یوه ځورا نادره او اغیزمنه بیلګه وه دافغانستان په جګړه ایز تاریخ کې تراوسه هیڅ کومې ډلې هم په دومره پراخه عملیاتي سیمه کې په داسې پیچلو او پریکنده عملیاتو لاس نه وو پورې کړی)

ربښتیا هم دطالبانو لخوا دوریښمن تنګي ، سروبي او ماهیپر فتحه کول او بیا په فاتحانه دریځ په پلازمینه ورهسکیدل ، ځورا هیښوونکې بریا وه . دطالبانو ددې عملیاتو د یوه برخوال ملاعبدالرزاق له قوله په دې عملیاتو کې دطالبانو شمیر شاوخوا ۷۰ تنه وو چې په ملابورجان او ملاعبدالرزاق سرپیره ، ملاسیف الرحمن منصور ،مولوي خوشال ملنګ غونډې ځینې نور دطالبانو وتلي قوماندانان هم وو خو عمومي مشري دملابورجان اخند په غاړه وه دطالبانو په مقابل کې ددحکمتیار او مسعود په سلګونو ځواکونو په دې غرنۍ سیمه کې محکم سنګرونه نیولي وو . نه یوازې دکابل درژیم ځمکنی قواوې ډیرې وې بلکې هغوی له ډیرې مودې راهیسې په دې سیمه کې په سرک ، دغره په ډډو ، دسیند په غاړو ، تریلونو لاندې او بل هرځای کې ماینونه هم ښخ کړي وو او یو زیات شمیر نور یې په سرک دانفجار لپاره اماده کړي وو . دا سیمه چې پخوا شوروپانو هم په ماینونه فرش کړې وه دمسعود او حکمتیار لخوا یوځل بیا دطالبانو دمخنیوي په خاطر په ماینونه فرش شوې وه په دې سرپیره په طالبانو دهوا لخوا سخت بمبار هم روان وو . داچې په داسې پیچلو شرایطو کې طالبان څنګه وتوانیدل ، ددښمن خلهونه مات کړي راځئ دعملیاتو یوه برخوال ملا عبدالرزاق اخند ته غوږ شو چې څېل دسترګو لیدلی حال راته بیان کړي .

ملا عبدالرزاق اخند دهیواد ورځپاڼې د پنځمې دورې له (۳۲۸) ګڼې سره په مرکه کې وایي (په وریښمین تنګي کې له دوه ورځې پښه پرځای انتظار وروسته دمیزان په دریمه نیټه ملابورجان اخند له کونړ ه راغی ، او دکابل دنیولو دعملیاتو نقشه یې جوړه کړه ، نقشه داسې وه چې دملاافضل محمد په مشرۍ طالبان به ددحصارک لخوا پرمختګ ته دوام ورکوي ، او موږ به له دې خوا دسروبي په خوا پرمختګ ته دوام ورکوو .

دمیزان په دریمه دماسپښین په یوه بجه په وریښمین تنګي کې دشهید ملابورجان اخند په قومانده ددښمن په دفاعي

خط برید پیل شو ، برید یو څه وخت دوام وکړ ، ترڅو شیبه وروسته ددښمن خط مات شو، او طالبانو پرمختګ ته دوام ورکړ ، په همدې ورځ دمازدیګر څلور بجې وې ، ماته چې د وروستنیو ملګرو دسرپرستی وظیفه سپارل شوې وه ، په دې وخت کې دجګړې لومړۍ کرښې ته راغلم ، چې ملابورجان اخند همدلته دتعرض مشري کوله ، ملابورجان اخند چې ولیدلم راترډې شو او راته یې وویل چې مخکې زه یم تاسو ترشا راځئ همدلته مو څو خبرې سره وکړې ، چې ددښمن لخوا د درنو اوسپکو وسلو سخت ګوزارونه کیدل ، ده راته وویل چې هله یو ټانګ رامخکې کړئ ، ترڅو ددښمن په مورچو بریدونه وکړي ، زه دهمدې لپاره دبیرته راګرځیدو په حال کې وم چې ملابوجان اخند دهشتاد و توپ دمرمۍ دلګیدو له امله سخت ولګید او ځای په ځای په شهادت ورسید، ما او دده څو نږدې اندیوالانو دده په جسد پټو واچاوو ، او په موټر کې مو کیښود ، همدې ملګرو ته مې وویل چې هیڅوک باید دملابورجان اخندپه شهادت خبر نه شي او دا خبره تینګه له ځان سره وساتئ)

دبي بي سي خبریال ډیوډ لاین دخپلو معلوماتو په بنسټ ددې جګړې په اړه په خپل کتاب (بوچر اینډ بولټ) کې لیکي (په وریښمین تنګي کې دطالبانو جګړه ایز پرمختګ دمخالفو وسله والو لخوا دمرمیو دسخت باران له امله په ټپه ولاړ وو ، دطالبانو مشر دجګړې لومړۍ کرښې ته راغی ، ملابورجان له خپل (هیلکس پیکپ) موټر څخه ښکته شو او په ملګرو یې غږ کړ ، که څه درپیښیدل هغه به یوازې دشهادت مرګ وي ، ولې پرمخ نه ځئ ، طالبان دخپل قومندان دامر سره یوځه په وړاندې وخوځیدل خو دمرمیو دکلوونکي باران په شور کې بیا ودریدل ، په دې وخت ملابورجان خپل کلاشینکوف ته لاس کړ ، مخ په وړاندې یې زړوره منډه وکړه او غږ یې کړ ، دلای زه مو ترمخ یم تاسو ولې شاته پاته یاست ، دا په حقیقت کې دکابل دنیولو لپاره دطالبانو دجګړې ترټولو پریکنده شیبه وه ، طالبانو دخپل قومندان په ګام په ګام پل کیښود او وړاندې تګ یې پیل کړ ، دمرمیو په کلوونکي شور کې دطالبانو دالله اکبر نعرې هم اوریدل کیدلې ، طالبان په وړاندې روان وو او ددښمن دمقاومت اراده یې ماته کړې وه چې دتودې جګړې په ترځ کې ناڅاپه دطالبانو مشر (ملابورجان) ولګید ، دنوموړي موټر چلوونکي ۱۸ کلن نقیب چې په عمر خام خو دپخې ارادې خاوند معلومیده ، ډیر ژر یې لګیدلی قومندان په غیږ کې واخیست او موټر ته یې ورساوو ، په هغه یې پټو اوار کړ ، او طالبانو ته یې وویل چې ځئ مخکې چې ملابورجان اخند مخکې تللی ، که کوم چا به په موټر کې دپړاته شخص په اړه پوښتنه کوله ، نقیب او څو تنو خبرو ملګرو یې ځواب ورکاوو یو طالب ټپي شوی دلته استراحت کوي)

دملا بورجان له شهادت وروسته څرنګه چې یوازې ملاعبدالرزاق او څو دګوتو په شمیر نږدې ملګري یې په شهادت خبر وو او په توده جګړه کې ددې راز افشاء دطالبانو مورال ته زیان رساوو ، نوځکه یې دده دشهادت خبره پټه وساتله ، دنور جریان په اړه ملاعبدالرزاق وایي (موږ دماینونو له مشکلاتو ، بمبار او ددښمن له سخت مقاومت سره پرمختګ ته دوام ورکړ ، ترڅو ماښام سروبي ته راورسیدو ، لمونځ مو په لاره کې وکړ ، او ماخستن له حصارک او کلالي څخه هم ځینې ملګري راورسیدل ، ماخستن مو په سروبي کې دزرداد په غونډه برید پیل کړ ، مایوه ملګري ته وویل چې ته بي بي سي راډیو ونیسه ، دبي بي سي خبرونه مو چې واوریدل نو دملابورجان اخند دشهادت خبره یې په کې نه وکړه ، په دې مې ډیر طبیعت سم شو چې ښه ده دا خبره نه ده افشاء شوې ، په دې وخت کې خدای تعالی دغونډ فتحه هم رانصیب کړه ، دزرداد غونډ له نیولو وروسته موږ مشران ملګري چې دحصارک څخه رارسیدلي ملافاضل ، ملادوست محمد ، ملاسلام راکتي هم وو سره راټول شوو ، او دراتلونکې پلان په اړه مو خبرې وکړې ، دخدای فضل وو هیڅ یوه ډلګي مشر دا پوښتنه ونه کړه ، چې ملابورجان اخند ولې نشته ، مشوره داسې وشوه چې دجلال اباد او حصارک لخوا راغلي سره یوځای شوي تشکیلات به نه سره ګډوو دملادوست محمد اخند ، ملاسلام راکتي ، او دوهم ملامشر په مشرۍ دحصارک لخوا راغلي طالبان طالبان به دلته بندله لارې په کابل برید کوي او موږ دجلال اباد لخوا راغلي

ملګري به په ماهيپر حمله کوو ، سبا لس بجې مور له سروبي ځخه جنګ شروع کړ ، دپرمختګ په مهال دښمن دالوتکو او چورلکو سخت بمبار کاوو ، دبرق له فابريکې سره پله ده چې راورسيدو نو ترپله لاندې لوګي پورته کيدل ، يوه طالب ورمنده کړه چې کتل يې ترپله لاندې يې ډير زيات باورت ايښي دي ، او شيبه په شيبه دڅاليه سوز اور ونږدې کيږي ، طالب ورباندې حمل کړه ڤاليه سوز يې پرې کړ او په دې توګه يې د پله دتخريب مخه ونيوله ، دښمن هڅه کوله په دې برخه کې دپلونو او تونلونو په منفجرولو سره زموږ مخه ونيسي کله چې ماهيپر ته راورسيده ، په ماهيپر کې چې دوی له وړاندې محکم سنګرونه جوړ کړي وو ، دری ساعته يې سخت مقاومت يې وکړ ، ماسپښين مهال چې کله جګړه ډيره اوږده شوه ، نو مو پريکړه وکړه چې يوځل وروستی زور ورباندې ازمويو که مقاومت مات نه شو ، نو دشپې لپاره داقامت ترتيبات نيسي او خپله دفاع به قوي کوو ، د وروستي بريد لپاره مو ټانګونو ته دپرمختګ امر ورکړ ترڅو تونل ته نږدې ددښمن په مورچل بريدونه پيل کړ ، زموږ يو بريد کوونکی ټانګ چې د تونل په خوا وربه مخ شو ، په يو ډير تنګ ځای کې ددښمن لخوا وويشتل شو ، اور ورباندې بل شو او ځای په ځای داسې ودريد چې لاره يې په مکمله توګه بنده کړه ، په دې کار سره ټول سخت متحير شوو ، ځکه په ټانګ کې ډيرې مرمۍ وې چې هره شيبه يې دانفجار ويره وه له بلې خوايي لاره بنده کړې وه ، چې دوړ اندې تيريد بله هيڅ لاره نه وه ، موږ په همدې اړه فکر کاوو ، چې دالله تعالی نصرت مو په خپله وليد ، هغه داسې چې ټانګ له يوې شيبې ځای په ځای دريدو وروسته خپله په شا روان شو ، دسړک دغاړې محکم ديوال يې ورسره واخيست او لاندې سيند ته وغورځيده چې په دې توګه لاره خلاصه شوه ، داشيبه نو ټول ملګري بيرته سخت خوشاله شول ، تردې چې زما سره نږدې يو ملګری دپکتيکا ولايت اوسيدونکي ملاعبدالقهار له ډير خوشالی لويه چيغه وکړه او طالبانو ته يې وويل چې هسې پرې ورځغلی همدا موقع ده .

په دې وخت کې ملګرو په پوره زړورتوب په تونل ورځغستل ، کله چې تونل ته ورسيدو ګورو چې دتونل دانفجار لپاره په زياته اندازه باروت ، پټاخې او نور وسائل رايوځای شوي ، خو يوازې بسته شوي نه دي)

ګلبدين حکمتيار د خپل کتاب (پټې توطيې بربنډې ځيرې) په ۲۲۶ مخ کې ددې پيښو په اړه ليکي (دسروبي له نيولو وروسته طالبان له دوو لارو لته بند او ماهيپر لخوا دکابل په خوا وخوځيدل ، مسعود خپلو کسانو ته په مخابره کې ويل چې دماهيپر تنګی منفجر کړئ ، پل والوزوئ او لاره بنده کړئ ، هرځلي هغوی ورته ويل : صيب باروت مې تيار کړل ، دا دی موټر هم تيار شو ، همدا اوس خوځيږي ، مطمئن اوسئ لار بندوو خو ترپايه يې دا کار ونه کړ)

دشورای نظار يو مشهور قومندان محمدقسيم فهيم چې اوس ورته دمارشال لقب ورکړل شوی دی ، په دې جګړه کې يې دکابل دررژيم په ځانګړي ډول دمسعود دځواکونو مشري ورپه غاړه وه ، نوموړی په دې ټاکوونکې او تاريخي جګړې کې دخپل شکست وجوهات داسې بيانوي (نيروهاي دولت ازسرخکان تا سروبي قدم به قدم جنگيدند. ما درتنگي ابريشم بوديم که طالبان ازسمت راست به جگدلک دست يافتند. وقتي درسروبي خط دفاعي ايجاد کرديم، طالبان از لته بند به منطقه پلچرخي نفوذ کردند. نيروهاي ما درتنگي ابريشم تا سروبي ششصد نفر کشته واسير دادند وطالبان درنتيجه جنگ به کابل آمدند)

دمسعود ځيني پلويان وايي د (پنجشير زمری !!!) له کابل ځخه ځکه وتښتيد ، چې ويره يې لرله هسې نه طالبان يې دتګلاب له لارې له ښاراتاو شي او ګرد چاپيره يې محاصره کړي ، نوځکه يې دزړه مقاومت نه کاوو ، خو دقسيم فهيم اظهارات او د ده دتلفاتو لوړه کچه ښيي چې ټولې هڅې يې کړې خو نتيجه يې نه ده ورکړې ، دمعلوماتو له مخې کله چې طالبانو سروبی ونيو ، نو مسعود له جبل السراج ځخه کابل ته راغی او په داسې مهال چې طالبان په ماهيپر ختلي او قوای چهار ته رسيدلي وو ، دميزان په پنځمه مسعود دکابل په ختيځ کې خپله دجګړې قومنده په واک کې واخيسته ، چې له همدې امله دميزان په پنځمه دپل چرخي او

حربي پوهنتون په سيمه کې دمسعود قواوو يوځل بيا سخت مقاومت وښود ، خو تردېره يې دوام ونه کړای شو .

دطالبانو لخوا دماهيپر نيول له دوی سره دالهي نصرت دځرګند ثبوت پرته بل څه نه شو بللی ، ځکه دلته اراضي خورا پيچلې ده . دچورلکو له بمبار سره سره په دې ټوله لار ماينونو هم سخت مشکلات جوړ کړي وو . ملاعبدالرزاق وايي ملابورجان له شهادت څخه وړاندې ورته ويلي وو . چې له پل سرخکانو څخه يې په دې لاره ترڅلويښت زيات ماينونه له لارې ايسته کړي او يا کښلي دي . دهمدې جګړې يو برخوال چې خپله يې همدلته دماين دچاودنې له امله يوه پښه هم له لاسه ورکړې (ليکوال او ځيرونکی سيد سعيد) وايي چې ماينونه ترانداز زيات وو ، او ډيرو زياتو طالبانو پښې ورباندې پرې شوې)

ملاعبدالرزاق اخند وايي (کله چې له ماهيپره ووتلو نو دلته چې لږ وړاندې ځې يوه چينه راځي . په دې چينه مې اودس کاوو چې حاجي معاون صاحب (مرحوم ملامحمد رباني) د مشرملاصاحب (ملامحمد عمر مجاهد) له پيغام سره راورسيد ، راته يې وويل چې دملابورجان دشهادت دخبر له رسيدو وروسته ملاصاحب امر کړی چې عمومي قومنده تا (ملاعبدالرزاق) ته وسپارل شي ، ما ورته وويل چې سمه ده ، خو دا خبره به ملګروته په دې شکل نه اعلانوو چې ملابورجان شهيد شوی او اوس مسؤل زه يم ، بې له هغې هم دوی زما اطاعت کوي ، نوځکه يې داوس لپاره اعلان ته ضرورت نشته .

په همدې ماښام له نورو ملګرو سره چې دلته بند لخوا را روان وو په تماس کې شوو ، هغوی وويل چې موږ هم دپلچرخي په خوا در روان يو ، په همدې ګړۍ دمس عينک لخوا دمجاهدينو دتعرض او ددښمن دکمربند ماتيدو خبر هم راغی چې دملګرو حوصله نوره هم ورسره لوړه شوه ، دښمن په قوای چهار کې راته کمربند وڅاوو او موږ هم شپه همدلته تېره کړه ، سهار مو ميدان ښار او دچهار اسياب په خوا کې هم جنګي کرښو ته احوال واستوه چې په بريدونه پيل کړي ، په اتو بجو همدلته په دښمن تعرض پيل کړ ، دښمن شکست وخوړ دپل چرخي سيمه فتحه شوه همدلته دلته بند لخوا راروان شوي ملګري هم راورسيدل ، او دپل چرخي په پله سره يوځای شوو ، په دې ورځ که له يوې دګمرګ او حربي پوهنتون په ساحه کې سخت جنګ روان وو ، بله خوا دملاافضل محمد اخند په مشرۍ مجاهدينو په کارته نو ، تپه مرنجان باندې هم کار شروع کړی وو او ددښمن قواوې يې شاتګ ته اړ کړې وې ، ماسپښين ناوخته دکابل ښار په ختيځ کې جګړې سخت زور واخيست ، ددښمن محاربوي ټانکونو سختې حملې وکړې ، دغه راز له تلويزون غره څخه دتوپچي بريدونه هم کيدل ، موږ په دې خاطر چې ښار او ښاريانو ته زيان ونه رسيږي ، دلويې اسلحې په بريدونه مطلق بنديز لګولی وو او يوازې مو دراکټ او کلاشينکوف داستعمال اجازه ورکړې وه ، دجګړې په ترڅ کې مو يوازې په تيلويزون تپه څو د دستګاه فيرونه وکړل نور دټانګ يا توپ هيڅ مرمۍ استعمال نه شوه .

په همدې وخت کې ددښمن ټولو هغو کسانو ته چې وسله کيږدي ، دامير المؤمنين دملامحمد عمر مجاهد لخوا دعمومي عفوې اعلان هم وشو چې په دې سره زموږ په مقابل کې مقاومت ډير کمزوری شو او ددښمن اکثره جنګياليو له جګړې لاس واخيست .

په همدې ماز ديګر موږ معلومات ترلاسه کړل چې دښمن عملا له ښار څخه دتيښتې په حال کې دی ، ددوی مقاومت هم په ټولو خواوو کې ختميده ، دماښام له تيارې سره دچهار اسياب لخوا هم دوی رامات شول ، زموږ په مقابل کې مقاومت په بشپړ ډول ختم شوی وو ، خو دماښام له لمانځه وروسته مو په دې مشوره پيل کړه چې ښار نابلده دی ، بايد څنګه داخل شو ، دلته مو يو څه نور انتظار وکړ ، چې له ټولو خواوو ملګري سره رانږدې شول ، په دې وخت کې دهغو ډيپوګانو دانفجار غږونه هم پورته شول چې دښمن له تيښتې وروسته اور ورته اچولی وو ، دشپې څه باندې يوولس بجې وې چې موږ ښار ته دننه شو او تقريبا دشپې دوه بجې وې چې موږ ارګ ته ننوتلو .

گلبدین حکمتیار ددې صحنې په اړه په خپل کتاب کې لیکي (زه په صدارت کې وم وروڼو دمسؤلینو دوتلو اطلاع راکړه ، اړګ ته لاړم ، په اړګ کې له ځوانضباطانو پرته هیڅوک هم نه وو ، راته وویلی شول چې استاد په بلنداڅونو کې ستاسو انتظار کوي ، هلته ورسیدم ګورو چې ټولو بار بستره ترلې او دجبل السراج په لوري دخوځیدو لپاره تیاری نیسي)

په کابل طالبان له دریو خواوو په جګړه ورننوتل ، یوازې دمیدان ښار لخوا چیرته چې طالبانو دکابل دنیولو ډیرې هڅې کړې ، طالبان په پوره اطمئنان او بې له جګړې کابل ته داخل شول ، یو طالب چې دمیدان ښار لخوا کابل ته داخل شوی وایي (زموږ لپاره ډیره عجیبه وه چې ددښمن په دفاعي خط ناڅاپه ور روان شوو ، ددښمن پوستې ټولې تخلیه وې او هرڅه یې په خپل حال پاته وو ، دمسعود عسکرو هغه کارتونه چې دفاع وزارت ورکړی وو شکولي وي ، دریشی یې پریښې وې او په ساده جامو کې تښتیدلي وو)

په دې توګه طالبانو دطالبان د ۱۳۷۵ لمریز کال میزان په شپږمه دجمعې په شپه کابل ونیو او ډاکټر نجیب یې له ورانده دشوې پریکړې له مخې اعدام کړ.

هغه منابع چې په دې لیکنه کې ترې استفاده شوې

ـ دافغانستان د کورنیو چارو له پخواني وزیر ملاعبدالرزاق اخند سره ځانګړې غږیزه مرکه

ـ دشریعت اونیزې کلکسیون

ـ له هیواد ورځپاڼي سره د ملاعبدالرزاق اخند مرکه

ـ د رزاق مأمون لیکنه (جزیات ملاقات مسعود با طالبان)

ـ افغانستان تروروستي افغانه څلورم ټوک

ـ پټې توطیې بربنډې ځیرې

ـ سالهای تجاوز ومقاومت داکرام اندیشمند کتاب

ـ دافغانستان په معاصر تاریخ لنډه کتنه دابراهیم عطایي اثر

ـ او ځینې نور پاشلي منابع

د بریالیو کسانو ۴۰ ستر عادتونه

۱. بریالي کسان هغه فرصتونهویني او پیدا کوي یې، چې د نورو ورته پام نه وي.

۲. هغوی له ستونزو څخه درس اخلي، خو نور بیا یواځې ستونزې ویني.

۳. د ستونزو د حوارې لارو چارو په لټه کې وي.

۴. په هوښیارۍ: د غوره کړنلارو له مخې بریالیتوب ته لاس رسی پیدا کوي، خو نور له بریا سره د مخ کېدو په تمه وي.

۵. سره له دې، چې د نورو په ځېر وېرېږي، خو اجازه نه ور کوي، چې وېره یې کارونه کنټرول او محدود کړي.

۶. له ځانه سمې او منطقي پوښتنې کوي. داسې پوښتنې، چې هغوی د ذهني او روحي اړخه مثبت لورې ته وهڅوي.

۷. ډېر کم له یوځه نه ګیله او سر تکوي او دهغه لپاره خپله انرژي له لاسه نه ور کوي

۸. څوک نه رټي (واقعا ګټه یې څه ده؟) هغوی د خپلو کارونو مسوولیت او د کارونو پایلې ټولې په خپله غاړه اخلي.

۹. تل د خپلې ور تیاد لوړولو هڅه کوي او خپلې ور تیا ته هیلمن وي. هغوی له هر هغه څه نه، چې په واک کې یې لري، په اغېزمنتوګه ګټه اخلي

۱۰. تل بوخت، فعال، نوښتګر او رغوونکي دي. ډېری وخت، چې نور ویده وي، دوی خپلې موخې ته د رسیدو او په ښه توګه د خپلو کارونو د ترسره کولو لپاره مهالوېش او تګلاره جوړوي. چې د کارونو ترسره کولو پر مهال له استرس یا فشار سره مخ نه شي.

۱۱. له هغو کسانو سره یو ځای کیږي، چې ورسره همفکره دي. هغوی د یوې همفکره ډلې په اهمیت او ارزښت ښه پوهیږي.

۱۲. ډېرې سترې هیلې لري او خوښېږي یې، چې هېښوونکي کارونه ترسره کړي. هغوی د هرڅه په ټاکنو او غوره کولو کې له ډېرې ځیر کتیا او هوښیارۍ څخه کار اخلي. څو غوره ژوند ولري او نه غواړي، چې ژوند یې په اتوماتیک ډول پر مخ ولاړ شي.

۱۳. په ښکاره او کره توګه ډېر ښه پوهیږي چې په ژوند کې څه غواړي او څه نه غواړي. هغوی تر ټولو ښه واقعیت دقیقا د ځان لپاره په خپله مجسم او طراحي کوي. ددې پر ځای، چې یواځې د ژوندننداره چي اوسي

۱۴. له دې، چې تقلید وکړي، ډېره هڅه کوي چې خپله نوښت ولري.

۱۵. د نن ورځې کارونه سبا ته نه پرېږدي او د کارونو د ترسره کولو لپاره تر ټولو دښه وخت په انتظار کې، خپل ژوند له لاسه نه ور کوي.

تعلیمات وفرامین اسلامی

در رابطه به حقوق زن

در چنین ادوار که زن مورد هر نوع ظلم وبی عدالتی قرار داشت وحتی در بعض اقوام موجودیت شان را به صفت یک عضو فامیل تحمل ننموده آنها را زنده در گور مینمودند وبعض اقوام حاضر نبودند آنها به صفت انسان همچو مرد بپذیرند پیامبر رحمة للعالمین ﷺ ودین مبین وی بود که چشم انسان را کشود وتفصیلاً همه راه های قدر و منزلت انسان را ارائه نمود، همه مظالم تاریخي ورواجي را در برابر زنان مردود اعلام داشت، ستم بر زنان را جرم وگناه کبیره وقاتلش را بدترین مجرمین ومستحق دوزخ قرار داده دختران را قابل هر نوع رحم وشفقت خواند، پدران را تعلیم دادند که نفقه، پرورش وتربیت شان مسئولیت شما بوده ومبذول داشتن توجه خاص به تربیت سالم دختران موجب اجر بیشتر می باشد پدران را به این امر مهم توسط چنین فرموده حکیمانه خویش تشویق نمود:

((من عال ثلاث بناتٍ فأدّبهنّ وزوّجهنّ وأحسن إليهنّ فله الجنة)) (ابو داؤد)

"اگر کسی سه دختران را پرورش نموده وآنها را تربیه سالم داد وبه نکاح داد وبا ایشان تعامل نیک نمود پس او را جنت است "

عده از قبائل دختران را بار سنگین تصور مینمودند واز جهت خوف نان ونفقه قتل آنها را مصلحت می پنداشتند رسول اکرم ﷺ هدایت ذیل را نشر نموده ومصارف بر ایشان را بهترین صدقات قرار داده فرمودند:

(الا ادلک علی أفضل الصدقة؟ بنتک مر دودة إلیک لیس لها کاسب غیر ک) (ابن ماجه)

" باخبر باشید صدقه بر دختر بهترین صدقات است نفقه اش تعلق به شما دارد او غیر از شما کاسب دیگری ندارد"

در عین حالت دختر یک ذریعه آزمایش نیز می باشد که در صورت پیروزی در معامله اش انعام بزرگ نصیب انسان می گردد آنحضرت ﷺ فرموده است:

((من بلی من هذه البنات شیئا فاحسن إلیهن کنّ له سترا من النار)) (بخاری)

« کسی را دختر نصیب بود وبا او تعامل خوب نمود آن دختر ذریعه نجات وی از دوزخ میباشد »

کدام دختر که از سایه ترحم پدری محروم شده باشد مسئولیت پرورش وی سلسلةً تعلق به دیگر اقارب میگیرد، واینکه آنحضرت ﷺ فضائل وفوائد کفالت اطفال یتیم را بیان داشت توجه وحساس خیر خواهی مردم در رابطه به افزایش یافت: (أنا وکافل الیتیم کهاتین في الجنة) « من وشخص کفالت کننده یتیم، مانند این دو انگشت در بهشت با هم نزدیک می باشیم » .

هنگام که مردم از چنین فضائل اطلاع حاصل نمودند پس دختران را عار نه بلکه باعث ثواب وافتخار می پنداشتند در رابطه به تثبیت مراتب زنان واحیای حقوق اولي شان قدم نخست بود که منظور تنویر اذهان واصلاحات اساسي به سطح جهان برداشته شد

❀- دین مقدس اسلام مردم را منع نمودند تا زنان وکنیز های خود را مجبور به زنا ننمایند یک تعداد مردم خسیس وسست عنصر با وجود آنکه خود را ظاهراً به اسلام منسوب مینمود بعد از طلوع آفتاب اسلام نیز از ارتکاب چنین اعمال شنیع دور جاهلي دست بردار نگردیده در مرکز اسلام مدینه منوره انجام میدادند وخاطر کسب پول زنان مربوط خویش را مجبور به زنا مینمود که توسط آیت ذیل شدیداً ممانعت به عمل آمد:

﴿لَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا ط﴾ (النور) "کنیز خویش را مجبور به زنا ننمائید ... " .

⊛ — دختر عاقله وبالغه را در رابطه به انتخاب همسر حیاتي خویش اختیار داد دین مقدس اسلام پدر ودي گر اقارب وی را ترغیب داد تا به یک ترتیب مشوره ونظر وی را معلوم نمایند وحق ندارند بدون رضایت شان اجباراً به نکاح دهند

⊛ - دین مقدس اسلام پیروان خود را هدایت داد تا در باره زند گی مستقبل دختران خود نیز خیر خواهی خویش را باز نداشته چنین خانواده را برایش انتخاب نماید که متدین ویا انصاف باشند تا دختر دچار خجالت وندامت نگردد چنین خانواده را خاطر استقبال وی انتخاب نماید که علائم تضمین زندگی خوب ومصلحت آمیز به نظر آید وبه عبارت دي گر همسر دخترش کفو ومناسب حال شان باشد.

⊛ - در صورت ازدواج وآغاز زندگی باهمی دین مقدس اسلام در بدل تحویل نفس وجواز استمتاع از زن بالای شوهر فرض نموده تا مهر لازم بپردازد اگر چه نکاح ضرورت وخواسته مشترک ایشان می باشد نکاح ا گر در حق شوهر نعمت بوده وحیثیت نصف ایمان دارد در حق زن نیز نعمت بوده و ذریعه تحفظ دین و عزت وی میباشد، هر دوی ایشان رغبت داشتند تا زند گي ازدواجي باهم داشته باشند مگر خداوند حلیم وحکیم بار سن گین مهر را بر ذمه شوهر نهاد وتادیه آن را بالایش حتمي ولازم نمود

⊛ — قبل از نکاح پدر و ولي مکلفیت داشت تا نفقه را برای دختر تهیه نموده وبه تربیه سالمش توجه نماید که بعد از ازدواج ضروریات اعاشوي از قبیل نان والبسه به شوهر تعلق می گیرد او را دین مقدس اسلام مکلف نموده که طبق دستور ورواج زمانه متواتراً تهیه نماید، در صورت که شوهر اظهار عجز ویا از تادیه آن انکار نماید زن میتواند نزد قاضي وزمامداران حکومت اسلامی مراجعه نماید وآنها روی مکلفیت مذهبي این چنین مشکلات زن را حل وفصل نمایند پس نسبت این سیستم زن ملکه خانواده ویا نائبه شوهر خویش میباشد که در تصرف همه امورات عائلي ونگراني اولاد خویش سهیم وبااختیار میباشند

⊛ — دین مقدس اسلام آن اندازه حقوق زن را بر شوهر لازم نمود چه اندازه حقوق که از مرد بر زن بود

دین مقدس اسلام بود که زن را از چاه هلاکت کشید و بار فراهم نمودن همه ضروریت های اساسی وی را به دوش مرد نمود وزن را حق داد تا بدون تکلف استفاده نماید و یکجا با فامیل واولاد خویش زندگی آبرومندانه داشته باشد.

⊛ — دین مقدس اسلام مرد ها را منع نمودند تا ضرر به زنان نرسانند بلکه حکم نمود که با آنها زند گی معروف ومرغوب داشته باشند وبا وی از روی لطف ومحبت تعامل نماید .

⊛ — دین مقدس اسلام زنان را حق استعمال رای ونظر داد میتوانند در امورات دیني ودنیوی تحت حدود شرعی نسبت آزادی ضمیر، نظر خویش را استعمال نمایند

⊛ — دین مقدس اسلام به همه جهان واضح نموده که زن مالکه اموال شده میتواند طور که مرد در اموال خود تصرف وتوسط آن معاملات می تواند همچنان زن نیز حق استعمال وتصرف در اموال خویش دارد

⊛ — عملاً واضح داشت که مشوره واقدامات زن در رابطه به مصالح اجتماعي، اقتصادی وامورات مذهبي وجهادی حسب اهلیت شان مورد تائید بوده و استفاده از تفکرات سالم، ظرفیت واستعداد های مبتکرانه شان غیر مجاز وحقیر پنداشته نباید شد .

⊛ — دین مقدس اسلام اعلام داشت که زن مکلفیت مذهبي دارد واز نتائج آن نیز همچو مرد برخوردار می باشد .

⊛ — دین مقدس اسلام زن را نیز همانند مرد بر تعلیم مسائل بنیادی، واحکام ضروری مکلف نمود ونسبت تصحیح عقائد، تعامل بر احکام دیني وخوشنمودن زندگی دنیوي واخروی خویش تعلیم مسائل مربوطه را بالایش فرض نمود .

⊛ — اسلام خاطر سکون، اطمینان، راحت وتحفظ جان وعزت زن فرامین وافر را نافذ نمود وخاطر بلند ن گهداشتن حیثیت ومقام زنان تدابیر متعدد را وضع نمود که تفصیل آن در کتب اسلامی موجود است

خوانند گان محترم! تاریخ شاهد است که قبل از اسلام هر نوع ظلم بالای زن مجاز پنداشته می شد وحتی ممالک متمدن آن زمان از انسان بودنش انکار داشتند واکنون نیز همان ملت های به اصطلاح متمدن صرف نوعیت ظلم را تغیر داده به نام حقوق وآزادی زن ویا بنام دیموکراسی ومساوات حقوق اساسی، عفت، حیا عزت وآزادی حقیقی زن را پایمال نموده است که در نوبت بعدی آنرا نشاندهی خواهیم نمود.

دعوت وارشاد

دالفاروق عملیاتو چټک غبرګون

میوند سادات

اسلامي امارت په امریکاکي دبشریت دسترلارښود حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) په نوم دجوړشوي فلم خپریدل دیو ې اعلامیې په ترځ کي وغانده ، ددې کاردعاملینواوحمایه کوونکوڅخه د غچ اخیستلونیت ې څرګندکړاوپرهیواوالوې ېغ وکړچي په افغانستان کي دمیشتوپرغلګروځواکونو پرضدراپورته شي او دیادشوي کرغیړن عمل انتقام ترې واخلي . دغه رازهلمندته دبرتانوي شهزاده (هیري)دراتګ څخه وروسته – شهزاده دشاهي کورنۍ دپائلي حیثیت داعادې په موخه وروسته له هغه په هلمندکي دیرغلګرو لوې اډې (بشوراب)ته پناه راوړه چي برېندعکسونه ېې په رسنیوکي خپاره شول – ذبیح الله مجاهددېلي ټیلګراف ورځپاڼي سره په مرکه وویل چي : پرشهزاده اوهغه ځای به چي نوموړی په کي اوسي بریدکوي .

داسلامي امارت غوښتنه دهیوادپه لراوبرکي بدرګه شوه ،دکابل ادارې داردوپه لیکوکي جذب شووبااحساسه پوځیانوپه هلمند،ننګرهاراوکندهارکي دیوډرځن پرغلګروعسکروکګري ورغبرولې .په کابل او دولایتونوپه مرکزونواوولسوالیوکي ځوورځي پرله پسې پراخ ولسي لاریونونه ترسره شول ،لاریونکونکودیرغلګروځواکونواو کابل رژیم پرضدشعارونه ورکول اوغوښتنه یې کوله چي آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته دمنسوب شوي فلم جوړونکي دې مجازات شي اونیواکګرځواکونه دي له افغانستانه ووځي .

همدارنګه دنړۍ په بیلابیلوهیوادونوکي درحمة اللعالمین (صلی الله علیه وسلم)دسپکاوي پرضد لوېې لوېې مظاهرې وشوې ،په لیبیاکي قهریدلومظاهره کوونکودامریکې لوي سفیرڅلورکسینزتیم سره یوځای وواژه ،په مصرکي یې دامریکې پرسفارت برید وکړ اوپه یمن کي یې دامریکاپه سفارت کي ولاړوموټرونه اوروته کړ،دامریکابیرغ یې وسوځاوه ،اودیره جالبه داچي داسلامي امارت سپین توغ یې دامریکا پرسفارت اونوروځایونوورپاوه .

اسلامي امارت دالفاروق دعملیاتو په لړکي دانتقام وهودته ددوست اودښمن ترانګکل پورته دعمل جامه وراغوستله په جنوب لویدیځه حوزه کي پر دامریکااوبرتانیاپرپولوی پوځي ،استخباراتي اولوژیستیکي مرکز «ښوراب هوايي اډه » بریدوکړ.

دالاماره وییاني دسپتمبرپر۱۵مه نیټه راپوروکړچي :تېره شپه پرلس بجې داسلامي امارت داستشهادي مجاهدینوپنځلس کسیزې ډلې چي پردروګروپونومشتملووډښوراب پرهوايي اډه بریدپیل کړ،هرګروپ خپل اهدافوپه نښه کړل ،ددرې ساعته جګړې په ترڅ کي مجاهدینو«47» پرغلګرعسکروونږلي او «څلوردیرش» یې ژوبل کړي . «یوولس »بیلابیلي الوتکي ،په لسهاووزغره والي ګاډي اونقلیه وسایط یې ویجاړکړې ،دتیلوزخیرې اودوسلوزیرمې یې داورخوراک کړې ،اوپه پای کي مجاهدین دشهادت لوړمقام ته رسیدلي دي . انالله وانا الیه راجعون.

پرښوراب بریدپه داسې زماني مقطع کي ترسره شوچي امارت دانتقام اوپرشهزاده دبریدڅرګند اعلان کړی وُ،بل داچي بریدپرداسې مهم اولوی موقعیت وشوچي دهیوادپه کچه دیرغلګروددیرو مهمو اوخوندي مراکزوڅخه ګڼل کیږي ،اوحیرانونکې داچي ،مجاهدین دیرغلګروهمدې مرکزته دننه ورځي اوددښمن څخه په یوې خورا محفوظه ارامګاه کي سرونه غوڅوي ،سمڅواوکوډلوته یې اوباچوي

همدې برید په تبلیغاتي اورواني لحاظ پردښمن دومره تاثیروکړچي دلیونتوب ترسرحده یې ورساوه ،سروالانواوجنرالانویې داسې ضدونقیض څرګندوني کولې چي ددهني ګډوډی اواضطراب ترجماني یې کوله اوپرعادي پوځیانویې اغیزدومره جوت وُچي ښځینه هغویې حملونه ضایع کړل . دغه رازددښمن هغه ادعاوې یې ردکړې چي ویل یې : مجاهدین یې کمزوری کړي دي .

دلویدیځورسنیودراپورونوله مخې پرښوراب یادشوي برید یرغلګروځواکونوته «200 »ملیونه ډالره زیان اړولی دی. همدا بریدیې په تېرویوولسوکلونوکي بېسارۍ وباله اوپه ډاګه یې کړه چي مجاهدین تراوس هروخت اوس پیاوړي شوي اوپه پراخو سیمو کي خپاره شوي دي .مجاهدینوتردې مخکي هم خورابریالي بریدونه ترسره کړي دي ،لکه پرګرام توغندويي بریداودامریکې دلوی درستیزد الوتکي ویشتنه ،پرصحراباغ هوايي اډه استشهادي عملیات چي د«یوسل اودرې دیرش » تنوپرغلګروعسکرومرګ ژوبله دښمن تائید کړه ،په یوه ورځ په کابل ،لوګر،ننګرهاراوپکتیاکي دیرغلګرواو کابل رژیم پرپوځي او استخباراتي مرکزونودله ییزاستشهادي موفق عملیات چي له امله یې دمجاهدینوقوت اودنیوالګروځواکونواو ګوډاګي رژیم پوځي ناوسي اواستخباراتي کمزوري نړیوالوته په ډاګه شوه .

اسلامي امارت دتېرپه شان په دې بریدسره هم ثابته کړه چي څه وايي په عمل کي یې پلي کوي . دهغوپه خبرنه دی چي مکرروسوګندونو اواخطارونوته په واقعي دنیاکي نمونه نشي پیداکولای ،دبېلګې په توګه دکابل اداري مشرکرزی یادولای شوچي په تېرولسوکلونوکي دکړو ژمنواوڅرګندونوعملي مثال هم نه شي وړاندې کولای ،دبن ،شیکاګو،توکیواو ..... کنفرانسونوکي یې ژمنې وکړې چي په خپله اداره کي به پراخ اصلاحات راولي ،فساد به ختموي ،مخدرات به بندوي ،کاربه اهل کارته سپاري اودتوپکسالارۍ تغربه تولوي خوواقعیت داچي دیورته یادوشووفسادونو نه یوازي مخنیوی ونه شو،بلکي ترولسمشرۍ مانۍ اودولسمشر! !ترکورني پورې یې سرایت وکړ.

پرښوراب اوترې مخکي پرصحراباغ اوبګرام دمجاهدینو بریدونو د دښمن پوځي اواستخباراتي ورتیاوې ونګولې ،ځکه همدې کامیابوبریدنواوپه نښه شوواهدافویې وښودل چي مجاهدین که په هروخت اوځای کي وغواړي دښمن تکولای اوپرکونډوکولای شي

هو! علم زموږ میراث دی!!

مفتي ابو سجاد

جهالت دعربی ژبې مونث لفظ دی، معنی یې: بې علمي، بیوقوفي، اوبې رحمي ده، که د دغو معانیو په رڼا کې ددې لفظ سراغ وکېښل شي، جوته به شي چې: په اصل کې جهالت څه دی؟ ایا یواځې له پرمختګ، دکایناتو د تسخیر، دپخوانیو اواوسنیوعلومونه انکار جهالت دی؟ یایواځې هغه انکار دی چې په سبب یې دقریشویوه تن سردار " ابوجهل " شهرت موندلی و؟ یاهغه انکار دی چې په کولو یې نمرود دیوه ډېر کمزوري اوحقیر مخلوق (ماشي) په لاس دعبرت نمونه ګرځېدلی؟ اوکه هغه انکار چې فرعون یې دنیل دریاب په څپو کې غرق کړ؟ یا هغه انکار چې په سبب یې دنوح (علیه السلام) په قوم توپان راغی؟ اوکه محضې دهغې ناپوهۍ نوم دی چې په سبب یې انسان تراوږدې زمانې په سوړو اوغارونو کې ژوندکولوته اړو، چې ددنیا له ټولو خوندونو اوعطروړینو خوشبوګانو له احساس یې لیرې کړی و؟ که محضې د هغه ظلم اوجبرنوم دی چې یوانسان بل انسان خپل سیال او رقیب وګڼي او پرې دژوند کړی راتنګه کړي، دهغه انساني، اوفطري ازادي سلب کړي؟ اوکه جهالت هغه دی چې دغیرفطري عمل نه دلاس نه اخیستوپه سر دلوط (علیه السلام) قوم دټول بشریت لپاره نمونه اوعبرت ګرځول شوی؟

ایا بې رحمي یواځې په اور کې دابراهیم (علیه السلام) ترغورځولو پورې محدود ده؟ کنه هغه هم ده چې دطائف اومکې په کوڅو کې اوس هم هغه نښې نښاني شته چې پکې به خلکو ژوندی لوڼې خښولې؟ ایا دچنګیز اوهلاکو ظلمونه دبې رحمۍ وروستۍ کړۍ وه؟ یقیناً داټول دبشري تاریخ دپند اوعبرت څخه ډک دردونکي یادګارونه دي؟ خودجهالت دایره یواځې تردومره پورې نه غځېدلې، جهالت دنوې سائنسي دنیا انسان هم پخپلو خونړیو مونګلو کې نیولی اولګیادی تنابونه یې نورهم راښکاږي!

که موږ لږ دژور لړلید نه کار واخلو اوپخپل چاپیریال لږ نظر واچوو او دیوه دړنګ لپاره دسائنس حیرانوونکي پرمختګونه دخپل ذهن ورشوګانو ته راولونو جوته ده چې اوس دنیا په یوه سیمه کې محدود اوبدله شوې، ددنیا په یوه کونج کې ناست تن په بل کونج کې له ناست سړي سره نه یواځې خواله کوي بلکې دهغه عکس اوحرکتونه هم پخپلو سترګو سره وینې دټیلي کانفرانسک له لارې دغو هیوادونوله خلکو سره داسې خواله کېدای شي لکه په یوه ګډ مجلس کې ناست خلک چې د یوه بل سره خبرې کوي، دیوه بل سوالونو اوځوابونو غوږ وي، په دې تو که دهغوئ ترمنځ ژړګونو میله لرېوالی لنډیږي؟ هم داسې دصنعت اوحرفت په ډګرو کې دتیزو اوپراخو بدلونو په وجه دانسان ذهن، اوفکر دنویوپراختیاوو سره بلدتیا اواشنائي مومي؟

انسان دالله (جل جلاله) له لوري دوړکړل شوي علم په ځواک نه یوازې دځمکې لاندې دپټو خزانو په موندلو اوتلاش کې بریالیتوبونه ترلاسه کړي اودسمندرونوپه څیرلو سره دنویو جهانونو تسخیر ممکنوي، بلکې په ستورو باندې هم په پراو غورځولو سره دهغو حقیقي انځورونه اخلي، پخوانی نه بلکې اوسنی تازه خبره ده امریکایې سائنس پوهانویوداسی روبوټ ترسیاړو پورې رسولی دی، چې هغه هلته داسې عکسونه اخیستي دي چې په لیدو یې سړی دحیرانتیاوو په سمندر لاهو شي! چین هم یوداسې روبوټ جوړ کړیدی چې هغه ددماغو په اشارو فعالیت پیلوي، دانسان دړېې، لاس اوسترګو ښورولونه اړتیانلري بلکې یواځې ددماغو په اشارو کار کوي، اوخپله ټاکلې وظیفه پخپله سرته رسوي.

دلته دسائنس دځونویو ایجاداتو نومونه یاد شول، ددې څېړنو دجوړولولرښاه دعلم، وقوف، اوړحم جذبه کارې رول لري، او انسان

دخپل علم اووقوف په اساس پخپله شاوخوا کې خوا٫ه وا٫ه مشکلات هرڅوک يې خلاصولی نشي ، هغه قومونه چې دايجاداتو په

اومصايب پيژندلي اوبيا يې له هغوڅخه دنجات موندلو لا٫ي چا٫ي
پيدا کړي ، پخواه چا دا فکر نه کاو چې د٫٫ګونو ميلو سفربه دوه
ساعتونوله ٫اشي ، و٫اندي پواخې دجام جمشيد کېسې کېدي ، اوس
انټرنيټ دعجوباتو جال خو٫دی، پخواه به کال کې يو وا٫ فصل کېده
اوس په يوه کال کې څو فصلونه کېږي ، و٫اندي د٫٫اعت اوکرهني

غرض اومنشاء نه پوهيږي او په استعمال يې لاس پو٫ي کړي ،
هغوئ ددي په ځای چې ګټه وکړي ، سرچپه به منفي اغيز پرې
وکړي، په دي لړ کې ګڼ مثالونه و٫اندي کېدای شي، جهالت پواخې
ديته نه ويل کېږي چې يوڅوک بښوونځي اومد٫سې ته نه وي لا٫،
بلکې پخپل ځان ظلم کول هم جهالت دی ، دنو٫وسره ظالمانه

دخو٫بولو لپا٫ه پوا٫ي با٫ان ته انتظا٫ ايستل کېده اوس د٫مکې دسيني٫ويه کول هم جهالت دی ، په ځان دظلم کولو مطلب دادی چې
په څيړلو داوبو موندلو داسې نوي لا٫ې کشف شوي چې هروخت په اسانخپل ځان دهغو حدودونه بيرون کړي کوم چې الله (ﷻ)

اوبه ايستل کېدای شي پخوا دعلاج اود٫ملني په برخه کې انسانان
دډيرو پېچلو ستونزو سره مخ ول اوس په طب کې دومره اسانتياوي
٫امنځته شوي چې آن ديوه ٫٫ه په ځای دبل ٫٫ه لګولو خبرې او٫و!
پوښتو٫ګی چې له کا٫ه ولويږي په ځای يې بل پوښتو٫ګی اچول کېږي
هم داسې دبدن هغوکې چې له کا٫ه ولويږي هغه ايستل کېږي په ځای يې
بل هغوکی ايښودل کېږي ، ديوي سترګې په ځای بله ايښودل کېدای شي
، پخوا داسې مثالونه ډيرکم و، ولې انسانانو دکايناتو دتسخيرولو په
لو٫ګام نه وپو٫ته کړی، چې دومره برياوي يې تر لاسه کړي وای، څومره
يې چې تن کړيدي، خوداهرڅه انسان دعلم ، وقوف او٫حم په جذبه
موندلي هرکله چې انسان ته الله (ﷻ) علم الاشياء وښبه
، نوهغه دځا ن پشان دنو٫وانسانانو دمشکلاتو ، ستونزو او ومصايبو
د٫د حس کړ ، ددي لپا٫ه هغه دخپلو ايجاداتو علم ترنو٫و پو٫ې عام
کړ، د٫حم په جذبه تخليق کوونکوانسانانو خپل تخليقات نو٫و
انسانانوته و٫سول ، دکينسر ، نري ٫نځ ، ګو٫ن ، فالج، شوګر
اونو٫ونا٫وغيو لپا٫ه د٫مل جو٫ونکو اود٫مل کشفوونکو هرچاته
خپل انکشافات عام کړل ، اوپه دي سره يې خپله ٫حم دلي ثابته
کړه ، که تخليق کوونکی تن داسې مړوای نوو٫سره دهغه تخليق
اوعلم به هم فناشوی و، داچې تخليق کوونکوخپل علوم نو٫و ته
وسپا٫ل په دي سره يې له انسانيت سره لويه ښېګڼه او پرې لو٫ينه
کړې ده چې دادمهرابانی اوعاطفي ښه بېلګه ده.

تن نړۍ کې قومونه دنوي عصر دساينسي ايجاداتو لړ کې يوه
بل ته محتاج دي ، اوددي ترشا دهغوئ دجهالت لاس دی ، هغه
جهالت چې ددوئ دماغونه يې داسې قلفونه اچولي ، چې

اودهغه ٫سول (ﷺ) تعين کړيدي ، بې له شکه دکايناتو دتسخير
په لو٫ تلل دجهالت مخنيوی دی ، او جهالت پوا٫ي دمادي
پرمختاووپه و٫اندي خنډنه بلکې دانسان ٫وحاني ٫ونډ هم تريخوي.

دجهالت پيژندلو اودهغه دمعلومولولپا٫ه کومه خاصه
پيمانه نشته ، بلکې هغه په هره ٫مانه کې ځان پخپله څرګندوي ،
دترقی مطلب هيڅکله دادی چې انسان دې په ستو٫و پړاو
وغو٫ځوي بلکې دترقی سهي مطلب دادی چې يو انسان دې نړۍ
کې پخپل انسانيت شهادت و٫کړي ؟ چې ايا هغه دهغه علم چې
دالله (ﷻ) له لو٫ي و٫کړل شوی دهغه حق پو٫ه کوي که دخپل
جهالت په وجه دخپلي ترقی د٫وا٫ي تړي.

که انسان دعلم ، وقوف ، او٫حم په وجه په کايناتو کې
مثبت کردا٫ ترسره کړي ، نو باو٫ دی چې دترقی په يون کې به هغه
تل يادوي اوکه دخپل جهالت لا٫ې ونيوه نوبيا نه پوا٫ي داچې
هغه له نو٫وسره دښمني کوي بلکې له خپل ځان سره دښمني کوي
، له دي پلوه ويلی کېدای شي چې جهالت نه پوا٫ي دمادي
پرمختګ په و٫اندي خنډ دی ، بلکې دمضرو اثراتو په وجه د٫وح
